
# نورمحمد تره کی

## یو ریالسټ لیکوال



Ketabton.com

محب ښېراز

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com:

# لیکوال



# محب الله شیراز

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com:

# پي ډي ایف بڼه ته اړونکی



## سخي داد هارون

نیټه : 2022 /06 /14

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

شروع: ۲۵.09.15

# نور محمد تره کی
# یو ریالیست لیکوال

محب بنیراز

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



شروع د لوي ذات د نامې نه چې
بخښونکی او مهربانه دے

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول حقونه د لیکوال سره محفوظ دي

دکتاب نوم: نورمحمدتره کی یو ریالیستې لیکوال
دلیکوال نوم: محب الله شېراز
د پلار نوم: حاجي محمد شفیق جلال زی
زده کړي: شپاړسم(اقتصادیات او پښتو)ایم فل(پښتو)
دزیږون نېټه: ۰۱-۰۱-۱۹۸۲
دزیږون ځای: سیف الله کلا
کمپوز کونکی: پخپله
خپروندویه ټولنه: پښتانه مترقي لیکوال
چاپ شمېره: زر (۱۰۰۰)
بیعه: دوه نیم سوه ۲۵۰
چاپ کال: اګست ۲۰۲۰
چاپ ځای: کتاب کور پښتون

دموندلو درکونه:

کتاب کور پښتون: 03319801600

تکتو کتاب کور کاسي روډ کوټه

موبایل شمېره 03158859085

پښتو ادبي ټولنه کلا سیف الله
پښتانه مترقي لیکوال.سهېلي پښتونخوا

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ترون

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library




| شُمار | سرلیکونه | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | د محب ښېراز څېړنه او د نورمحمد تره کي مقام | ۸ |
| ۲ | نورمحمدتره کی زما په نظر | ۱۵ |
| ۳ | لومړی باب: د نورمحمد تره کي ژوند، احوال او آثار | |
| ۴ | د نور محمد تره کي قام او قبیله | ۱۹ |
| ۵ | شجره نسب | ۲۰ |
| ۶ | زېږون | ۲۰ |
| ۷ | د لومړني ژوند حالات | ۲۱ |
| ۸ | تعلیم | ۲۹ |
| ۹ | روزګار | ۳۱ |
| ۱۰ | سیاسي هلې ځلې/ویښ زلمیان | ۳۳ |
| ۱۱ | علمي او ادبي خدمات | ۴۲ |
| ۱۲ | د نورمحمد تره کي مړګ/وژنه | ۵۳ |
| ۱۳ | دوېم باب: د نور محمدتره کي د ناولونو موضوعاتي جاج | ۶۲ |


Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۱۴ | د ناولونو تعارف | ۶۲ |
| ۱۵ | د ناولونو سماجي او معاشرتي پس منظر | ۶۷ |
| ۱۶ | په ناولونو کښې د مقامي او سماجي ژوند خد و خال | ۶۹ |
| ۱۷ | د ناولونو سیاسي پس منظر | ۷۳ |
| ۱۸ | په ناولونو کښې د سیاسي نظریې جائزه | ۷۵ |
| ۱۹ | د نورمحمدتره کي په ناولونو کښې طبقاتي نظریه | ۷۹ |
| ۲۰ | د ناول نګار په هیڅ پښتو ادب کښې د نورمحمد تره کي مقام | ۸۲ |
| ۲۱ | دریم باب: د نورمحمد تره کي د ناولونو فني او تېکنیکي مطالعه | ۹۴ |
| ۲۲ | قیصه | ۹۴ |
| ۲۳ | پلاټ | ۱۱۰ |
| ۲۴ | کردارنګاري | ۱۱۹ |
| ۲۵ | د کشن/ژبه | ۱۲۴ |
| ۲۶ | سسپینس/تلوسه | ۱۲۶ |
| ۲۷ | تصادم/واقعه نګاري | ۱۲۸ |


Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | |
|---|---|
| منظرکشي | ۱۳۰ |
| کلائیمېکس/ پای | ۱۳۴ |
| فلسفه حیات | ۱۳۵ |
| څلورم باب : د نورمحمد تره کي افسانه نګاري | ۱۴۰ |
| د نور محمد تره کي د افسانو تعارف | ۱۴۱ |
| د افسانو پس منظر | ۱۶۲ |
| موځي يوه افسانه/لنډه کیسه که ناولېټ | ۱۶۶ |
| د افسانو موضوعات | ۱۷۳ |
| د افسانو فني او تېکنیکي اړخونه | ۱۷۵ |
| د افسانه نګار په حېثيت پښتو ادب کښې د تره کي مقام | ۱۷۷ |
| نتيجه/پایله | |
| پنځم باب : خلاصه او نتيجه | ۱۸۵ |
| کتابیات او ماخذات | ۱۸۹ |


Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د محب الله ښیراز خبره
# او د نور محمد تره کي مقام

پښتانه په پښتنو کي د درو، څلورو کسانو سره ډېره مینه لري یا ډېر نفرت ځیني کوي. په دغو درو، څلورو کسانو کې یو نور محمد تره کی دی چې د افغانستان پخوانی ولس مشراو دخلق ډیموکراتیک ګوند عمومي منشي پاته سوی دی. د نفرت او محبت پیمانې د پښتنو معلومي وي خو زیاتره وخت داسي هم وي چې پښتانه د خپلي ناخبرۍ او سادګۍ له کبله د بل د پروپېګنډې ښکار سي ځکه دا دمحبت او نفرت پیمانه ته هم موږ حتمي رایه په دې نه سو ویلی چې زموږ نفسیات دغه وي چې د اکثریت تابیع یواکثریت د جمهوریت لار ده او موږ په اموخته او آماده یو. لاکن زموږ آمادګۍ او اموخته والي موږ همېشه له مشکلاتو سره مخامخ کړي یو ځکه خبره، بحث، منطق او دلایل له میانه وو ځي نو بیا صحیح فیصله دځان، قام او وطن له پاره کول ګرانه سي. راسئ په دغه پیمانه د پښتنو د نورمحمد تره کي سره د میني او نفرت لاري، کوڅې و پاټو.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتنو د نفرت لومړی پیمانه د ثور انقلاب د راتګ او طریقه کار سره ده؟ زیاتره وایي چې ثور انقلاب کوه دیتا وه ځکه افغاني ټولنه په ذهني او علمي توګه دې ته اماده نه وه .او نه د دې د پاره په لویه کچه دومره کار سوی وو چې د خلکو ذهنونه تیار وائ ، په نورو ثوریو کي دا یو نابالغه انقلاب وو .چې خپلو مشرانو یې بیا یو بل له لاري ایستل،قتل کول یوه مشغله و ګرځېده. او هم د دې انقلاب له وجي افغان وطن له تېرو ځلوینښتو کالو راهیسې د کشت وخون میدان ګرځېدلی دی .په لکاو افغانان له منځه ولاړل، په میلیونو میلیونو افغانان مهاجرت ته اړ سول.او د دوی دریم نسل به حتماً د هغو هېوادو وګړي وګرځي،چیري چې دوی اوس مېشت دي .د افغانستان درې نسله له تعلیم ځخه بې برخي پاته سول .او د جهاد و فساد په دې جنګ کي اوس هم مشغول پاته دي .په زرهاو د ټول عمرد پاره،ګوډ، ړانده،شنډ او اپاهج پاته دي .تعلیم،طب،کښت وکرونده،کلتور،ژبه،ښارونه، معاش تر اوسه په داؤ لګېدلي دي او داسې نور بې شمېره، تپونه،مصیبتونه او غمونه له افغانانو سره صرف په دې وجه تر اوسه پاته دي چې د ثور انقلاب دغلط وخت د انتخاب له

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



قبله وسو.دا تجزیه،څېړنه غوارې،بحثونه غوارې. اوحل لارې غوارې .

بل طرف ته له نور محمد تره کي سره مینه لرونکي دا دلیل وړاندې کوي چې افغانستان د سود او رشوت له قبله د کومو حالاتو سره مخامخ ووهغه ټول هېواد و سخت ترینو حالاتو ته ور شکېل کړی وو.طبقاتي توپیر دومره زور او عام سوی وو چې د غریب او امیر د مقام هیڅ ټاکنه کېدلی نه سوه . د غریب،عزت،دولت او د سر د تحفظ د هیچا سره نه وو. د امیر لاس چا رانیولی نه سود کروندګر او مزدور ټول حقوق پایماله وو.د ښځو حق تر پښو لاندې کېدی د ماشومانو د لیک لوست هیڅ انتظام نه وو. د بادشاهت منګولي نیمي پېړۍ ته رسېدونکي وې .د پر مختګ او خوشحالۍ هیڅ آثار نه ښکاره کېدل .ځکه په داسي حالاتو کي بدلون او انقلاب د ټولني ضرورت وي او نور محمد تره کي د خپل قلم ، همت ، سیاسي تدبر او تذبیر له لارې دې انقلاب ته لار جوړه کړه .د ده نیت صفااو منزل معلوم وو لاکن نړۍ وال سامراج ،رجعتي عناصرو او فیوډالي نظام،د ده او د ملګرو انقلاب ته خنډونه جوړ کړل .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دویمه تجزیه هم د لومړۍ په څېر څېړنه او شننه غواړي خو د
پښتنو بدبختي دا ده چې هغه په متنازعه شي نه خبره کوي
او نه لیک .موږ به هله د ښه او بد په تمیز پوهېږو چې هغه شی
په غیرجانبداره توګه وشنو.و پلټو او بیا په دلیل اومنطق
یوې پایلې ته ورسېږو.هم دغه جرات زموږ د نوي کهول زیرک
لیکوال ښاغلي محب الله ښېراز تر دې هانده کړی دی چې د
ښاغلي نور محمد تره کي علمي او ادبي آثار یې د خپل ایم فل
د مقالې عنوان ,,په پښتو افسانوي ادب کښې د نورمحمد تره
کي کردار،، ګرځولی دی.
لوستونکي پوهېږي چې د علمي او مسلکي ډګرۍ لپاره
لیکوال د څومره کړاونو تېریږي او تر دې هانده پوري چې
هغه په خلاص مټ قلم او آزاده فضا کې د فکر نیلی نسي
زغلولی ځکه به موږ دلته هم د لیکوال دا مجبوري مخته
ایږدو. لاکن د دې سربېره ښاغلي ښېراز د نور محمد تره کي د
علمي او ادبي آثارو په څنګ کي ، د ده د شخصیت،
کورنۍ،علم ولوست،معاش،ژوند او په سیاسي هلو ځلو هم
قلم زغلولی دی او په ډېر دقیق انداز یې دا معلومات زموږ
مخې ته ایښي دي .د تره کي د ټولو معلوم اونامعلوم
ناولونو،افسانو او لیکنو،په اړه څېړنه دښېراز علمي مقام

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوړېږي ,د مسلکي خبرني يوه مجبوري دا هم وي چې هغه
مثبت شيانو ته پاملرنه او لار ورکوي .جايز تنقيد شايد زموږ
ټولنه او په ځانگړي توگه د پوهنتون استاذان اوس هم نه
زغمي دا ته به زه د بد بختۍ علامت و وايم . د دې به يو
وړوکی مثال زه ستاسو مخې ته کښېږدم .
په افغاني ټولنه کي رشوت او سود عام وو .ټولو ملايانو د
ملک او خان په خُله آمين وايه ،دا شی تره کي په ډېر شدت
سره د خپلو ليکنو محور گرځولی دی بل طرف ته د تره کي په
اړه دا خبره هم پټه نه ده چې هغه به خپل هر ملگري ته ويل چې
تا د قرآن شريف مطالعه کړې ده کنه؟ولي که تاسو د خپل
مذهب په اړه ناخبره ياست بيا د خپلو ملايانو سره به څرنگه
بحث او دليل ويلای سئ .اوس که دغه پيمانه مخته
کښېږدونو خبره په خپله په محترم نورمحمد تره کي هم د
ټولوله مخه راځي چي ته په دې حقيقت خبر وې نو تا ولي په
خپلو ليکنوکې د سود او رشوت په خلاف د قرآني آيتونو او د
احاديثو مرسته نه اخيسته . قرآن مجيد د سود خور او رشوت
خور په اړه چي څومره ښکاره احکامات لري ښايي د نړۍ په يو
بل کتاب کي داسي نه وي .په داسي کولو کېدلی سو چې
ښتانه د تره کي په خبره په نور ښه انداز پوهه سوي ول .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هر حال د نور محمد تره کي په پښتو افسانوي ادب کي مقام د لمر په شان تابان دی یو خو د لومړي ناول په لیکلو دا کرېډت بل څوک وړلای نه سي .دویم یونوی صنف په مخ بیول او خپلي ژبي ته پراخوالی یواځي د ده په برخه ګرځي .دریم د ناول ټول فني ځانګړتیاوي لکه پلاټ، کردارونه، مکالمې، سسپینس او پېغام له هر لحاظه يې پښتو ناول ته ترقي ورکړه،خو د ده دناول دوې ځانګړتیاوي ماته په خپله ډېر اپیل کوي . یو د طبقاتي ټولنې په ضد علمي مبارزه او بل دسوچه تورو کارونه انسان چي د یو شي خلاف علمي مبارزه پیل کړي نور د ژوند نور خواږه او تراخه ځیني پاته وي . د تره کي هم دا کمال وو چې د ده هرناول او افسانهِ د ژوند د ناکړدو په خلاف په یوه نه یوه انداز او زاویې د هغه مخنیوی کول وو . ځکه د ده په لیکنو کي د فطرت سره مینه او انساني عشق کم کم لیدل کیږي .نور محمد تره کی دا حق لري چې په سلګونو د ایم فل او د پي ایچ ډي مقالې پر وه لیکل سي .هله به د ده علمي ،ادبي او سیاسي مقام نور رابرسېره سي .چې د ده په اړه هر اړخیځ جاج واخیستل سي .ځکه د ده ډېر لیکونه اوس هم له ټولني پټ دي .

ښاغلی محب الله ښېراز له هر لحاظه د ډاډ وړ دی چې د

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلکي څېړني تر څنګ يې موږ ته د نور محمد تره کي د ډېرو آثارو په حقله تجزيه هم وړاندې کړه .که چيري دی د خپلي پي ايچ ډي مقالې عنوان هم له دې سره اړوند د تره کي په باب کنښېږدي نو کوم اړخونه چي اوس لږ تشنه دي هغه به هم د علم د خزانو را ډک سي .بل د نور محمد تره کي حق به هم لږ پر ځای سي . ولي نور محمد تره کي چي د پښتنو او پښتني ټولني لپاره کوم خوبونه ليدلي ول پښتنو ده ته په هغه درنه سترګه و نه کتل . د ده علمي، ادبي او سياسي مقام دومره اوچت دی چي د ډېرو کمو اتلانو په نصيب کېدای سي

ښاغلي محب الله ښېراز ته پر دې علمي څېړنه تبريکي وړاندې کوم او ټولو پښتنو ته خواست کوم چي دا علمي اثرپه ډېر شوق او ذوق هرمرو ولولي .

نور د وطن د محـــبت ثبوت له کومـه راوړم
خلګو رامبېيل لټول مايې ښکلولې خاوري

ډاکټر لياقت تابان
اتوار ۲م د اکتوبر ۲۰۱۹ .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نورمحمد تره کی زما په نظر

رښتیا خبره ده چې د یوه لیکوال یا سیاسي شخصیت سره ترون د هغه شخصیت ،فن ،علمیت او سپېڅلتیا ښکاره کوي او دهغه په شخصیت کې ډېر داسي خصلتونه شتون لري چې یو څوک د هغه له مبارزې،عمل،علمي کار،سیاست،ادبي خدمات او د هغه له سپېڅلتیا څخه اغېزمن شوی وي او ورسره خوږ ترون ولري .
زه دا نه وایم چې ګوا کې زه د نور محمد تره کي په فن او ژوند بشپړ پوهنه لرم یا دومره استعداد لرم چې د هغه پر علم او فن باندې دي تنقیدي خېړنه وکړم خو زه د نورمحمد تره کي له ژونداو فن سره هغه وخت اشناشوم چې کله زما د سکول یا لیسې استاد شېرزمان زیارمل صاحب راته د نور محمد تره کي ناول ,,دبنګ مسافرې،، د مطالعه کولو د پاره راکړ غالباً دا به په ۲۰۰۰م کال شاوخوا کې وو چې دغه ناول ما مطالعه کړ او زه ورڅنې اغېزمن

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوم او دې ناول په ماکښې فکري خوځښت پیدا کړ او زه ٔ یې وه هڅلوم چې زه ٔ د نور محمد تره کي فن، سیاست او ژوند ټول ولولم او ځان ترې خبر کړم . د نور محمدتره کي په اړه چې ما څومره مطالعه کړې ده په هغه کښې څو داسې عناصرو شتون درلود چې ما زیات اغېزمن کړي .

زه ٔ هم دغو څو شیانو زیات اغېزمن کړم چې د نور محمدتره کي په شخصیت کې موجود ؤ لکه د نور محمدتره کي له ماشوموالي د یوې کونډې په کور کښې مزدوري او ورسره زدکړې روانې ساتل.بیا په هم دغه کم عمر کښې تره کی د مسافرۍ ژوند کوي هم زدکړې او دغه فکري اثر پکښې لا هڅاندې پاتېږي او تره کی د هندوستان پر خوا په مزدوریو پسې ځې خو خپل فکري خوځښت ورځ تر بلې ځلاند ساتي. یعنې د مزدورۍ په وخت کښې یې لا هم سیاسي هلې ځلې روانې ساتلې دي .

ده یو سنجیده سیاسي ،ادبي او ټولنیز شخصیت درلود چې په هره مبارزه کښې بریالی کېدو او ورسره د ده ٔ د مشرتابه خصلوته چې په افغان رنګه سخته ټولنه کښې یې انقلاب ته زمینه برابروله .دا د نورمحمد تره کي دشخصیت کمال وو چې ده ٔ خپلې زدکړې اومزدورۍ کولې خو په اړخ کښې یې ورسره خپل فکري بنسټ هم برقرار او ژوندی ساتلی وی او دا یې بیا بل کمال وی چې دغه فکري بنسټ یې د افغان ټولنې د نوي سهار د راوستلو د پاره په کارولی وو، یعني له ۱۹۴۷-۴۶م کلونو د ویښ زلمیان نومې ادبي او علمي تنظیم څخه بیا تر ۱۹۶۵م کال خلق ډیموکراتیک ګوند افغانستان بنسټ ایښودو پوري او بیا تر خلقي انقلاب پوري د

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور محمد تره کي ژوند ټوله يوه بشپړ منظمه مبارزه ده چې يوه بشپړ د ده د شخصيت سپېڅلتيا ښکاره کوي . د ده، ټول ژوند يو منظم ادبي. سياسي. علمي اوعملي شخصيت راپه ګوته کوي .

زه په خپل ژوند کې څو شخصيتونو زيات متاثر کړی يم چې په له هغو څخه د بېلابېلو عواملو پر بنياد اغېزمن شوی يم يعني زه د يو مصلح (اصلاح کونکي) او ټولنيز شعور خورنوکي مبارز باچاخان. ديوه انقلابي مشر نورمحمد تره کي، د يوه پاچا په حيث شهيد ډاکټر نجيب او د يوه لوستونکي د سازمان مشر په حيث د شهيد عبدالرحمان ايسوټ له مبارزې څخه زيات متاثر پاتې شوی يم . زه به کوشش کوم چې هم داسې مبارزين هر وخت په ياد ولرم او و خپل ځپلي ولس ته د خپل قلم له لارې يې ورته په تاريخ کښې ثبت کړم . که وخت وفا وکړه .

زما يو دا خواهش هم وو چې زه په خپل ژوند کښې خپل ليکلي آثار د کتاب په شکل کښې وه وينم او داسې څه وليکم چې زموږ ولس ترې سالمه ګټه تر لاسه کړي . هغه خواهش مې دا دی تر يو حده پوره دی او دغه څېړنيز کتاب ستاسو حضور ته وړاندې کوم . ستاسو درنو نقادانو د نظر په هيله چې زما د کتاب هم جاج واخيستل شي تر څو دا ځانته معلوم کړم چې زما دغه فن څومره په ټول پوره دی . زه غواړم د هغو ټولو ملګرو زښته مننه وکړم کوم چا چې زه هڅولی يم چې په ليکوالۍ لاس پورې کړم او کوم چا چې په دې کار کښې مينه او حوصله راکړېده کوم چاچې له ما څخه د يوه، ليکوال توقع کړې ده . کوم چا چې په دې لار کښې راته لارښوونه کړې ده .کوم چا چې زما د لابرياليتوب هيله ساتلې ده. زه په نامه،

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نامه، تول ملګري ځکه نه، یادوم چې څوک به رانه په هېره پاتې شي . زه، ډېره مننه د هغه چاکوم ،کوم چا چې زما پر فن او لیک تنقید کړی دی او د تنقید له لارې یې راته زدکړه راکړې ده او زما تخلیق یې لا پیاوړی کړی دی .ولې چې زما دا ایمان او یقین لرم چې تنقید د تخلیق ښکلا ده .

په درنښت او انساني مینه

ستاسو کشر

محب الله ښېراز

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورومبی باب

## ۱.۱. د نور محمد تره کي قام او قبیله:

نورمحمد تره کی د پښتنو له يوې مشهورې قبيلې شبي خېل تره کي سره تعلق لري . تره کي قبیله بیا په سر کښې له خلجي (غلځي) سره تړون لري. د تره کي قبیلې اوسېدونکي په بنيادي توګه د غرج يا غور د سيمې ځايي خلق دي . د نور محمد تره کي قبیله په بنيادي توګه يوه کوچيانه او پونده قبيله وه او په ځانګړې توګه د دوئ خپله کورنۍ يوه کروندګره . مالداره کورنۍ وه خو کله کله بې کوچيانه ژوند هم درلود . چې د افغانستان له مقر اولسوالۍ سره يې تړون درلود . دوئ خو اکثر ژوند کروندګرې يا په پوندګۍ کښې تېر کړی دی البته د ژوند د پرمختګ په لټه کښې يې د ښاروالۍ ژوند هم تېر کړی دی . نورمحمدتره کي په خپله د پلار له خوا د ژوند د جوړولو او د پرمختګ له پاره هيڅ نۀ درلودل خو پلار يې که هر څو کروندګر او کوچيانه ژوند کاوه خو دا خواهش يې درلود چې زوی يې د ژوند په لارو کښې د هستۍ او خوشحالۍ ژوند تر لاسه کړي . البته د نورمحمد تره کي يو اکا ؤ چې هغۀ څۀ مالداري درلوده خو نورمحمد تره کي په خپله خپل ژوند د پر مخ بېولو د پاره هلې ځلې زياتې کړې دي او د پلار مرسته يې هم تر لاسه کړې ده او هڅه يې کړې ده چې نورمحمد تره کي خپل ژوند د يوۀ باسواده انسان په توګه ولري .

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نورمحمد ترکي قبیله له غلځي په هغه خوا بیا د پښتنو له یوې بل لوئ ښاخ غورغښت سره تعلق لري او په دې منځ کښې بې نور قبیلوي تړون په تیارو کښې پروت دی . او تر اوسه چا د شجرې پر بنا یقیني پرمختګ نهٔ دی کړی .

## ۱.۲ . شجره نسب:

ټول خبرونکي اومحققین په دې نظر دي چې د نور محمدتره کي نوم نورمحمد ؤ او "د پلار نوم یې نظر محمد ؤ"(۱)

او د اکا نوم یې "امیرالملک ؤ"(۲).

او یو ورور چې تر دهٔ مشر ؤ نوم یې سلطان محمد ؤ هم شته. او د کورودانې نوم یې تاج بي بي ؤ چې دهٔ به تاجی بلله په قوم افغان. پښتون ؤ اود تره کي نومې قبیلې له شبیخېل نومې پښې سره یې تړون درلود.

نور یې نو د شجرې په حقله هم زیات معلومات څکه نهٔ شته چې د دوئ کورنی یوه کروندګره او کوچیانه کورنی وه چې د شجرې پل یې پر مخ وړل ستونځمن کار دی نو څکه مونږ به یې په هم دې باندې د شجرې لړی را لنډه کړو.

## ۱.۳ ..زېږون:

د نور محمد ترکي زېږېدنه د ناوې (ناوه چې په هغه وخت یو کلی ؤ او په ۲۰۰۲م کال کښې ناوه کلی هم په اولسوالی بدل شوی دی چې اوس بشپړه اولسوالی ده) په اولسوالی کښې شوې ده:

"په سره کلي"(۳).

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مقر اولسوالۍ او غزني ولایت افغانستان کښې د نظر محمد تره کي په کور کښې زېږېدلی دی.

د کال ۱۲۹۶م هـ ش کښې د سرطان د میاشتې پر ۲۳م نېټه (۴)، چې د (۱۵م جولایي ۱۹۱۷م عیسوي کال) سره سمون خوري د زېږون ورځ ده. او مورنی وطن یا خاوره یې افغانستان دی.

## ۱.۴. د لومړني ژوند حالات:

نور محمد تره کی په بنیادي توګه په یوه غریبه کروندګره او کوچیانه کورنۍ کښې زېږېدلی دی او د ژوند په لومړي سر کښې یې ډېر سترې او له خوارۍ ډک وختونه لیدلي دي او ان دا چې د فطرت د تقاضو برخلاف یې د ژوند پیل کړی دی یعنې ایله په پینځه کلنۍ عمر کښې یې د یوې کونډې مېرمنې په کور کښې د مزدورۍ ژوند پیل کړی دی چې په یو وخت کښې به یې هم د هغې کونډې ښځې د کور کارونه ورکول او هم به یې شپنې (مال پوول) کوله. له دې سره سره به یې له خپل پلار سره هم په کاروکولو کښې مرسته کوله. خو پلار که یې څهٔ هم په خپله نالوستې او بې سواد ؤ خو غوښتل یې چې زوی یې د ښهٔ لوستې یا د هستمن ژوند خاوند شي نوهم دا ؤ چې د پلار په خوښه یې په لومړي وار د مقر اولسوالۍ په اول ښوونځي کښې داخل کړل شو چې په هم دغه ښوونځي کښې یې خپلې بنیادي زدکړې تر لاسه کړې نورمحمد تره کي چې کله دلته په خپل کلي کښې لومړۍ زدکړې تر سره کړې نو له هغه پس یې هڅه وکړه چې د خپل کور د بنیادي معیشت د برابرولو د پاره کوم چرې د کار زمینه هم برابره کړي تر څو د کور معاشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستونځه د حل د پاره کار وکړي. خو څۀ داسي کار بې بیا هم نۀ کړ تر لاسه البته د نورمحمد تره کي د پلار نظر محمد تره کي ورور امیرالملک تره کي چې څۀ مالداري یې درلوده او څۀ تجارت یې هم کولو او دلته په کلیو او شاوخوا کښې له مالدارانو او کوچیانو څخه وړې د تجارانو د پاره اخیستلې او د وړیو نور محصولات رانیول او بیا به یې هغه کندهار ته ور استول چې په کندهار کښې یې د یوۀ شرکت سره اړیکې درلودلې او هم د هغه له لارې به یې ثمرقند او بخاراته تجارت کاوه. د هم دغو اړیکو په سوب باندې د نورمحمد ترکي پلار وکړای شول چې د نورمحمد د پاره د کار یوه تربته و نیسي. خو د شفاهي ماخذ له مخې داسې وئیل کېږي چې نورمحمد ترکي په هغه کوچني والي کښې دلته د بلوچستان ایالت په پښین ښار (چې هغه وخت د برتانوي هند برخه ؤ) کښې هم اوسېدلی دی او هلته یې لومړي ښونځي هم وئیلي دي. په دې اړه باندې د پښتو نوموړي لیکوال نعیم ازاد دا شفاهي ماخذ څۀ داسې بیانوي:

"نور محمد تره کي په ۱۹۲۷م عیسوي کښې په شنغرۍ نومې کلي کښې څۀ موده لومړی ښونځی وئیلی دی چې د دریم. څلورم ټولګي زدکړې یې په کښې کړې دي او هم دلته یې د خور په کور کښې ژوند کاوۀ،،

ددې شفاهي خبرې د سپیناوي د پاره یوه بله مستنده حواله را اخلو چې داسې په کښې لیکلي دي:

"به اساس گفته های برادر بزرگ تره کي مرحوم سلطان محمد تره کي انها در شهر کویته که در انزمان یک کشور جداگانه تحت

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


الحمایه بریتانیا بود به کار های شاقه برائی امرار حیات و ادامه تحصیل برداختند. زمانی هم برادر بزرگ شان برائی مدت معین جهت امرار حیات بحیث کارگر ماهر و باسواد خرید و فروش میشد در همین ایام نورمحمد تره کي پدر خویش را در زلزله مشهور کوئته که بتاریخ ۳۱مئ ۱۹۳۵ بوقوع پیوست ازدست داد. در زمان مرگ پدر، تره کي در شرکت تجارتي پښتون مصروف کار بود"(۵)

ژباړه (د نورمحمد تره کي مشر ورورسلطان محمد تره کي د خولې بیان دی چې مونږ د کوټې په ښار کښې چې هغه وخت د برتانیې د واکدارۍ لاندې وه. د پاره د روزګار او تعلیم ژوند کاوۀ. د نورمحمد تره کي مشر ورور چې یو باسواد او هنرمند کس ؤ د یو څۀ وخت د پاره په هم دغه ښار کوټه کښې د تجارتي سامان د خرید او فروخت د پاره اوسېدی. د هغه بیان دی وایي چې په دغه ورځو کښې د کوټې د ۳۱م مئ ۱۹۳۵م کال زلزلې کښې د نورمحمد تره کي پلار مړشوی ؤ او نورمحمد تره کي په پښتون تجارتي کمپنۍ کښې کار کاوۀ)

خو چې پلار یې دلته مړ شو نو دی مجبور شو چې په مزدورۍ پسې ولاړ شي نو ځکه له دې وروسته نورمحمد تره کي په مزدورۍ پسې کندهار ته راغلي او هلته یې له یوه نوموتي سوداګر موسی خان سره تعلق پیدا شو او بیا یې له هم دې لارې د پښتون تجارتي شرکت د رئیس موسي خان په وسیله د هم دغه شرکت د استاځیتوب د پاره د هندوستان بمبۍ ښار ته د کلرک (معاون) په توګه ولېږل شو او په هم دغو شپو کښې د دوئ اکا امیرالملک تره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي د برتانوي هندي سرکار د پاره دا کار کاوه چې د خپل قوم ځوانان به یې هندوستان ته د مزدورۍ د پاره استول او په بدل کښې به یې د خپل دغه کار د حق بدل هم تر لاسه کولو.

"په هم دغه وخت کښې د امیرالملک چې د نور محمد تره کي اکا ؤ د برتانوي هندي حکومت د پاره د ټېکدار په توګه کار کاوۀ او د هغۀ دنده دا وه چې د خپل قوم ځوانان به یې هند ته د سړک جوړولو او دغه ډول د نورو کارونو د پاره استول په بدل کښې به یې حق الذمه ترلاسه کوله" (۲)

نورمحمد تره کي له هند څخه پوره پینځۀ کاله پس خپل هیواد ته راستون شو او هم دلته یې په کابل ښار کښې بېلا بېلې ژورنالستي او د کاتبي په توګه دندې تر سره کول پیل کړل. تر ۱۹۵۲م کال پورې یې په حکومتي ادارو او یا هم په اولسي ادارو کښې خپلې دندې کولې چې:

"په ۱۹۵۲م کال کښې دوېم ځلي د لږ وخت د پاره د باختر خبرې اژانس سره د مدیر په توګه په کار و ګومارل شو" (۷)

له دې څخه وروسته یې خپل یو ذاتي دفتر خلاص کړ چې په کښې بېلا بېلې د اردو، فارسي او انګرېزي ژبو څخه د ژباړې کولو کار به یې کاوه. او اخر یې هم هغه خپل ذاتي پرانستي دفتر په سیاسي هلو ځلو او د مبارزې په دفتر بدل شو او د قوم مخته د یوۀ سیاسي مبارز په توګه و پېژندل شو. له ۱۹۵۲م کال څخه وروسته تر دریو کالو پورې په امریکا کښې د کار په سبب تللی دی او هلته یې هم د ژورنالستي او سفارتي کار د پاره تللی دی په دې اړه یو بل بهرني لیکوال څۀ داسې لیکلي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



"دغه (نورمحمد تره کي) ليکوال د پښتو د تدريساتو د مامور په حيث و ټاکل شو او ورپسې وروسته بيا د باختر خبري اژانس رياست ور په غاړه شو. په ۱۹۵۳م کال کښې دی په امريکا کښې د افغاني سفارت د مطبوعاتي اتاشي په حيث مقرر شو او هلته لاړ او په کال ۱۹۵۵ کښې بېرته افغانستان ته راغلی او په ادبي فعاليت بې شروع وکړه"(۸)

د هم دې پورتني اقتباس په حق کښې يو بل پښتون ليکوال څه داسې ليکي او دا ثابتوي چې نورمحمد تره کی

"په امريکا کښې د پرېس اتاشي پاته شو"(۹)

او هم دلته د دغې دندې د ترسره کېدو په سلسله کښې يو بل انکشاف هم داسې شوی دی چې نور محمد امريکا ته تر تګ له مخه د داود خان د دولت سره د ښو اړيکو پر بنياد لېږدول شوی دی. ولې چې نور محمد تره کی د ,,ويښ زلميانو،، يو فعال او تکړه غړی ؤ خو په دې وختونو کښې نور محمد تره کي او عبدالروف بېنوا ته د داودي دولت له خوا د دې کار پېشکش وشو چې تاسو د ويښ زلميانو څخه لاس واخلئ مونږ به د دولت له خوا تاسو ته کار درکړو او بهر ته به مو ولېږو نو هغه ؤ چې دوئ دغه پېشکش قبول کړ او د ويښ زلميانو له خوا ورباندې د بې وفايي او خيانت تور ولګېدو. خو په اصل کښې دغه د خيانت نهٔ ؤ بلکې په دې کښې د دوئ خپله فکري يا نظرياتي مجبوري وه چې دوئ به د ويښ زلميانوله ډلې څخه وتل او خپل د مارکسست او شوشلست نظريې د پاره بې سياسي کار خپل کړی ؤ. نو ځکه دوئ ته دا چانس د دولت له لورې او د يوې اسانتيا په توګه تر لاسه شو او دوئ د دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چانس له لاري بهر ته هم ځان ورساوهٔ او هلته ورته د خپل فکر او نظر د پاره د کار پیلولو موقع هم تر لاسه شوه خو د دولت سره د وفادارۍ هیڅ قسم تور وربانديې نهٔ دی ثابت شوی ولې چې هم دغه دولت په وروستو کښې ببیا نور محمد تره کی او ملگري یې د دولت په خلاف د سیاسي هلو ځلو په بنیاد جیلونو ته واچول. خو د دوئ د دې کار په بدل کښې د ویښ زلمیانو نورو پاتې ملګرو داپرېکړه وکړه چې دوئ یې د ویښ زلمیانو له ډلې وایستل. په دې اړه محمد عالم بڅرکی چې د ویښ زلمیان په نامهٔ په کتاب کښې د غلام محي الدین زرمه وال "د ویښ زلمیانو جمعیت" تر سرلیك لاندې لیکلي لیك کښې داسې راوړي.

"دولت چې د ویښ زلمیانو پرمختنګ وار خطا کړی ؤ او نهٔ یې غوښتل چې د ملت د حقوقو د غصبېدو څخه خپلې منګولې و کاږي. نو یې لومړی کوشش وکړچې د ویښ زلمیانو د تحریك ځنو خلقو ته د استعانت او امتیاز لاس ور اوږد کړي. تر ټولو لومړی نور محمد تره کي او ببنوا د حکومت دا لاس ور مچ کړ او ملي حقوقو ته یې شا وروګرځوله دواړو په دواړو لاسو د سیاست څخه خپله "توبه نامه" او هم د ویښ زلمیانو د جمعیت څخه د استعفا کولو په صورت کښې حکومت ته ورکړه" (۱۰)

نورمحمد تره کی شپږ میاشتې وروسته له امریکا څخه د حکومت له خوا په داسې حال کښې راوغوښتل شو چې هلته په امریکا کښې د یوه مطبوعاتي کانفرنس کولو سره یې د افغانستان ټول سیاسي حالت په ځانګړې توګه د حکومت هغه د اولس ضد کارونه په ګوته کړل د دې کانفرانس له وجې نورمحمد تره کی په

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړیواله کچه مشهور شو او په نړیوالو مطبوعاتو کښې یې دا کنفرانس په ښه توګه خپور شو او ورسره د دهٔ عکسونه هم خپارهٔ شول چې په داسې کار سره د داودي دولت ته یوه لویه ستونځه پېښه شوه. نو نور محمد تره کی یې هلته په امریکا کښې د ماموریت له دندې څخه ګوښه کړ او وطن ته یې راوغوښتلو. نور محمد تره کی چې کله هم بېرته خپل هیواد ته راغلو نو خپل کورته ترتګ له مخه یې و داود ته ټېلیفون وکړ او ورته یې ووئیل چې

"زه نورمحمد تره کی یم هم دا اوس را ورسېدم کورته ولاړ شم که زندان ته؟ داود ورته و وئیل چې کورته ولاړ شه بیا به دې راوغوارم"(۱۱)

خو د دغه ټېلیفون په حقله یو بل لیکوال چې د ویښ زلمیانو یو فعال ملګری ؤ. محمد علم بخرکی په دې اړه داسې بیان کوي:

"چې دی (نورمحمد تره کي)کابل ته راورسېدهٔ. نو تر ټولو د مخه د "کابل سینما" ته ورغی او له هغه ځایه څخه یې ښاغلي عبدالروف بېنوا ته ټېلیفون وکړ چې "زهٔ خو دا یم راغلم. نهٔ یم خبر چې کورته ولاړ شم که بندیخانې ته؟" بېنوا صاحب موضوع د غلام حسن خان صافي سره مطرح کړه او د دوئ په توسط دا مسئله د سردار تر غوږو تېره شوه او هغه یې و بخښنه بندي نهٔ شو، خو له کاره یې برطرفه کړ"(۱۲).

دلته له هم دغې ورځې څخه نورمحمدتره کی د حکومت له خوا د دولت په ضد کارونو باندې تورن ؤ اود پټو دولتي ادارو او پولیسو له خوا یې شالوزې کېدهٔ او کله کله خو به وربانديې زیات فشارونه د سیاسي هلو ځلو له کبله اچول کېدل خو دهٔ خپلې ذاتي

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرګرمیانې کولې چې دا کارېې د بېلا بېلو لیکنو او ترجمو په شکل کښې کاوۀ او دا کار یې په ځانګړې توګه خپل سیاسي فکر او نظر ته کولو. د دې ټولو ستونځو سلسله لا نۀ وه ختمه چې نورمحمدتره کي په کابل کښې خپل یو دارالترجمه پرانستلو چې: "نور دارالترجمه" په نامۀ یې په کار پیل کړو او له دې لارې یې خپلې سیاسي هلې ځلې لا نورې پیاوړې کړلې او د مختلفو مضامینو چاپول یې پیل کړل چې په اولس کښې د یو سیاسي خبرتیا په حقله د خپل دولت او سرکار بد کارونه او د اولس ضد کارونه روښانه کړي او اولس را وپاروي ان تر دې مهاله چې دغه ذاتي دفتر یې په سیاسي ګوندي دفتر بدلیږي. او په باقاعده ډول یې د سیاسي ګوند له لارې خپلې لا تودې سیاسي مبارزې باندې پیل وکړ او د خپلې سیاسي مبارزې بنیاد یې د اولس په سیاسي توګه روزل ؤ او په اولس کښې یې د سوشلسټ او مارکسسټ نظریاتو د خورولو د پاره سیاسي مبارزه توده وساتله

نور محمدتره کي خپل دغه سیاسي ګوندجوړول هغه وخت پیل کړ چې کله دی تر دې وړاندې د بېلا بېلو سیاسي وزګرانو سره. د اولس په مېلمستونونو کښې به یې سیاسي تاوده بحثونه کول خلق به یې د طبقاتي مبارزې د پاره تیارول په لړه موده کښې نور محمد تره کي دا سیاسي هلې ځلې ډېرې پر مخ بوتلې او د اولس په خوانانو کښې یې ډېر قدر او شهرت تر لاسه کړو او ورسره به یې هر سیاسي کس ته د ملګرتیا لاس ور غځاوه. او ورسره د اخبارونو له لارې به یې د اولس د پاره داسې مضامین خپرول چې هغه به د اولس د زړۀ غږ جوړ شو او اولس به یې په دې یقیني کړ چې دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



استثمار او استعماري قوتونه کار کوي او پر دولت باندې يې اعتماد کمېدل پيل شول. د دې ټولو هلو ځلو په نتيجه کښې دا ؤ چې تره کي او ملګري يې په دې و توانېدل چې يو سياسي ګوند په ښکاره توګه جوړ کړي او د هم هغه له لارې په پراخه توګه سياسي سرګرمياني وکړي. د افغانستان روڼ اندو او ترقي پسندانو انقلابي نظر لرونکيو ځوانانو ځان سره يو کړ او يو انقلابي طبقاتي تحريک وجود پيدا کړ چې يو ليکوال يې داسې بيانوي.

د خلق ډيمو کرېټک ګوند افغانستان په نامهٔ د جنورۍ د مياشتې پر اوله نېټه په ۱۹۶۵م کال باندې د سياسيَ ګوند بنسټ کښېښود،،،(۱۳).

چې دا بنسټيزه غونډه يې د نورمحمدتره کي په کور شېرشاه مېنه کابل کښې تر سره شوه، په دې غونډه کښې ټول ۳۰ کسان راغوښتل شوي ؤ خو ۲۷ کسانو په کښې ګډون درلود او هم دغو کسانو چې ګډون يې درلود په خپل شمول سره د ګوند بنياد کښېښود. کوم درې کسان چې غونډې ته نهٔ وو راغلي هغوئ د قبول وړ عذر سره د راتګ بخښنه غوښتې وه خو ورسره يې دا خبره کړې وه چې مونږ درسره ملګرتيا لرو.

۱۵. تعليم:

نور محمد تره کي په لومړي ځل د مقر اولسوالۍ له لومړي ښوونځي څخه زدکړې تر لاسه کړې دي او بيا يې د لومړي ښوونځي دريم او څلورم ټولګي په پښين شنغري کلي کښې وئيلي دي. په پښين کښې يې هم د مزدورۍ کولو څهٔ شفاهي ثبوتونه شته چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعلیم سره سره یې مزدوري هم کړې ده. خو په لیکلې بڼه د دې خبرې هیڅ ثبوت نهٔ تر لاسه کېږي. له دې وروسته یې هم خپل تعلیم نور پر مخ باندې وئیلی دی خو هغه یې هم په ډېرو سختو حالاتو کښې وئیلی دی ولې چې په یوهٔ وخت کښې به یې مزدوري هم کوله او ورسره به یې تعلیم هم کولو او داؤ چې کله هم د پښتون تجارتي شرکت له خوا د بمبۍ ښار ته د استاځي په توګه د کاتب د دندې له پاره ولاړ او هم هلته به یې د شپې په وخت کښې د تعلیم سره سره د اردو او انګرېزي ژبو زدکړې کولې. نور محمد تره کي د هندوستان په بمبۍ ښارکښې هم د زدکړې او علم د حاصلولو په خاطر ارام نهٔ دی کښېښستلی او هلته په هندوستان کښې یې د شپې د ښوونځي په پرګرامونوکښې حاضر شوی دی. ورسره یې اردو او انګرېزي ژبو په زده کولو پیل کړی دی دلته یو بل لیکوال داسې راوړي:

"موسیٰ خان دی د هند بمبۍ ته ولېږهٔ چې هلته د افغان شرکت یوه څانګه وه. هلته یې د شپې لېسه تر لسم ټولګی پورې ولوسته. له دې سره سره یې څهٔ ناڅهٔ انګلیسي او اردو هم زده کړه" (۱۴).

لکه څنګه چې نورمحمد تره کی یو تکړه او د کار کولو انسان ؤ او د تعلیم تر لاسه کولو سره یې زښته مینه درلوده او په دې ډګر کښې یې ډېرې ښې ګړندۍ هلې ځلې کولې نو په دې و توانېد چې د زدکړو په ډګر کښې یې تر لسم ټولګې پورې خپلې زدکړې بشپړه کړلې:

"په بمبۍ کښې یې خپلې زدکړې تر لسم ټولګې پورې پای ته ورسولې" (۱۵).

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ورسره یې د اردو او انګرېزۍ ژبې هم په ډېره ښه پیمانه زدکړې او په دې لاره کښې یې خورا لویه کامیابي تر لاسه کړې ده او ان دا چې دومره په زړۀ پورې سیواد یې درلود چې د شرکت د چلونکیو او کارکونکیو پام یې ځان ته په جالبه توګه راواړوه هم دا رنګه یې په هند کښې د خپلې دندې او کار په خاطر پینځۀ کاله تېر کړل او وروسته بیا خپل هیواد ته راستون شو.

## ۱.۲. روزګار:

نورمحمد ترکی لکه څنګه چې وړاندې وئیلې شوي دي چې نورمحمد تره کی د پنځو کالو و چې دۀ د خپل کلي د یوې کونډې ښځې په کور کښې د کار او روزګار پیل وکړ او د هغې کونډې په کور کښې به یې د کور کارونه ورکول او د هغۀ کار په بدل کښې به یې خپل اجرت تر لاسه کولو، تر څو هڅه وکړي چې خپل مور او پلار ته د معاش خدمت وکړي. له دې کار سره سم به یې د خپل کور کارونه هم کول. د هم دغه روزګار په سلسه کښې یې وروسته بیا د خپل اکا امیرالملک تره کي په وسیله په پښتون تجارتي شرکت کښې د معاون یا کاتب په توګه د بمبۍ په ښار کښې په کار باندې ګومارل شوی دی او بیا یې د خپلې دندې او کار سره د زښتې مینې او اخلاص پر بنسټ د لوئ اعتماد خاوند شو او ان دا چې د خپل ژوند مکمل پینځۀ کاله یې په هم دغه شرکت کښې د بمبۍ ښار کښې تېر کړل.

پینځۀ کاله پس له هندوستان څخه بېرته راستون شو او په کابل ښار کښې یې د ژوند تېرولو ښه پرېکړه وکړه. او پرله پسې یې

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارونه پیل کړل او هڅه یې وه چې معاشي حالت د ښه جوړولو دپاره ډېر کار اوزیار و باسي.نو په دا ډول په کابل ښار کښې په باقاعده توګه یې د کار کولو تابیا وکړه اوده اقتصاد په وزارت کښې یې کار یې پیل کړ، په دې اړه یو لیکوال داسې لیکلي:

"د عبدالمجید زابلي په ملاتړي سره د اقتصاد په وزارت کښې د "اقتصاد" رسالې د محرز په توګه او بیا ورپسې د کانونو او صنایع په وزارت کښې د کاتب په توګه. ورپسې د دولتي انحصاراتو په شرکت چې په هغه وخت کښې د پترولو او شکرې شرکت په نامهٔ یادېدهٔ، کښې د کار کونکي په توګه مقرر شو". (۱۲)

له دې پس په ۱۹۵۳م کال د افغان حکومت د مطبوعاتي (پریس) څانګې له خوا په افغان سفارتخانه واشنګټن ډي. سي کښې پر کار و ګومارل شو ځکه چې د نور محمد تره کي انګریزي ښه زده وه او هلته یې دافغان سفارتخانې د یوه اهلکار په توګه کار کاوهٔ. خو کله چې شاهي کورنۍ د نورمحمد تره کي په سیاسي اړیکو شکې اوخبرشول نو یې له حکومتي کارونو څخه ځان ګوښه کړ او نورمحمد تره کی بېرته راستون شو کابل ته. نورمحمد تره کي پر دغه بس نهٔ کړه بلکې نور یې هم غوښتل چې د داسې کارته مخه کړي چې په هم هغه لاره کښې د خپل قوم د پاره د لیک لوست ګټه هم ولري او روزګار هم وکړي. له دې سره سم یې د هیواد وتلي شاعر. ادیب اولیکوال او سیاسي شخصیت عبدالروف بېنوا سره اړیکې نیولې دي او هم دا و چې د هغه په مرسته یې خپل ځان و یو داسې ځای ته برابر کړی دی چې د هغه له لارې یې د ژوند روان قسمت هم بدلون موندلی دی او په پر له پسې توګه یې ژورنالزم ته

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخه کړې او د مدیر، مرستیال، رئیس بهرنیو اړیکو مدیر، عمومي مدیر په توګه دندې یې پر له پسې تر سره کولې او اخر یې د پامیر سینما تر څنګ (نور دارالترجمې) په نامهٔ دفتر خلاص کړ او خپل د معاش ذریعه یې ترې برابروله په دې اړه څېړونکي داسې لیکي:

"په ۱۹۴۱م کال یې د هېواد د ډېر مشهوره او پیاوړي لیکوال، تاریخ لیکونکي، او سیاستوال عبدالروف بېنوا په مرسته مطبوعاتو او ژورنالزم ته مخه کړه او د مطبوعاتو د مستقل ریاست د خپرولو د دوېمې څانګې د مدیر په توګه او یو کال وروسته د راډیو افغانستان د پښتو برخې د مرستیال په توګه، ۱۹۴۴کښې د باختر اژانس د مؤسیسې د رئیس په توګه.د فواید عامې د وزارت د قلم مخصوص د مدیر په توګه او دهغه وزارت د بهرنیو اړیکو د مدیرپه توګه او په ۱۹۴۷م کال کښې د پټرولو د ریاست د عمومي مدیر په توګه و ګومارل شواو په ۱۹۵۲م کال کښې یې د لږ وخت له پاره دوېم ځلې د باختر اژانس د عمومي مدیر په توګه دنده ترسره کړله. تر هغه وروسته نورمحمد ترکي د دولتې دندې ځخه ځان ګوښه کړ او د کابل ښار د پامیر سینیما تر څنګ یې د (نوردارالترجمې) په نامهٔ دفتر خلاص کړ"(۱۷).

## ۱.۷ سیاسي هلې ځلې/ویښ زلمیان:

نور محمد تره کی لکه څنګه چې په فطري لحاظ تکړه او نهٔ ستړې کېدونکی کس ؤ او د یو سیاسي مزاج خاوند ؤ. سیاسي مزاج لرونکې انسانان په رښتنې توګه د مبارزې مزاج هم له وخت سره سره ترلاسه کړي. نودلته نورمحمد تره کي د هم دغه خپل جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاسي فطرت او مزاج له وجې دا ؤ چې د مجبورو او بې وزله انسانانو په درد دردېدلی ؤ، ولې چې خپل ژوند يې تر ډېر مهاله ډېر په سختيو او کړاونو کښې راتېر کړی ؤ. نو دا به يې شايد د مزاج او وجدان مجبوري وه چې د ځپلو انسانانو د حق دپاره يې مبارزه هم د فطرت برخه ګرځېدلې وه او د خپل معاشي هلو ځلو سره سره يې خپل سياسي سوچ اوفکر هم د پخلي تر بتېې ايستلې وي يعني چې په هند کښې يې د خپل روزګار سره سره په سياسي زدکړو او هلو ځلو هم پيل کړی ؤ. او روښانه ده چې هم هلته يې دهندوستان د کميونسټ پارټۍ سره سياسي اړيکې نيولې وې او هم هلته يې د نړېوال سامراجي قوتونو په حقله خپل نظر واضح کړی دی او هم هلته د سيمې په سياسي خوځښت باندې سر خلاص کړی دی او بيا يې سياسي زدکړه هم هلته تر لاسه کړې ده. په سياسي هلو ځلو کښې يې د هندوستان د کميونسټ پارټۍ په برکت د دنيا د مجبور، زيارکښانو او مظلومو انسانانو د حق خبره ډېره مضبوطه او قوي وه. او په دې وختونو کښې نړۍ يو خواته د دوېمې نړېوالې جګړې څخه راوتلې وه او بل خوا سوشلسټ انقلابي بلاک هم وجود موندلی ؤ او ورسره يې د انقلابِ روس اثرات تر لرې لرې خواره واره شوي وو او نړۍ سوشلسټ نظرياتو په غېږ کښې نيولې وه. او دا اشتراکي نظريه ورځ تر بلې مخ په وړاندې روانه وه. په هم دې اثراتو کښې نورمحمد تره کی هم يو له هغو افغاني سياسي لوستونکو څخه ؤ چې دغه اثرات يې ژر قبول کړي وو او د خپل ځپلي ولس سترې او مجبور ژوند يې د فکر وړ ګرځېدلي ؤ او د هم دغه فکر له مخې يې د اشتراکي سياسي فلسفې له لارې مبارزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوله چې په لومړیو کښې یې د ناولونو او افسانې او بېلابېلو لیکنو له لارې خپلې مبارزې ته دوام ورکړی ؤ. نو هم دا لامل ؤ چې له هند څخه کله راستونېږي نو دلته له خپل کار سره سیاسي هلې ځلې زیاتي روښانه کوي په دې حقله باندې د قوم په ځوانانو کښې د ظلم.جبر، بربریت په خلاف رېغ پورته کوي او غواړي چې یو داسې سیاسي اساس ولري د کوم له لارې چې ځوانان کولای شي چې د قوم د ازاد حېثت د ترلاسه کولو د پاره مبارزین شي او د قوم د ازادۍ خبره په ډاګه وکړي. نورمحمد تره کي لکه څنګه چې د افغانستان په اولس کښې شهرت درلود. د هغه وجه هم دا وه چې هغه په سیاسي توګه اولسي کس ثابت شوی دی او د خلقو په زړونو کښې یې ځکه ځای جوړ کړی دی چې هغه د خلقوکس ؤ او د خلقو د پاره یې سیاست کولو. نو ځکه یې ډېر ژر په اولس کښې ځای پېدا کړ. نور محمد تره کي د ښو او صفا سیاسي هلو ځلو پر اساس دومره شهرت ترلاسه کړو چې تر افغانستان دباندې یې هم په سیاسي دنیا کښې ځان ونړیوالو ته ور وه پېژانده. هغه دې خپل سترې او خوار ژوند دومره ځورولی او دړدولی ؤ چې د هغه له کبله یې نور پاتې ژوند سل په سل کښې د هم دغه خلقو د پاره د سیاست په لاره کښې د مبارزې کولو د پاره خرخ کړی دی.د دۀ په باقاعدګي سره د سیاسي هلوځلو پیل داسې وشو چې دۀ به د مقالو له لارې د محکوم او مظلوم انسانیت خبره په دومره دردونکي انداز کوله چې پر خلقو به یې ډېر ژر اثر کاوه او په خلقو کښې یې مقبولیت زیاتېدو. د دې مقالو لیکلو له وجې به ورته ډېر کله د دولتې کسانو له خوا اختارونه (دړکي) هم ورکول کېدل چې تر زور لاندې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوړلو هڅه به پرې کېدله چې کېدای شي و ډار شي او دا کار ایله کړي خو د هغې برعکس دا کار نور هم پر مخ مضبوطوالی موندلی او هم یې اولسي فکر او نظر ځان ته را جلب کړ. او ورسره به یې په اولس کښې له داسې کسانو سره اړیکې نیولې چې هغوئ به هم د ملت او وطن دوستۍ احساس درلود خو مرام به یې نه ؤ واضح. نو دلته نورمحمد تره کي د داسې کسانو سره یو موټی کولو کښې ښهٔ رول لوبولو چې دا کار هم د وخت د دولت او دولتي ادارو د پاره زیان رسوونکی کار ؤ.

۱۳۲۴هجري (۱۹۴۵م عیسوي) څخه بیا ۱۳۲۷هجري (۱۹۴۸م عیسوي) (۱۹)

پوزې یې بېخي د خپلې سیاسي ذهني پختګۍ پر اساس ډېر کار کول پیل کړل او غوښتل یې چې یو سازمان یا یو تحریك د انسانانو دې کلونو کښې نورمحمد تره کی و توانېدو چې یو سیاسي پلېټ فارم تر لاسه کړي او د هم هغه له لارې عملي سیاست پیل کړي. دلته په دې وختونو کښې په افغانستان کښې په ښکاره توګه محمدظاهر شاه د افغانستان له صدارت څخه ګوښه کړل شوی ؤ او پر ځای یې خپل اکا شاه محمود خان صدر اعظم و ټاکل شو په دې حالاتو کښې نړېواله سیاسي فضا کښې د سامراجیت او فاشست نظریو په خلاف او د سوشلزم په حق کښې جوړه سیاسي فضا وه. دلته په افغانستان کښې هم دغه نړیوال فشار موجود ؤ نو ځکه د سردار شاه محمود خان حکومت څهٔ داسې پلانونه لرل چې هڅه وکړي چې په خپل هېواد کښې د یو ډیموکریټک (جمهوري) دولت

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



و چلوي خو دا صرف په ښکاره يې د اولس په سترګو کښې خاوري
بادول ؤ خو بل هيڅ نۀ، ولې په اصل کښې دوئ هغه دخپل امرانه
سوچ او فکر مطابق دولت چلاو. هيڅ داسې عملي کار نۀ ؤ موجود
چې د افغانستان اولس ځنې تسلي شوی وای. نو ځکه دۀ په داسې
حالاتو کښې د فاشزم يا امريت او نړيوال سامراج په خلاف کار کول
حوصله مند بللی ؤ. ويښ زلميان: د ويښ زلميانو په نامۀ په
افغانستان کښې هغه وخت څۀ ځوانان لګيا وو چې يو داسې تنظيم
و لري چې د هغه له لارې و کولای شي چې د اولس تکړه او ځيرک
او منور ځوانان سره يو ځای کړي او يو پر مختګ وکړي او دا
پرمختګ په ادبي او شعوري توګه وي. نو ځکه دلته په دې حالاتو
کښې نور محمد تره کي هم خپله مبارزه په داسې مساعدو حالاتو
اوشرايطو کښې دوام داره ساتلې ده او ان دا چې له دوهمې نړيوالې
جګړې وروسته يې د افغانستان هغه سياسي طبقاتي نظر لرونکي
تکړه او ځيرک ځوانان له ځان سره ملګرې کړي دي او د يو منظم
سازمان جوړولو پيل يې کړی دی او د نوي تنظيم بنياد يې "ويښ
زلميان" په نوم غوره کړی دی. خو د "ويښ زلميان" دموئسس په
حقله اختلاف دی او د تاسيس نېټه يې هم سمه نۀ ده معلومه هغه په
دې چې ډېر څېړونکي د ويښ زلميانو د تاسيس کال ۱۹۴۷ م ګڼي
او ډير بيا په دې اند دي چې دا د دوهمې نړيوالې جګړې فوراً
وروسته يعني په هم هغه کال تاسيس شوی دی په کوم کال چې
دوهمه نړيواله جګړه پای ته رسي.بشير اخګر په خپله داسې نظر
لري:

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



"داسې څرګندیږي چې د ویښ زلمیانو د پلویانو لومړنۍ غونډه په کال ۱۹۴۶م عیسوي کال کښې جوړه شوې ده او په هغه کښې تصمیم نیول شوی چې ملي سرتاسري سازمان دې جوړ شي" (۲۰)

او بل ځای بیا داسې وئیل شوي چې د تاسیس غونډه یې په کابل کښې جوړه شوې ده او تاریخ یې ۲۸اپریل ۱۹۴۷ میلادي یاد کړی. دلته بشیر اخګر په خپل کتاب کښې د حبیبي صاحب حواله څهٔ داسې رانقلوي "د علامه عبدالحي حبیبي په خبره چې د ویښ زلمیانو د تاسیس غونډه (موسیسه کنګره) د ۱۹۴۷م میلادي کال د اپریل د میاشتې پر ۲۸مه نېټه په کابل کښې جوړه شوې ده" (۲۱)

یو بل لیکوال چې د ویښ زلمیانو له ډلې څخه محمد علم بڅرکی په دې حقله داسې بیان کوي.

"ویښ زلمیانو په ۱۹۴۶ کال چې له ۱۳۲۵ هـ ش سره برابر دی په خپل پیوستون او سیاسي کارپیل وکړ.... د ویښ زلمیانو په لومړي سر کښې کوم ټاکلی مرام یا منشور نهٔ درلود.... سرکاري مطبوعات چې د منورینو په لاس کښې و استعمالول. په دې جمله کښې د کابل مجله د یادونې وړ ده د دې مجلې مدیر اروانباد عبدالروف بېنوا ؤ.... د کابل څخه مترقي نشریات د هېواد ټولو روښن فکرانو پیل کړل او د کابل د پښتنې سیمې پوهان لکه ګل باچا الفت. قیام الدین خادم. صدیق الله رښتین. ارسلان سلیمي صاحب او دغسې نورو ډېرو بادردو منورینو په دې ملي نهضت کښې برخه واخیستله" (۲۲).

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته له دې پورتني بحث داسې څرګنده شوه چې د "ویښ زلمیان" تحریك لومړی، سرګرمیانې په کال ۱۹۴۶م کښې پیل شوی دی په باقاعده ډول له یوې سیاسي مرام نامې سره د سیاسي تحریك شکل یې په ۱۹۴۷م کال کښې خپل کړی دی او په باقاعده ډول یې د تاسیس کانګره په کابل کښې د ۲۸م اپرېل ۱۹۴۷م کال باندې شوې ده.

د ویښ زلمیانو په نوم چې کوم تنظیم وُ دا په مکمله توګه یو ترقي پسند تنظیم وُ او شاید پر دې تنظیم هم د برصغیر په خطه کښې چې د "ترقي پسند مصنفین تحریك" چې په ۱۹۳۵م کال په هندوستان کښې د ترقي پسند ادب د پرمخ وړلو د پاره هلې ځلې کولې، اثرات یې اخیستي وي. ولې چې دې تنظیم ډېر ژر ترقي پسند فکر او سوچ خپل کړی دی. د ویښ زلمیانو تنظیم هم ډېر ژر خپل ادبي چوکاټ پراخ کړی دی او ادبي پرمختګ یې د ترقي پسند فکر له لارې کړی دی.

د ځنو لیکوالانو په نظر دا خبره هم پر ځای ده چې دا تنظیم په لومړي سر کښې د څۀ مرام نامې نۀ لرلو سره یو مکمل ادبي تنظیم وُ چې په لومړي سر کښې یوه ادبي ټولنه جوړه شوې او بیا هغه ځوانان و توانېدل چې د دولت له خوا د اولس ضد کارونو د روښانه کولو دپاره داسې یو تنظیم د ویښ زلمیانو په نامۀ جوړ کړل شي چې هغوئ به د وطن له هر فکراو نظر سره تړلي علمي ځوانان رابیدارکوي او د اولس په ضد عملیات به حکومت ته ور په ګوته کوي خو دلته دا ښکاره شوه چې په دې تنظیم یعني ویښ زلمیانو کښې سیاسي روشنفکران په زیاته کچه راستانه شوي وي چې اخر

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې د تنظیم پروګرام په فکري حواله ډېر سیاسي کړ او کله چې هم د
دوئ زیات ملګري د خلق ډیموکراټیک ګوند برخه جوړېږي او یو
مکمل سیاسي مرام خپلوي نو ویښ زلمیان مخ په کمزورۍ
روانیږي او ټول ملګري یې د هم دې نوي ګوند ملګرتیا کوي.

د ویښ زلمیانو د موئسسنو په حقله هم ځنې څېړونکي وایي
چې نورمحمد تره کی د دې موئسس ؤ خو دا خبره بېخي سمه نهٔ ده
ولې چې نورمحمد تره کی یو فعال غړی بېشکه ؤ خو موئسس یې
نهٔ ؤ. دا ځکه چې نورمحمد تره کی د ویښ زلمیانو د سرګرمیانو په
وخت کښې زیات وخت د باندې تېر کړی دی البته دا د منلو وړ ده
چې په موئسسینو کښې یاد شوی دی. او زیات لیکوالان یې دا څو
کسان په اتفاق سره د موئسسنو په فهرست کښې شماري لکه:

"هغه کسان چې دا ډله یې جوړه کړه، په کابل کښې ښاغلي
عبدالروف بېنوا، ښاغلي ارسلان سلیمي، جناب قیام الدین خادم،
ښاغلي نورمحمد تره کی، ښاغلي فیض محمد انګار، جناب غلام
حسن صافي، ربنتین صاحب، ډېر محترم ګل باچا الفت
صاحب". (۲۳)

د ویښ زلمیانو تنظیم جوړولو څخه وروسته نورمحمد تره کی
ؤ چې د دې تنظیم تر پلېټ فارم لاندې یې په ډېره ځیرکتیا سره
انقلابي او ټولنیز شعور په کار راوستی ؤ او په اولس کښې یې په
شعوري بنسټونو باندې مبارزه پیل کړله په دې اړه څېړونکي داسې
لیکي:

"د ویښ زلمیانو په اهتمام په ۱۹۵۱م عیسوي کال د
"انګار" اونیزه جریده پیل شوه". (۲۴)

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا اونیزه جریده د فیض محمد انګار په مسئولیت او امتیاز خپرېدل پیل کړل شوه چې دا د ویښ زلمیانو د فکر او نظریې ترجمانه جریده ګڼل کېده او د هم دغې جریدې له لارې د ویښ زلمیانو او په ځانګړې ډول د نورمحمد تره کي سیاسي فعالیتونه روښانه شول چې دا جریده د ۱۹۵۱م کال د مارچ د میاشتې په لومړي تاریخ باندې چاپ شوه او په هم دغه ګڼه کښې د نورمحمد تره کي لیکلي مضمونونه د "خلقو ازادي. مونږ څۀ غواړو" تر سر لیک لاندې خپارۀ شو چې په کښې د دوئ د سیاسي کړنلارې او غوښتنو په حقله په تفصیل سره په جدي او شعوري توګه خبره شوې او دا په اولس کښې قبول او مشهور و ګرځېدلو او د ویښ زلمیانو د نورو مشرانو غړو په نسبت نورمحمد تره کی ډېر فعاله او تکړه ځرګند شو او دغه مقاله خو ښېخي زیاته قبوله او منظوره شوه یعني داسې و انګېرل شوه چې دا د ویښ زلمیانو یوه سیاسي مرام نامه وبلل شوه. له هم دې وجې دې نیم ډیموکراټیک حکومت پر "انګار" اونیزه جریده باندې بندیز ولګاوۀ او ورسره یې جرمانه کړله. د دې مقالې په اړه څېړونکي داسې لیکي چې:

"دغه مقاله په واقعي توګه د سیاسي ټولنیز او فرهنګي سازمان پلېټ فارم بلل کیږي او دغه امر ډېر ژر د هغه څۀ سبب شو چې د "ډیموکراسي" د دولت د واکمنو ډلو اخوا د اونیزې په بندولو او جریمه کولو باندې عمل وکړي" (۲۵).

له دې پس نورمحمد تره کی چې کله هم امریکا ته ولېږل شو نو هلته یې هم د خپل سیاسي فکر او نظر د پاره کار کړی دی او ان دا چې له خپلې دولتي دندې سره یې دا سیاسي مبارزه پیل کړې وه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بیلابیلو کانفرنسونو او تحریرونو له لارې یې توده مبارزه کوله
کله چې د افغانستان و شاهي دولت ته پته ولګېده نو په هغه دم یې
له دندې څخه ګوښه کړو او بېرته یې راوغوښتلو کله چې هم بېرته
راستون شو نو دلته یې هم خپلې سیاسي هلې ځلې په هم هغه رنګه
دوامداره وه ساتلې ان دا چې تر هغو یې سیاسي مبارزه کوله چې
ترڅو یې وینښ زلمیان په باقاعده ډول سره په ۱۹۶۵م عیسوي کال
کښې د ګوند په توګه اعلان کړو او د جنورۍ په لومړۍ نېټه د کال
۱۹۶۵م عیسوي په ورځ یې په خپله مېلمه خانه کښې د ,,خلق
ډیموکراټیک ګوند افغانستان،، په نامه د ګوند اعلان وکړ او په
برملا توګه یې د سیاسي ګوندله پلیټ فارم څخه سیاسي مبارزه
پیل کړه. یاده دې وي چې دا مبارزه په بشپړه توګه یوه طبقاتي
قامي مبارزه وه او یو بشپړ انقلابي نهضت وو. چې دا مبارزه یې
اخر په ۲۷م اپریل ۱۹۷۸م کال په ورځ د ثور انقلاب شکل کښې
پای ته ورسېده چې په نورمحمد تره کي په خپل ژوند د خپلې
مبارزې پایله تر لاسه کړه. او دا ارمان یې پوره کړ.

## ۱.۸: علمي او ادبي خدمات (اجمالي جایزه)

لکه څنګه چې نور محمد تره کي له وړوکوالي څخه له علم او
تعلیم سره زیاته مینه درلوده د هم دغې مینې او لېوالتیا له برکته
نورمحمدتره کی نن د پښتو ادب یو ځلېدونکی ستوری دی. او
هغهٔ خپل علمي او ادبي کار هم د خپل دغې علمي مینې پر بنسټ
مخ په وړاندې بېولی دی او اول یې د لیك او لوست له لارې په قوم
کښې د شعور خورولو د پاره ملا تړلې ده. د نورمحمد تره کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی علمي او ادبي کار دا ؤ چې د کابل مجلې او نورو اخبارونو یا رېډیوګانو له لارې به یې اولسي او معاشرتي اصلاحي، ادبي لیکنې خپرېدلې. نور محمد تره کی د ویښ زلمیانو یو فعاله غړی ؤ او د هم دغې تنظیم له لارې علمي او ادبي کار یې لا پیاوړي کړ یعني د ویښ زلمیانو له خوا یوه اونیزه پاڼه د "انګار" په نامهٔ پیل شوې وه بیا د هغې له لارې د علم او پوهې پر بنیاد لیکنې یا مضامین لیکل د کوم له لارې چې په اولس کښې یو انقلابي شعور خورول مقصد واو تر ډېره حده په کښې بریالي هم ؤ. او بیا د ترجمې دوتر (نوردارالترجمه) پرانستل او بېلا بېل کانفرانسونه کول او یا داسې نور دا ټول یې د علمي او ادبي خدماتو بنیاد ؤ. خو په باقاعده ډول سره نور محمد تره کي په پښتو افسانوي ادب باندې هغه وخت لاس پورې کړی دی چې په اول ځل د پښتود فکشن په تاریخ کښې ډېره حوصله ورته ورکول کېږي او دومره عام فهمه او اولسي بڼه پېدا کوي چې د دڼله لیکنو ځخه واخلې بیا تر نالونو. افسانو او نورو پورې چې دا ټول مواد یې زیات شهرت تر لاسه کوي.

د تحریرونو په ځنګ کښې نورمحمد تره کي په اول وار خپل ادبي صنف افسانې ته مخه کړې ده چې د "غوایي لاندی" تر سرلیك لاندې یې یوه لنډه قیصه لیکلې ده او بیا یې ورپسې "د بزګرلور" نومې لنډه قیصه لیکلې ده چې دا په اولس کښې ډېر زیات شهرت لري. سره له دې یې بیا په اول ځل یو سماجي/ ټولنیز ناول د "بې تربیته زوی" په نامهٔ لیکلی دی چې دا ناول یې په اولو دریو برخو کښې په کابل مجله کښې چاپ شوی دی خو بیا هغه وخت دولت

(c) ketabton.com: The Digital Library



بندیز باندې لګولی دی . او نن هم دغه ناول د صادق ژړک په زیار د پښتوادبي غورځنګ کوټې له خوا چاپ شوی دی چې هم دغه نیم ناول یې چاپ کړی دی او نورې پاڼې برخې یې څۀ څرک نۀ لري چې تر لاسه شي. دلته زمونږ ځینو لیکوالانو یوه تېروتنه کړې ده او وئیلي یې دي چې د بې تربیته زوی نومې ناول یو سیاسي ناول دی نو ځکه ورباندې بندیز لګول شوی دی، خو زما د تحقیق له مخې په دې ناول کښې داسې څۀ نۀ شته چې د بندیز سبب به یې ګرځېدو دا هسې یوه غلط العام خبره خوره شوې ده چې دا یو سیاسي ناول دی. البته دا ناول چې څوک و ګوري نو ورته معلوم به شي چې په دې ناول کښې یواځې او یواځې د یو زوی د تربیت په حقله خبره شوې ده او د سماج یا ټولنې و تاوان ته یې کتنه شوې ده کنې نور هیڅ داسې سیاسي اغراض او مقاصد په کښې نۀ ښکاري. زمونږ محترمو لیکوالانو زما په اند صرف د نورمحمد تره کي و توند او تېز سیاسي نظر ته کتلي دي او ناول ته یې هیڅ نۀ دي کتلي نۀ یې ناول وئیلی دی بس د تره کي په حقله یې یو عام تاثر په رڼا کښې دا ناول تجزیه کړی دی. (چې مکمل خبره د دې برعکس ده). بس په اخري تجزیه کښې دا ناول یو ټولنیز او سماجي ناول نه یو سیاسي نظر خپرونکی ناول بلل شوی دی. دولت هم شاید د دې له وجې بندیز باندې لګولي وي چې دا کس ډېر زیات شهرت ترلاسه نۀ کړي او د اولس نظر ځان ته جلب نۀ کړي او یوه سیاسي وېره یې ترې احساسوله.

له دې پس نور محمد تره کي د ناولونو او افسانو لړۍ نوره هم پر مخ بیولې ده او چې تر ټولو مشهور ناول یې "دبنګ مسافري" دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بیا یې ورپسې "ځره" "سپین" او "سنګسار" په نامهٔ ناولونه چاپ شوي دي چې هر ناول یې په اول ځل ډېر زیات اولسي مینه تر لاسه کړې ده. هم دا رنګه یې افسانې هم لیکلې دي چې هغه افسانې یې هم د "بزګر لور" په نامهٔ د پښتو ادبي غورځنګ کوټې له خوا چاپ شوې دي چې په کښې ټولې ۱۴ لنډې قیصې په نامهٔ شتون لري خو په دې کښې یوه لیکنه ده چې د افسانې په نامهٔ چاپ شوې ده، البته بحث وربانديې مخته راځي. له دې افسانوي ادب سره سره نور محمد تره کي نور هم ډېر څهٔ لیکلي او چاپ کړي دي چې نیم یې په فارسي ژبه کښې دي او نیم په پښتو او له دې سره سره یې په فرضي نامهٔ هم څنې کتابونه لیکلې لکه "د کارګرې طبقې ګوند" نومې سیاسي کتاب یې د "سور ګل" په نامهٔ لیکلی دی چې د یوه سیاسي طبقاتي مبارزې کونکي ګوند په حقله په کښې ډېرپراخ او ګټور بحث موجود دی او واقعاً دا کتاب د یو سیاسي ورکر د پاره ډېر ضروري او اهم دی. نور محمد تره کي څهٔ کتابونه ژباړلي هم دي لکه سیاسي اصطلاحات چې له فارسي ژبې څخه یې ژباړلي دي په دې کتاب کښې د سیاسي اصطلاحات په حقله په ډېره اسانه پښتو لیکل شوي اصطلاحات تشریح شوې دي چې د هر سیاسي ورکر د پاره په خپل وخت کښې ډېر مهم دي. ولې چې سیاسي اصطلاحات د یوه سیاسي ورکر د پاره په هر وخت کښې ډېر مهم وي او بیا هغه وخت کښې ځکه داسې لیکل ډېر مهم ؤ ولې چې سیاسي اصطلاحات په یوه خاص چاپیریال کښې کارول کېدو نو ځکه د عام اولس به استعداد دومره نهٔ ؤ چې ژر یې سر په خلاص شي نو ځکه تره کي دا ضروري بللې وه چې په اولسي ژبه یې وژباړي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اولس هم په داسې اهم اصطلاحاتو سرخلاص شي.خو د نورمحمد تره کي ادبي اونثري یا علمي خدمات په سلسله واره توګه په دې تسلسل سره چاپ شوي او د چاپ په حقله بې په اول سر کښې "کابل مجله""اقتصاد"" انګار" او "خلق" د یادوني وړ ارګانونه دي چې د دغوله لارې یې تحریرونو او کتابونو په اولس کښې زیات شهرت تر لاسه کړی دی. مونږ هغه کوو چې دا چاپ شوي معلوم اثار یې د نېټې سره په ترتیب بیان کړو:

۱.بې تربيته زوی ۱۹۴۰م کال:

دا لومړي ناول دی چې نور محمدتره کي لیکلی دی او په کابل مجله کښې یې سلسله وار په لومړي، دوېمه او درېمه ګڼه کښې پرله پسې توګه درې برخې چاپ شوې دي او بیا وروباندې دولت له خوا بندیز لګېدلی دی. دا ناول یو ټولنیز اصلاح کونکی ناول دی. او په کتابي شکل کښې د پښتو ادبي غورځنګ کوټې له خوا په جنوري ۲۰۱۲م کال کښې هم هغه ۳ برخې چاپ شوې دي کومې چې په لومړي ځل په کابل مجله کښې په کال ۱۹۴۰م چاپ شوې وې.

۲.بېلا بېل تحریري موضوعات کال ۱۹۴۲م کال: دا د نورمحمد تره کي له خوا د انګرېزۍ څخه ژباړل شوي بېلا بېل ادبي او علمي موضوعات دي چې د دغو موضوعاتو سرلیکونه داسې دي:

"د کامیابۍ وسیله"، "د ارادې قوت"، "د اطفالو د روزنې لارې"

(۲۹)."

۳.د زلمیانو لارښود ۱۹۴۳م کال:

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتاب مطبوعاتي جايزه ګټلې ده خو لاکن چاپ شوی نه دي.

دی.(۳۰)

۴. ۱۹۵۰م کال هغه مضامين چې له انګريزۍ څخه ژباړل شوي دي او په کابل مجله کښې چاپ شوي دي. لکه:

(مېکسيم ګورکي مشهوره روسی ليکوال او شاعر)، د ليکوال هنر)، (د پوشکين د تولديو سل پنځوسم تلين)، (شوروي ليکوالو ته د ستالين د جوايزو وېشل)".(۳۱)

۵ په ۱۹۵۰م کال په "انګار" اونيزه لومړۍ ګڼه کښې هم چاپ شوي مضامين شته:

(د خلقو غوښتنې) او (د خلقو ازادي)".(۳۲)

۶. دوې افسانې (لنډې قيصې)په ۱۹۵۱م کال ليکلې دي:

(د غوايي لاندی)، (دادی خدمت)".(۳۳)

دا دوې افسانې په لومړي ځل نور محمدتره کي ليکلې دي چې دواړه افسانې (لنډې قيصې )دي او يو تولنيز جبر او د جبر په خلاف يو تاثر ورکوي. د طبقاتي شعور خپرولو او طبقاتي تضاداتو په ضد په کښې پېغام ورکول شوی دی او دا لنډې قيصې يې د ريالزم سمبول دي.

۷. ځړه: دا ناول په لومړي ځل په ۱۹۵۲م کال چاپ شوی دی. يو اجتماعي ناول دي.

۸. سپين: دا هم يو ناول دی چې پر ټولنيزه موضوع ليکل شوی دی او خلقي مقصديت لري چې په کال ۱۹۵۸م کال په لومړي وار چاپ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹.دبنګ مسافري: دا ناول په کال ۱۹۵۸م کښې د خلق
ډیموکراټیک ګوند افغانستان له خوا چاپ شوی دی، چې په کښې
تولنیز سیاسي او معاشرتي شعور خپور شوی دی او په کښې هم
پښتو ناول په لومړي ځل له ریالزم سره اشنا شوی دی.

"In 1957, though he published his first novel, The journey of Bang, an imitation in Pashto of the works of Soviet novelist Maxim Gorky"(34)

ژباړه: (په ۱۹۵۷م کال کښې دهٔ (نورمحمد تره کي) خپل اولني ناول "د بنګ مسافري" په پښتو کښې د سویت ناول نګار میکسیم ګورکي په اتفاق کښې چاپ کړ).

که څهٔ هم د نور محمدتره کي لومړی ناول د بې تربیته زوی په نامهٔ په ۱۹۴۰م کال په کابل نومې مجله کښې قسط وار چاپ شوی دی خو دلته یې حسن کاکړ لومړی ناول چې له چاپ څخه په کتابي بڼه کښې راوتلی دی هغه د بنګ مسافري نومې ناول دی. خو تر دې هم وړاندې یې په کال ۱۹۵۲م کښې څړه نومې ناول چاپ شوی دی شاید د حسن کاکړ معلومات کم وي په دې حقله او د دې ناول د قیصې په هکله د حسن کاکړ داسې تبصره ده.

"Though a mediocre piece of literary work, The Journey of Bang is the first novel of its kind in Pashto that paints issues in rural society in terms of the Marxist notion of the exploitation of agrarian laborers by landlords, spiritual leaders, and government officials"(35)

ژباړه: (اګرچه د ادبي کار یوه کوچنۍ ټوټه چې "دبنګ مسافري"په شکل کښې ده. په پښتو کښې د خپل نوعیت لومړی هڅه ده. چې په کښې د کلیوالي ټولنې ستونځې د مارکسي نظریې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له مخې د زرعي مزدورانو ،زمیندارانو ،روحاني مشرانو او حکومتي اهلکارانو د غلط استعمال په کښې عکاسي شوې ده).

۱۰. لومړی انګریزي- پښتو قاموس:

نورمحمد تره کي د یو قاموس یا ډکشنري هم په لومړي وار پښتو ته لیکلې ده چې دا قاموس یې له انګریزي څخه و پښتو ته لیکلی دی چې په کښې انګریزي توري یا ویونه په پښتو کښې په اسانه ژباړل شوي او تشریح شوي دي. او دا د انګریزي څخه پښتوته لومړی قاموس دی.

"Although Taraki took part with others in compiling the first English-Pashto Dictionary, which the Pashto Academy published in 1975"(36(

ژباړه: اګرچه تره کي له نورو سره په ملګرتیا اولنی انګریزي – پښتو قاموس ترتیب کړی دی چې پښتو اکاډمۍ په ۱۹۷۵م کال کښې چاپ کړی دی.

۱۱. سنګسار: سنګسار نومې ناول هم د نورمحمد تره کي یو شاهکار ناول دی چې په ۱۹۷۲م کال کښې د خلق ګوند تر نظارت لاندې چاپ کړل شوی دی او وروسته بیا په دوهم ځل د علومو اکاډمۍ له خوا هم چاپ شوی دی. دا ناول هم یو اشتراکي او خلقي نظر ناول دی او ټوله قیصه یې د بډایانو. ملایانو. ریاستي ادارو او نورو په ضد لیکلې شوې ده. او دا ناول هم د حقیقت پسندۍ او روښنفکرۍ یوه نمونه ده او په کښې مزاحمتي رنګ ډېر ښکاره دی.

۱۲. زندګي نوین: دا د نورمحمد تره کي یو ډېر اهم او ښهٔ کتاب دی چې سیاسي او فلسفي اثر دی چې ۱۳۴۰م هـ ش شاوخوا کښې لیکل شوی دی خو د چاپ یې تر ۱۳۴۲م هـ ش پورې لا نهٔ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی البته په هم دې کال نور محمد تره کي په خپله و خپل يو نژدې
سلګري صالح محمد زيري ته څهٔ داسې وئيلي دي چې:

"دا زما د ژوند ميراث دی که چرې ژوندی وم چاپ به يې کړم
او که مړ شوم دغه به د تاجې (تاج بي بي د نورمحمد تره کي
مېرمن) څخه واخلې او په هر ډول چې کولای شې چاپ يې کړه"
(۳۷).

۱۳. د کارګري طبقې ګوند: دا هم د نورمحمد تره کي يو
سياسي د کارګري طبقې د ګوند په اړه بنيادي او اړين مواد په
کښې راوړل شوي دي. دا کتاب چې د چاپ کال يې سم نهٔ دی
معلوم، البته د سورګل په نامهٔ چې کومه سيريزه باندې ليکل شوې
ده په هغې کښې واضحه نېټه داسې ليکل شوې دي:
"په درناوي د ۱۳۵۰ کال د سرطان لومړي ورځ سورګل" (۳۸).

۱۴. نوې فلسفه: دا د نورمحمد تره کي دوېم د سياست
اوفلسفې په اړوند کتاب دی چې د چاپ کال او ځای يې نه دی
معلوم او د مستعار نامهٔ (سورګل چې نورمحمد تره کي مستعارنوم
و) ژباړل شوی کتاب دی حبيب الله رفيع يې موضوع څهٔ داسې
بيانوي:

"د افانيسيف له کتاب څخه رالنډ چې اتهٔ فصلونه لري او
لوئ عناوين يې دي: فلسفه دعلم په څېر، د مارکسي فلسفې
پېدابښت او تکامل. ماده او د هغې د موجوديت شکلونه. ماده او
شعور مارکسستي ډياليکټيک. د ماټرياليستيک ډياليکټيک
اساسي قوانين، د ماټرياليستي ډياليکټيک مقولې. د
ډاياليکټيک ماټرياليزم د پوهې د معرفت تهيوري" (۳۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۵.سیاسي اصطلاحات: دا کتاب چې په کښې ټول سیاسي ترمینالوجیز(اصطلاحات) په اسانه پښتو ترجمه شوې او تشریح کړل شوې او د ایران د تودې پارټۍ د سیاسي اصطلاحاتو په کښې فایده اخیستې شوې ده هم د نورمحمد تره کي ژباړل شوی سیاسي کتاب دی او دیوه عام شفاهي روایت له مخې دا کتاب هم د سورګل په مستعار نامهٔ چاپ شوی دی او دلته په پاکستان کښې هم د پښتو قام پرستو تنظیمونو په سټډي سرکلونو کښې به وئیل کېده او فایده ځنې اخیستل کېده.خو حبیب الله رفیع په دغه نامهٔ د یوه کتاب ذکر کړی دی او نوم یې داسې یادوي او د خپرېدو کال یې هم ۱۹۷۳م کال ښودلی دی او لیکوال یې الف – کب دی یعني دا هم مستعار نوم دی او د موضوع په حقله یې هم داسې لیکلي:

"سیاسي اصطلاحات اونومونه په کښې په لنډو تشریح شوې چې زیاته برخه یې د داریوش آشوري له فرهنګ سیاسي څخه اخیسته شوې ده"(۴۰)

زما قوي خیال دا دی چې دادواړه کتابونه د یوهٔ کتاب دوه نومونه دي، صرف په مستعار نامهٔ نورمحمد تره کي ژباړلی دی اولیکوال یې الف – کب دی کوم چې حبیب الله رفیع یې ذکر کړی دی. خو دا مستعار نوم هم د نورمحمد تره کي کېدای شي.

ځنې نور کتابونه چې کال او نېټه یې نهٔ دهٔ معلومه هم یادیږي چې په کتابي بڼه نهٔ دی چاپ شوی البته په مجلو، اخبارونو یا اونیزو کښې چاپ کړل شوي دي په هغوئ کښې دا لاندیني ذکر شوي کتابونه دي:

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۶. عروس من از خیبر: دا له انګرېزي څخه په فارسي ژباړل شوی دی او په پر له پسې توګه په انیس ورځپاڼه کښې په مستقله توګه خپور شوی دی.

۱۷. خاطرات جنګ: دا بیا دونستین اثر دی چې له انګرېزی څخه ژباړل شوی دی په فارسي کښې او په اصلاح ورځ پاڼه کښې چاپ شوی دی.

د ویشنسکي وینا په یون کښې: د مقالې ژباړه دهٔ چې په اصلاح ورځ پاڼه کښې چاپ شوې ده.

۱۸. د بزګرلور: دا د نورمحمد تره کي د لنډو قیصو ټولګه ده چې د پښتو ادبي غورځنګ کوټې له خواپه ښایسته صحافت سره په کال ۲۰۱۰م کښې د لومړي چاپ په نامهٔ چاپ شوې ده چې ترتیب او سمون یې صادق ژړک کړی دی. په دې ټولګه کښې ټولې ۱۳ لنډې قیصې راغلې دي چې صادق ژړک اتهٔ قیصې د کابل مجلې څخه او دوې له "اوسني لیکوال" نومې کتاب څخه او یوه قیصه یې د "هنر" مجلې څخه او نورې بیا د "انقلابي پلوشې" څخه تر لاسه کړې او د بزګرلور په نامهٔ یې چاپ کړې دي. دا دی زمونږ مخې ته پرتې دي. د "انقلابي پلوشې" په نامهٔ کتاب په حقله د هم دغې ټولګې باندې د یوې لیکنې چې سر لیك یې داسې دی "اروانباد نورمحمد تره کي د شپو په زړهٔ کښې د رڼا نخښه" کښې یو ځای داسې لیکي:

"یوه یادونه کوم هغه دا چې د نورمحمد تره کي د لنډو قیصو. لیکنو او ژباړو لومړی راټولونکی د هیواد وتلی ادیب ژبپوه. د افغانستان د علوم اکاډمي غړی اروانباد سر محقق

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوست شینواری ؤ، هغه د انقلابي پلوشو مجموعه راټوله او چاپ ته وسپارله. دغه مجموعه په دولتي مطبع کښې چاپ خپرېدو ته چمتو وه. (۴۱).

خو دا کتاب هم تر اوسه چاپ شوی نۀ دی. خو د تحقیق لمن همېشه غوړېدلې پرته وي او محققین هڅه کوي چې نوي مواد میدان ته راوړي نو په راتلونکي وخت کښې کېدای شي دا کتاب هم مخې ته راشي.

## ۱.۹. د نورمحمد تره کي مرګ / وژنه:

د ثور د انقلاب څخه ایله یو نیم کال وروسته نور محمد تره کی په اکتوبر ۱۹۷۹م کال د راډیو له لارې د یو عادي خبر له مخې اعلانیږي چې نور محمد تره کی د ورپېښې ناروغۍ له کبله مړ شو. نور محمد تره کي د وژنې او مرګ په حقله بېلا بېل او حیرانونکي معلومات شتون لري یعني وئیل کیږي چې نورمحمد تره کی چې کله هم د خپل هېواد څخه د جمهور رئیس په توګه د باندې څو ملکونو (هوانا او ماسکو) په سفر باندې تللی ؤ او کله چې هم له بهرڅخه راستونیږي نو له ستنېدو فقط درې ورځې پس داسې اعلان کیږي چې نورمحمد تره کی د سختې ناروغۍ له کبله له صدارت اعظمۍ څخه مستعفي شوی. دا اعلان هم ډېر زیات حیرانونکي ؤ چې درې ورځې مخته یو فعال او تکړه، د بهر له سفر څخه راستون شوی کس څنګه ناګهانه ناروغه کیږي او بیا داسې ناروغي چې علاج نۀ لري او ددغې ناروغۍ له کبله مستعفي کیږي؟ دا اول سوالیه نشان ؤ چې د افغان اولس او سیاسي وګړیو

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



او کوندي ملګرو په چاپېریال کښې یې شتون و موند او بېلا بېل شکونو ځني زیږدنه کوله خو له دې وروسته څو ورځې پس بیا یو اعلان د راډیو له لارې داسې کېږي چې نورمحمد تره کی له ورپېښې ناروغۍ څخه مړ شو. دلته نور هم شکونه پیدا شول چې په ارګ کښې څۀ روان دي. خو د خپلو تر لاسه شویو معلوماتوله مخې به دومره و وایو چې نور محمد تره کی په بنیادي توګه د خلق او پرچم ډلو تر منځ د اختلاف له کبله د بېلا بېلو بحرانونو ښکار ؤ او ولې چې لومړۍ د خلق او پرچم ډلې تر منځ اختلاف شتون درلود او بیا داسې اختلافات مخ په وړاندې هغه وخت ولاړل چې کله ببرک کارمل چې د پرچم ډلې کس ؤ د نایب صدارت له چوکۍ څخه ګوښه کړل شو او دباندې د سفیر په حېث و لېږل شو اوداسې نور پرچمیان یې سوکه سوکه یا خو له دندو او وزارتونو څخه ګوښه کړل او دباندې ولېږل شول او یا یې ګرفتار کړل په زندانونو کښې وغورځول شول.

خو له دې پس د حفیظ الله امین چې د ببرک کارمل څخه ورسته یې دنایب صدارت پر ځای کښېنول شوی ؤ او د فوځ سیاسي مشرتوب هم ورپه غاړه کړل شوی ؤ له نورمحمد تره کي سره یې سخت اختلاف پیدا شوی ؤ او دا اختلاف هم دا ؤ چې د نورمحمد تره کي ملا یې ماته کړه او تره کی یې پر دې مجبور کړی ؤ چې له صدراعظمی څخه مستعفي شي خو دا مجبوري هم نۀ وه بلکې یو جبر او زور واکي وه چې تره کی یې له ټولو ضروري اسنادو لاس لیک کولو وروسته د مرګ خولې ته غورځولی ؤ. په دې بېلا بېل

بې ور اینبي وو. وژل شوی دی او دهٔ په خپله د خان د خلاصولو
ښې هڅې کړې دي خو په اخر کښې بې خپله ساه د بندېدو په سبب
ژوند بایللی دی. تره کی چې د ببرک کارمل په ملګرتیا بې غوښتل
چې امین له منځه یوسي خو په خپله د مرګ شومه شو. د غونډۍ
څخه په دوېمه ورځ بې د ناروغۍ پر اساس له حکومت څخه د لاس
اخیستلو اعلان کړی دی. د (۹م اکتوبر ۱۹۷۹م کال) باندې و دنیا
ته داسې و ښودل شول چې د ګوند مشر مړ شوی دی).

دلته زیات لیکوالان خو په دې خبره اتفاق کوي چې نورمحمد
تره کي د هم دغه غونډې څخه وروسته بیا چا و نهٔ لیدلو تر څو چې
د مرګ اعلان بې د راډیو له لارې کېږي. او ډېر لیکولان دا ذکر کوي
چې تره کی د ناورغۍ له وجې نهٔ بلکې د هغه پر خولهٔ او پزه د
بالښت اینښودلو باندې په زور مړ کړل شوی دی او د تره کي خپل
ګوندي ملګري خو بې په ډاګه وایي چې دا ټول پلان حفیظ الله
امین جوړ کړی وُ او بیا بې هم دلته وژلی دی. البته په دې حقله څهٔ
پرېکړه نهٔ شي کېدی ولې چې داسې قوي او مستند دلایل نهٔ دي په
مخه راغلي البته دا یوه خبره روښانه ده چې د دې غونډې څخه څو
ورځې وروسته باقاعده د مرګ اعلان کېږي. یعني تر دې غونډې
وروسته بیا چا سره نهٔ ملاو شوی دی او نهٔ کوم ملګري د مرګ تر
ورځې بیا لیدلی دی نو دا قوي امکان دی چې همدلته وژل شوی
وي او بیا وروسته بې د مرګ اعلان کېږي صرف په دې خاطر چې د
اولس او نژدې ملګرو شک بې یقین نهٔ شي. په دې اړه بې
د کوروداني تاج بي بي بیان څهٔ داسې رانقولو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ۱۹۷۹م کال د اکتوبر پر ۹مه نېټه د پلچرخي په زندان کښې واورېدل چې مېړه مې نورمحمد تره کی مړ شوی دی په پل چرخي کښې درې میاشتې وروسته ماته ووئیل شول چې هغه یوه شپه د حفیظ الله امین د دریو تنو پلویانو له خوا چې د نورمحمد تره کي کوټې ته ورغلل د هغوئ په ذریعه زما خاوند په ظالمانه او وحشیانه ډول سره ووژل شو، دا چې زما مېړهٔ یې چرې ښخ کړ د ګارډ کوماندان جانداد خان شخصاً د دغه صحنې شاهد ؤ. دی یې چرې خاورو ته سپارلي دی زهٔ نهٔ پوهېږم" (۲۷)

دا چې د نورمحمد تره کي د مرګ په حقله یې د کور ودانی کوم بیان دی کېدای شي دا هم څهٔ قوي معلومات نهٔ وي خو مونږ په لنډه دا وئیلی شو چې نورمحمد تره کی وژل شوی دی او په ۹م اکتوبر ۱۹۷۹م کال باندې یې د مرګ اعلان باقاعده له راډیو او تیلیویژن افغانستان دواړو له لارې شوی دی.

خو له دې ټولو معلوماتو پرته موږ پرېکړه نه شو کولی چې نورمحمد تره کي څنګه ،چا او چیري او ولي وژلی دی ؟ دومره ضرور ویلای شو چې د نورمحمد تره کي او وررسره بیا وروسته د حفیظ الله آمین وژنه د مکمل یو پلان برخه دي او دا دوه د انقلاب داسي مخکښان وو چې د کې جي بي او انقلاب ضد قوقونو نه غوښتل چې افغانستان دي تل یو تاریخي انقلابي هېواد ثابت شي دا کار د نړیوالو د پاره ډېر دردونکی او خطرناک وو چې افغانستان دي یو قامي انقلابي ریاست جوړ کړل شي . په دې پلانونو کښې د ګاونډي هېوادونو هم رول شته چې د نړیوالو زورورو د پاره د پراکسي (مرسته کونکې) په توګه هر وخت کار

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی دی. خو د دې ټول پلان لوی ذمه وار او مخکښ د روسيې کې جي بي ده چې د دوستۍ په شکل کښې يې د افغانستان د بربادۍ او د انقلاب د ناکامۍ ذمه په غاړه اخيستې ده او پکې برياليتوب يې موندلی دی.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حوالې


۱. اخګر، بشیر. ژباړه: حنیف یوسفي او عبدالاحد نهضت مل. نورمحمدتره کي سیاسي، علمي او ادبي ژوند. سورګل فرهنګي کلتوري ټولنه. کال۲۰۱۱م:مخ۲۲

۲. ایضاً. مخ ۲۳

۳. ایضاً. مخ۲۲

۴. ایضاً. مخ۲۲

۵. http://www.taraki.org/life/ .

۶. اخګر. بشیر. نورمحمد تره کي سیاسي، علمي او ادبي ژوند. مخ۲۴

۷. ایضا. مخ۲۶

۸. ګېرس ـ ف ـ ک.مترج. سرمحقق معتمدشینواري. پښتو هنري نثر. پښتو ادبي غورځنګ، کوټه، دوېم چاپ، کال۲۰۱۰م مخونه۱۲۱ـ۱۲۲

۹. ماما. عزیزالله. پښتو مترقي ادب په لویه پښتونخوا کښې. مېوادکتابتون. کوټه. کال مئ۲۰۱۲م. مخ۱۲۷

۱۰. بخرکي. محمد علم. ویښ زلمیان. د افغانستان یو سیاسي تحریک ،افغان کلتوري ټولنه. نیدرلېنډ، دوېم چاپ کال ۲۰۰۰م عیسوي. مخ۱۳۸

۱۱. لنډه بیوګرافي. نورمحمد تره کي، د افغانستان د علومو اکاډمي. کال۱۳۵۷هـ ش. مخ۱۴

۱۲. بخرکي. محمد علم. ویښ زلمیان. مخ ۱۰۰


Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حوالې

اخګر. بشیر. ژباړه: حنیف یوسفي او عبدالاحد نهضت مل،
نورمحمدتره کي سیاسي، علمي او ادبي ژوند. سورګل فرهنګي
ټولنه. کال۲۰۱۱م:مخ۲۲
ایضاً. مخ۲۳
ایضاً. مخ۲۲
ایضاً. مخ۲۲
. http://www.taraki.org/life/۵
اخګر. بشیر، نورمحمد تره کي سیاسي، علمي او ادبي ژوند،
مخ۲۴
ایضا. مخ۲۲
۸کېرس ـ ف ـ ک.مترج. سرمحقق معتمدشینواري. پښتو هنري
نثر. پښتو ادبي غورځنګ. کوټه. دوېم چاپ، کال۲۰۱۰م
مخونه۱۲۱ـ۱۲۲
۹ماما. عزیزالله. پښتو مترقي ادب په لویه پښتونخوا کښې.
هیوادکتابتون. کوټه. کال مئ۲۰۱۲م. مخ۱۲۷
۱۰بخرکي. محمد علم. ویښ زلمیان. د افغانستان یو سیاسي
تحریک ،افغان کلتوري ټولنه. نیدرلېنډ، دوېم چاپ کال ۲۰۰۰م
عیسوي. مخ۱۳۸
۱۱لنډه بیوګرافي. نورمحمد تره کي، د افغانستان د علومو
اکاډمي. کال۱۳۵۷هـ ش. مخ۱۴
۱۲ بخرکي. محمد علم. ویښ زلمیان. مخ ۱۰۰

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳. اخګر. بشیر، نورمحمد تره کي سیاسي. علمي او ادبي ژوند.
مخ۶۹
۱۴. ریان، بشیر احمد. د افغاني باچاهانو لنډ ژوند لیك. صدیقي
خپرندویه ټولنه، کال ۱۳۸۷هـ ش، مخ۱۴۵
۱۵. اخګر، بشیر، نورمحمد تره کي سیاسي. علمي او ادبي ژوند.
مخ۲۵
۱۶. ایضاً، مخ۲۵
۱۷. ایضاً. مخ۲۵
۱۸. ایضاً، مخ۲۵
۱۹. ایضاً. مخ ۲۶
۲۰. ایضاً، مخ۳۷
۲۱. ایضاً، مخ۳۱
۲۲. ایضاً، مخ۳۱
۲۳. بخرکي، محمد علم. ویښ زلمیان. مخ۲۸
۲۴. ایضاً، مخ۲۹
۲۵. اخګر. بشیر، نورمحمد تره کی سیاسي. علمي او ادبي ژوند.
مخ۳۴
۲۶. ایضاً. مخ۳۵
۲۷. پاشا. احمد شجاع. افغانستان. ایک قوم کا المیه، سنگ
میل پبلیکیشنز، لاهور، ۱۹۸۹، مخ۴۸
۲۸. اخګر. بشیر، نورمحمد تره کی سیاسي. علمي او ادبي ژوند.
مخ۲۱۴
۲۹. ګېرس.ف.ک. پښتوهنري نثر. مخ۱۱۷

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۰. اخګر. بشیر. نورمحمد تره کی سیاسي. علمي او ادبي ژوند
مخ۲۲۲
۳۱. ګېرس.ف.ک. پښتو هنري نثر. مخ۱۱۸
۳۲. اخګر. بشیر. نورمحمد تره کی سیاسي. علمي او ادبي ژوند.
مخ۲۲۳
۳۳. ګېرس.ف.ک. پښتو هنري نثر. مخ۱۱۹
34.http://publishing.cdlib.org/ucpressebooks/view?docId=ft7b69p12hHYPERLINK.
35 . The same as above.
36 . The same as above.
۳۷. اخګر. بشیر. نورمحمد تره کی سیاسي. علمي او ادبي ژوند.
مخ۲۱۹
۳۸. شېرګل. د کارګري طبقې ګوند. مخ۲۲
۳۹. رفیع. حبیب الله. پښتو پانګه. پښتو ټولنه کابل. ۱۳۵۲هـ
ش. مخ۷۸۵
۴۰. ایضاً. مخ۲۲۲
۴۱. تره کی. نور محمد ، سمونه: صادق ژړک. دبزګرلور. سریزه
ش.حصین، پښتو ادبي غورځنګ. کوټه. لومړی چاپ. ۲۰۱۰م.
مخ۱۰

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دویم باب:

### ۲.۱.. د ناولونو تعارف:

د نورمحمد تره کي د ناولونو د تعارف په حقله دومره وئیلی شو چې نورمحمد تره کی په خپل ژوند کښې ټول پینځهٔ (۵) ناولونه په خپله مورنۍ ژبه پښتو کښې لیکلي دي او دا ناولونه د ډېر اهمیت وړ ځکه دي چې په لومړي وار په افغانستان کښې په پښتو افسانوي ادب کښې د یوې نښې اضافې او بنیاد په توګه مخ ته راغلي او چاپ شوي دي. د ناولونو تعارف به دلته مونږ په ځانګړې توګه وکړو. د ناول لیکلو په فن نورمحمد تره کی ډېر پوه معلومیږي ولې چې نالونه یې په فني توګه مضبوط د ي. د ناولونو ترتیب یې څهٔ داسي دي.

۱. بې تربیته زوی: دا ناول د نورمحمد تره کي لومړی ناول دی بلکې پر دې خبره ټول د پښتو څېړونکي او لیکوالان په یوه خولهٔ دي چې دا په ټول افغانستان (موجوده) کښې د پښتو لومړی ناول دی چې په لومړي ځل لیکل شوی دی او تر دې وړاندې کوم بل ناول تر اوسه مخې ته نهٔ دی راغلی. او له دې پرته ځنې څېړونکي دا هم وایي چې دا ناول د پښتو ژبې لومړی طبعزاد ناول دی.

ددې ناول لومړی چاپ: دا ناول په لومړي ځل په کال ۱۹۴۰م عیسوي کښې په "کابل مجلة" کښې په دریو برخو کښې چاپ شوی دی. چې د کابل مجلې برخې په دې ډول دي. لومړی کال لومړی ګڼه (مارچ - اپریل ۱۹۴۰م کال). لومړی کال دویمه ګڼه (اپریل - مئ ۱۹۴۰م کال) او لومړی کال دریمه ګڼه (مئ - جون ۱۹۴۰م کال) خو

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې وروسته بانديې د دولت له خوا بنديځ لګول شوی دی او بيا نه دی چاپ شوی.

"بې تربيته زوی" نومې ناول په دوېم وار د پښتو ادبي غورځنګ کوټې، له خوا په ښايسته صحافت سره په کتابي شکل کښې په جنوري ۲۰۱۲م کال عيسوي کښې چاپ شوی دی چې دا دی زمونږ مخې ته پروت دی. او وربانديې د پښتو ادبي غورځنګ کوټې له خوا "دغورځنګ يادښت" او بيا وربانديې د صادق ژړک له خوا "د يادونې ورخبرې" تر عنوان لاندې مقدمه ليکلې شوې ده. په دې مقدمه کښې د ناول په حقله هم خبرې شوې دي او د "اوسنې ليکوال" ده تېروتنه چې د کابل مجلې د نېټې په حقله سمونه شوې ده صادق ژړک ليکلې دي:

"چې په "اوسنې ليکوال" کښې د کابل مجلې د چاپ کال ۱۳۱۸ د.ش ليکل شوې دی. خو په اصل دا ۱۳۱۸ م هجري نه بلکې ۱۳۱۹م هجري کال دی" (۱)

په دوېم ځای د پښتو پر لومړي ناول هم دوئ لنډکی بحث کړی دی او دا بې پخه کړې ده چې د پښتو لومړی ناول د راحت زاخېلي ماه رخ (نتيجه عشق) دی او دوېم ناول بې هم دغه "بې تربيته زوی" شمېرلی دی. البته نه دې سره اتفاق کول بحث غواړي. ولې چې د اول ناول پرېکړه کول دلايل او ثبوتونه غواړي. د راحت زاخېلي ناول (نتيجه عشق) د اردو ژبې ليکوال ډپټي نظير احمد د ناول ژباړه ده. نو ژباړې ته ناول وئيل هم يو سواليه نشان دی. ولې چې په ژباړه کښې مکان او زمان دواړه د خپلې سيمې نه وي بلکې د نورو سيمو کلتور، ژبه، او ټولنيز روايات او چاپېريال په کښې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورایه ښکاري . البته په ادب کښې یوه ښه اضافه بې شکه ورته
وئیلای شو په ژبارلې ناول کښې به ضرور د هغې سیمې. ټولنې او
کلتوري اقدار موجود وي نهٔ ده پښتنو، نو که هر څوک بې و وایي
خو هغه ته به د پښتو ناول نهٔ و وئیل کېږي. د دې پر ځای که مونږ دا
و وایو چې د پښتو ادب لومړی ناول هم دغه بې تربیته زوی دی چې
په کال ۱۹۴۰م کښې د کابل مجلې له لارې و پښتوادب ته ډالی
شوی دی ښهٔ به وي.

بې تربیته زوی نومې ناول که څهٔ هم نیمګړی دی خو په خپله
چاپي برخه کښې چې په لاس کښې یې لرو په خپل هیئت کښې
مکمل ناول دی . دا ناول پښتني چاپېریال رانښیي او یو صفا
افغاني چاپېریال را په ګوته کوي. کردارونه یې مکمل پښتني دي
ژبه یې مکمله پښتو ده او د افغاني سیمې برخه ده. کوم کردارونه
چې په عام اولسي چاپېریال کښې د پښتنو شتون لري. که هر څوک
یې په هره ژبه و ژباړي او بیا یې ژباړه څوک لولې نو هم هغه به په
نتیجه رسېږي چې دا د پښتنو په چاپېریال کښې لیکل شوی ناول
دی . او هم د پښتنو د چاپېریال ستونځې او قیصه په کښې انځور
شوې ده. د دې ټولې درې واړه برخې په کتابي شکل کښې پر
۴۳مخونه باندې لیکلې شوې دي یعنې ټول کتاب اول مخ یې د
کتاب ټایټل دی، دوېم مخ د کتاب پېژندنه ده پر درېم او څلورم مخ
باندې "د غورځنګ یادښت" لیکل شوی دی. پر پنځم مخ تړون
لیکل شوی دی پر شپږم مخ یې مننه لیکل شوې ده.
پر ۷،۸،۹،۱۰،۱۱،۱۲،۱۳،۱۴ مخونو باندې د "یادونې وړ
خبرې" لیکلې شوې دي چې دا مقدمه د صادق ژړک له خوا ورباندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليکلې شوې ده. اوله ۱۵م مخ څخه بيا تر ۵۷م مخ پورې د ناول قيصه ليکلې شوې ده. او له ۵۸م مخ څخه بيا تر ۷۴م يعني اخيرنې مخ پورې "ويبپانګه" ليکلې شوې ده. په ناول کښې ګران توري په اسانه پښتو کښې معنی شوي او تشريح شوي دي. او دا ناول د پښتو ادبي غورځنګ شالکوټ له خوا د "نورمحمد تره کي داستاني کليات" کښې هم په نبه صحافت سره په فروري ۲۰۱۴م کال بيا چاپ شوی دی.

۲.څړه: دا ناول په لومړي ځل په کال۱۳۳۵م هجري چې ۱۹۵۶م کال سره سمون خوري چاپ شوی دی دا ناول يو اجتماعي ناول دی خو تږوله قيصه د طبقاتي شعور د خورولو د پاره ليکلې شوې ده. دقيصې او مرکزي خيال له مخې دا ناول يو مکمل د طبقاتي تضاداتو د څرګندوني هبنداره ده. ورسره د حکومتي چارواکو او د منصبدارانو په ضد د مبارزې د پاره د تحريك او پاڅون د پاره پېغام په کښې بيان شوی دی. قيصه يې په زړه پورې او يو مکمل ناول دي.

۳.سپين: دا هم يو ناول دی چې پر تږولنيزه موضوع ليکل شوی دی او خلقي يا اشتراکي مقصديت لري.چې په ۱۹۵۸م کال کښې لومړی وار چاپ شوی دی. او په دوېم وارپه ۱۳۵۷م هجري کال چې دکال ۱۹۷۸م سره سمون خوري د علومو اکاډمی افغانستان له خوا چاپ شوی دی. دا ناول هم د غورځنګ له خوا په اخرني وار په ۲۰۱۴م چاپ شوی دی چې د نورمحمد تره کي په داستاني کليات کې چاپ شوی دی.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴. د بنګ مسافري: دا ناول په ۱۳۳۲م هجري چې له کال ۱۹۵۸م سره سمون خوري کښې په لومړي وار چاپ شوی دی. د افغان سماجي، سیاسي او ټولنيز شعور د پاره يه کښې پيغام پټ دي. او په دوېم وار بیا په کال ۱۳۵۷م هجري چې له کال ۱۹۷۸م سره سمون خوري د علومو اکاډمۍ له خوا چاپ شوی دی.

او دا ناول هم په ټولنيزه توګه يو د طبقاتي شعور خورونکي ناولونو څخه دی چې په کښې د خان، ملک، مُلا، له مذهب څخه ناوړه ګټه اخستل، دولتي خلقو له خوا له اولس سره زياتوب او په فابريکو کښې د مزدورانو سره د کار او د تنخوا د ستونځو په حقله د مزدورانو احتجاجونه او داسې د يو انقلابي نظر تحريک له پاره په فابريکو کښې د مزدورانو غير شعوري ډول راپورته کېدل بيان شوی دی چې خاص قيصه د طبقاتي تضاداتو د رابرسېره کولو غمازي کوي.

۵. سنګسار: دا ناول هم په کال ۱۹۵۸م کښې په لومړي وار چاپ شوی چې يو خلقي نظره ناول دی او په مکمله توګه د لاندينی طبقې د ويرولو د پاره د سرکار او د هغوئ د لاس پوڅو منصبدارانو له خوا پر اولس ټيکسونه ږدل او په ولس کښې د سرمايه دارانه نظام څېره ښکاره کول او داسې تل په دارنګه کارونو کښې د مذهب څخه ناوړه ګټه اخيستل په ښکاره توګه بيان شوی دی او د دولتي چارواکو منفي او دروغجني دسيسې په ښه توګه رابرسېره شوې دي په دې خاطر لاندينی طبقه په شعوري ډول خبرداره کړل شي چې په اصل کښې سرمايه دارانه طبقه د مذهب پر غم نهٔ ده بلکې مذهب يوازې د خپلې حکمرانۍ د لا پرمختګ د

Scanned with CamScanner

پاره په کار راوستل کېږي. او په دې ناول کښې د مزدور یا زیارکښې طبقې د راپورته کېدو د پاره په شعوري ډول قیصه لیکل شوي ده او دې ته مونږ یو مکمل نظریاتي ناول وئیلی شو.

## ۲.۲ د ناولونو سماجي او معاشرتي پس منظر:

لکه څنګه چې د هرې ژبې بنیادي افسانوي ادب زیات تر پر سماجي ستونځو، کړکېچونو او معاشرتي خدوخال باندې لیکلې شوې وي او اکثره د معاشرتي اصلاح د پاره کرکټرونه او قیصې په کښې ذکر شوې وي. خو ډېر کم ناولونه داسې وي چې په لومړیو ادبي هلوځلو کښې سیاسي، نظریاتي یا مذهبي اړخونه لري. نور محمد تره کي هم خپل د لیك اثر په هم دغه روایت کښې مخ په وړاندې بیولی دی او خپل اول لیکونه یې په افسانوي بڼه د ناول په شکل کښې دي او که د افسانې یا لنډو قیصو په بڼه کښې وي په برملا توګه د سماج او ټولنې اصلاحي شکل لري او په سماج کښې چې کومې ناخوالې او پېښې د انساني ژوند برخلاف تر سره کېږي هم هغه واقعات یې په افسانوي ډول په کرکټرونو بدل کړي وي او د یوۀ ناول یا افسانې بڼه یې ورکړې وي. د ښکاره او معلوم تاریخ له لارې داسې ثابتېږي چې د افسانوي ادب پیل یې هم له ناول څخه کړی دی او په لومړي سر کښې یې لومړی ناول چې د "بې تربیته زوی" په نامۀ لیکلی دی. دا لومړی ناول یې مکمل له اوله سره بیا تر پایه چې څومرې برخې یې تر لوستونکو رسېدلې دي په دې کښې مکمل د سماج په اړه قیصه لري. چې په کښې د یوۀ بې تربیته زوی د بې لارۍ او بې تربیته ځوان هلې ځلې او ژوند په حقله قیصه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليکلې شوې ده. دا ناول له اوله بيا تر پايه سماجي او معاشرتي اصلاحي ناول دی. خو نۀ شم وئيلی چې د پښتو ژبې ځنو څېړونکو د دې ناول په حقله داسې ولې وئيلي دي چې دا ناول مکمل خلقي نظره يا سياسي نظره ناول ؤ نو ځکه هغه وخت د دولت له خوا ورباندې پابندي لګېدلې وه. کېدای شي دغو څېړونکو دا ناول وئيلی نۀ وي صرف يې د دې په اړه اورېدلي وي چې چونکې نورمحمد تره کی يو سياسي او خلقي نظرياتي شخصيت ؤ نو ځکه يې دا ناول هم په دې وجه يو خلقي، اشتراکي يا سياسي نظرياتي ناول بللی وي. خو په حقيقت کښې دا ناول مکمل يو اصلاحي ناول دی. د دې ناول ټوله قيصه او چاپېريال افغاني چاپېريال دی او زمان و مکان يې هم افغاني دی چې په کښې د مقر اولسوالی باقاعده ذکر شوی دی.

له دې سره سره نور ناولونه چې وروسته يې ليکلي دي ( څړه، د بنګ مسافري، سپين، سنګسار) څلورسره ناولونه يې له معاشرتي اصلاح سره سره سياسي نظر په کښې له ورايه ښکاريږي او په خاص ډول يې د اشتراکي نظريې پيروي او پرچار کړی دی.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲.۳. په ناولونو کښې د مقامي او ټولنیزو ژوند خد و خال:

د نورمحمد تره کي په ټولو ناولونو کښې د مقامیت په حقله په واضحه توګه د خپل پلرني یا مورني ټاټوبي او خپل هیواد افغانستان ذکر شوی دی او له ورایه دا څرګندوي چې دا ناولونه په مجموعي توګه د افغانستان او د دهٔ دکلي او شاوخوا چاپېریال عکاسي کوي او ورسره بې د سماج خدوخال څرګندوي. یعني دا د یوهٔ ښهٔ ناول خصوصیت هم وي چې په کښې د هغه وطن او سماج تصویرسازي شوې وي. اوس که دا ناولونه په هره ژبه و ژباړل شي نو مقامیت او سماجي خدوخال به بې نهٔ بدلیږي او نهٔ به لوستونکي په دې اړه د څهٔ شک اوشُبې ښکار کېږي. هم دغه وجه ده چې دغسې ناولونو خپل اهمیت له لاسه نهٔ دی ورکړی او دا ښیي چې دا ناولونه تر اوسه ژوندي پاته دي او د بیا بیا چاپولو بې اهمیت تر لاسه کړی دی. نظریاتي یا سماجي ناولونه چې په کښې د خپل سماج او مقامیت په ښه توګه ترجماني شوې وي نو هغه هم دغسې ژوندي پاتې کېدلی شي. داسې ډېر ناولونه هم په پښتو ادب کښې شتون لري خو هغوئ د څهٔ داسې نیمګړتیا له کبله چې په کښې د خپل سماج خدوخال او یا مقامیت په ښه توګه نهٔ وي تصویر شوي نو له وخت تېرېدو سره سره بې خپل اهمیت او معنویت له لاسه ورکړی یعني بایللی وي. او دا داسې څرګندوي چې نورمحمد تره کي پر ناول لیکلو باندې په فني لحاظ ښهٔ لاس بري درلود. او د سماجي خدوخال بې ډېر زیات خیال په کښې په ډېره هنري توګه ساتلی دی او لوستونکي بیا بیا هڅوي چې داسې ناولونه ولولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


او د ناولونو په ژبه کښې یې د مقامیت خیال ډېر ساتلی دی او په ډېره ساده او کلیواله ژبه یې لیکلی دی. تر څو عام افغان پښتون اولس په اسانه توګه کته ترې واخلي او اولس و توانیږي چې د اسې قیصه لیکلو څخه د سماجي ستونځو تصویر په کښې له درایه ورته و برېښي او د راروان نسل د پاره بلا ګټې ترې تر لاسه کړي. د هم دغه مقامیت او سماجي خدوخال په حقله یې له ناولونو څخه په لاندیني کښې څۀ بېلګې داسې وړاندې کولای شو.

"شپه په لاره بله ورځ قافله د توبې د غرۀ له تنګې څخه راووتله او د هغه غرۀ په جنوبي لمنو کښې یوۀ کلي ته نژدې چې (برښاره) نومېدۀ واړول. په دغو برخو کښې واوره نۀ شته او لمر هم تود غوندې دی چې د ټولو د خوشحالۍ موجب دی. د زیاترو څرګانو خورې تمام شوي وو او هم ټول خورا زرۀ خوړېږي شوي وو.

لنګري او هم دا ډول څو نور مخور کسان دغه کلي ته ورغلل چې یو دوه پسونه رانیسي او هغه ونډه کړي. ګڼ شمېر څرګان هم ورغلل چې هلته یو څۀ اوړۀ واخلي او خپل خورې یې کړي". (۲)

دلته په دې پورتني پېراګراف کښې داسې ښکاره ده چې دا سیمه د اوسني ضلع پښین د یوۀ کلي نوم برښاره (برښور) نومېږي او په دغه څړه ناول کښې څرګان چې د غزني له سیمې څخه راروان دي او د مزدورۍ د پاره مخ پر سبوۍ (سبي) روان دي چې د ژمي په موسم کښې دوئ د تودو سیمو و خوا ته ځي او هلته د دوو یا درو میاشتو په خاطر په تودو سیمو کښې مزدوري وکړي تر څو بیا دوئ بېرته د اوړي په موسم کښې خپلو سیمو ته راګرځي او هلته بیا د کرکرونده روزګار پیل کوي. هم دغه رنګه یې په ټولو ناولونو

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې د مقامیت په ښکاره توګه څرګندونه کېږي او د ناولونو له کرکټرونو یا د هغوئ له سماجي کړو وړو څخه په ښکاره توګه واضحه کېږي چې ناول د یو خاص اولس د سماج، چاپېریال او مقامیت په اړه په ساده او روانه کلیواله پښتو لیکل شوی دی. د دې د پاره مونږ کولی شو چې د نورمحمد تره کي ټول ناولونه و وایو تر څو راته څرګنده شي چې رښتیا هم دغسې دي. یعني دا نور ناولونه لکه: "دبنګ مسافري" "سپین" "سنګسار" او ورسره دغه "څړه" وګورئ.

سماجي خدوخال بې هم په ټولو ناولونو کښې ډېر ښکاره او ښوت دی. په ادبي او ډېره ښایسته توګه چې د ناول فني چوکاټ هم په کښې برقرار ساتل شوی دی او په فني حقله بې سماجي اړخ په کښې ځای کړی دی. په دې اړه زۀ د یوۀ ناول څخه د نمونې په توګه و پېراګراف را اخلم چې په ناول لیکلو کښې یې سماجي اړخ څنګه ښکاره کړی دی. او په څومره ښکلې او فني انداز یې د خپل سماج خدوخال ځای کړی دی.

"یوه شپه چې د ګلالۍ مور لږ څۀ وختي راغله او د شبر مور لیدله، نو د شبر مور ورته و وئیل:

"خوارکۍ! دومره ځغلې او ستړیاوې پر ځان ګالې او له کوره هم ډېره وخته ورکه یې، زۀ به یو چل در وښیم هغه دا چې د مدیرآغا نوکري خوشې کړه او په کاروان سرایو کښې د مسافرانو کالي راوړه، مینځه یې، هم به دې ګټه ښه شي او هم به لږ هوسا یې، خلقو منتونه به دربانديٍ لږ وي، زۀ چې یو څۀ په قوت کښې وم نو دغه کار مې کاوه خو چې له لاس او پښو و لوېدم، نو شبر هم لوئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو او زما پر ځای اوس دی د وخکو د اوبو د خرخولو په اثر هغومره پیسې راوړي چې ما ګټلې، خورې! نارینه بیا ښهٔ دي هرکار کولای شي خو د ښځو دي خولهٔ وچه شي، پټې سترګې دې هیڅ لاس او پښه یې نهٔ ښوري، خلق ښه وایي چې ښځه پاک الله ناقص العقله پیدا کړې ده، که داسې نهٔ وای نو دوئ به هم خپل ځان په خپله چلولای شوای".

د ګلالۍ مور سم دلاسه ورغبرګه کړه:

"خورې! ته وایې هغه کارونه مې نهٔ دي کړي؟ په دې کار یعني د کالیو په مینځلو خو مې د لاس ټول نوکان بایلودل، خو بیا هم مونږ او وچه ډوډۍ نهٔ سره رسېدلو، له کومه وخته چې مېړهٔ مې د ښکاري درې په کار کې ترکاڼې لاندې او مړ شو، نو ما دخلقو د کالیو د مینځلو ته لار ورته کړ، دا څلور پینځهٔ کاله کېږي چې په دې کار بوختې وم، خو که رښتیا درته ووایم په هیڅ کار کې خبر نهٔ شته او هر لورې ته چې مخ کړم هغه راباندې وتړل شي او یا دومره ترې نهٔ راځي چې نهٔ مرم او نهٔ پایم، بخت مې خراب دی سرهٔ زر مې په لاس کښې تورې خاورې شي. په اصل کښې که رښتیا درته ووایم خورې! ورکړه د خدای ده، ځنې خلق وینو چې نهٔ بې لاس خوار دی او نهٔ بې پښه خواره ده. خو بیا هم له خوبه خورې او له خوبه ځښې، ټکه یوائې پر مونږ خوارانو لوېدلې ده، زهٔ چې ګورم ټول خواران او چوپړ وهونکي د خدای په قهر اخته دي، یوه یې نهٔ دوې کېږي، دا خوارۍ لا څهٔ کوې؟ میراث خواره مې هم لا نهٔ پسې پرېږدي، تل ځي او راځي او وایي چې زهٔ دا لونې پر خپل سر ورنهٔ کړم او د هغو ولور په خپله و نهٔ خورم. کله وایي چې دا نجونې

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



درڅخه بیایو او په جنوبي کښې بې خرڅوو او یا بې ازاد سرحد ته ورولو او پینځهٔ غرانه په جوړوو. وی خورې! یوه خواري او یو غم خو نهٔ دی چې زهٔ بې درته و ژاړم. د مدیر آغا د کورکار یوه ښېګڼه لري هغه دا چې لوښې مې په نس مړې دي، میراث خوارهٔ هم راباندې ډېر برېښ نهٔ شي کولی ځکه له مدیر اغا څخه ډارېږي...» (۳)

دغسي د ټولو ناولونو په قیصو کښې د سماجي خدوخال زیات خیال ساتل شوی دی او په دې اړه چې د نورمحمد تره کي کوم یو ناول سړی وایي نو د سماجي خدوخال تصویر سازي بې په ښکاره توګه د یوه مکمل او لرغوني سیمه ایز افغاني سماج ځني تصویر کېږي او هغه هم په ښه زړهٔ راکښونکې توګه ترې برېښي. یعني د نورمحمد د ناولونو د وئیلو پر وخت بالکل ویونکي داسې احساسوي چې ګواکې دی په ژوندی ښه یو ځهٔ اوري او ویني. چې دا د یوه ښه ناول لیکونکې له خصوصیاتو څخه دي.

## ۲.۴ د ناولونو سیاسي پس منظر:

د نورمحمد تره کي اولنی ناول "بې تربیته زوی" دی دا یو سماجي او اصلاحي ناول دی خو دا اخرني څلور ناولونه لکه (د ننګ مسافري. څړه. سپین او سنګسار) ټول په یوه خاص سیاسي منظر نامه یا پس منظر کښې لیکلې شوي دي او په وطن کښې د پادشاهت او سرمایه دارانه نظام او د هغه نظام د لاس پوڅو د سیاسي او سماجي بد مرغیو او کړنو په خلاف لیکل شوی دی او په ورایه په کښې د سیاسي نظریاتو پرچار په سماجي خدوخال کښې شوی دی او ورسره د یوهٔ مُنظم سیاسي تنظیم تبلیغات هم

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي دي. خو دا ناولونه بې سره له دې چې خاص سياسي پس منظر لري خو بيا بې هم د ناول فن او هيئت ته په کښې هيڅ زيان نۀ دی رسېدلی. داسې ناولونه اکثر د لوستونکيو د پاره د غير دلچسپۍ سبب وګرځي او خپل فني اهميت له لاسه ورکړي خو د نور محمد تره کي دغسې ناولونو خپل فن او هنر ثابت کړی دی. يعني که يو څوک د دغو نظرياتو په حمايت کښې نۀ وي نو هم د ناولونو له هنري ثبوت څخه به انکاري نۀ شي. د يو ښه سياسي تنظيم جوړولو او ورسره د انقلابي يون د پاره په کار کولو کښې مرستندويه ناولونه دي. ځکه خو تر اوسه په پښتو ادب کښې د تره کي دغه نالونو خپل اهميت نۀ دی بايللي. دا ناولونه په نړېواله کچه د مېکسم ګورکي نوبل انعام يافته ناول "مور" د کچې ناولونه کېدای شي. که څۀ هم په فکري حقله بې ځنې ليکوالانو مخالفت هم کړی دی او دا بې وئيلي دي چې چو نکې داسې ناولونه د يوې خاص سياسي نظريې د پرچار د پاره ليکل شوي وو نو ځکه بې اهميت هم نۀ شو پاته. خو د دې برعکس زۀ دومره وايم چې د نن په سياسي منظرنامه کښې که څۀ هم په ښکاره توګه اشتراکي نظريات او سياست وجود نۀ لري خو بيا هم هغه ناولونه ډېر خلق په شوق سره لولي او داسې اخستنه ځني کوي چې يو سياسي تنظيم څنګه منظم کېدای شي. چو نکې د دې نالونو د ليکلو په وخت کښې د افغانستان سماجي او سياسي منظرنامې د يوې ديکتاتورۍ (ډيکټېټرشپ) تر سايه لاندې ژوند کاوه او په افغانستان کښې د يوې کورنۍ يا يو شخص څلوېښت کلن امريت وجود درلود نو ځکه په هغه وخت او حالاتو کښې هم داسې فني ناولونو اهميت لا زيات تر لاسه کولای شو. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې مطلب دا هم شو چې د نور محمد تره کي سياسي او تجزياتي شعورهم ډېر لوړ ؤ او د خپل هيواد سماجي او سياسي حالاتو باندې يې ښه نظر درلود او د خپل تېز تجزياي شعور په برکت يې د اولس نفسيات هم په ښه توګه پېژندلي وو نو يې داسې کار ته ملا تړلې وه. ولې په ناول ليکلو کښې د خپل سماج سياسي. نفسياتي او معاشي توګه باندې جاج اخستل هم ډېر ضروري وي چې نورمحمد تره کي دا کار کړی دی. ځکه خو دغه ناولونه په هنري ادب ليکلو کښې ډېر مرستندويه ثابت شوي دي.

## ۲.۵. په ناولونو کښې د سياسي نظريې جائزه:

د نور محمد تره کي د نالونو تر شا يو سياسي محرک وجود لري لکه څنګه چې د نور محمد تره کي له ژوند او هلو ځلو څخه له ورايه ښکاري چې د نورمحمد ژوند له يوې سياسي مبارزې سره جوخت پاته شوی دی. او زيات تر عمر يې د سياسي فکر پلټلو ،څېړرولو او خپلولوکښې راتېر کړی دی او ورسره يې د خپل سياسي چاپېريال پر بنا د يوې خا ص نظريې ملګرتيا او پرچار کړی دی. او که مونږ و ګورو چې د نورمحمد تره کي ژوند له پينځۀ کلنۍ څخه په داسې حال کښې پيل شوی دی چې حتماً به د داسې ژوند پيل کونکي انسان چې تجزياتي احساس او د وطن اولسي مينه ورسره زېږېدلې وي نو کوم بلې خوا ته نۀ شي تلای ښې له سياست کولو څخه ځکه خو يې د خپل ژوند د پيل سره سره دغه سياسي شعور ورسره ملګری شوی دی او اکثر ناولونه يې د سياسي نظ ، په پس منظر کښې ليکلي دي. او په ناولونو کښې

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


بې په خاصه توګه د اشتراکیت یا سوشلزم د نظریاتو پرچار کړی
دی او په مکمل ډول بې د دغې نظریې د پاره په شعوري ډول کار
کړی دی یعني په ناولونو کښې یې په شعوري توګه دا هڅه کړې ده
چې په ټولنه کښې طبقاتي توپیر ولې وجود مومي او څه رنګه باید
داسي خام نظریات له منځه ولاړ شي تر څو لاندینی طبقه له دې
جنجاله ځان خلاص کړي. نور محمد تره کي د خپل وطن سماجي،
سیاسي. نفسیاتي او معاشي حالاتو دې ته اړ ایستلی ؤ چې د دې
فرسوده او ظالم نظام په خلاف خپلې هلې ځلې د خپل اولس د
راویښولو د پاره تر سره کړي او د دې مبارزې پیل بې له قیصه
لیکلو کړی دی او د خپل سماج یا سیاسي حالات بې په داسې
هنري توګه عکس کړي دي چې رښتیا هم د اولس د را ویښ کولو
یوه فني او د قبلېدو وړ وسیله ګرځېدله. او سوکه سوکه یې خپل
نظریات د هنري نثر له لارې اولس ته را ښکاره کول. چې ښه وسیله
یې ناول یا لنډه قیصه لیکل و ګرځېدله د هم دې نظریاتي حیثیت
لرلو بنیاد یې د دې شي وسیله وګرځېدله چې پښتو هنري نثر یې په
لومړي ځل له حقیقت پسندۍ سره اشنا کړ او ورسره یې تنقیدي
شعور په خپلو هنري آثارو کښې ژوندي ساتلي دي، او دا اعزاز تر
لاسه کوي چې پښتو هنري نثر هم د نړیوال معیار سره اشنا کوي
نور محمد تره کي په خپلو ناولونو لکه د بنګ مسافري، او
سنګسار کښې د خپلې اشتراکي نظریې پرچار په ډېر هنري ډول
کړی دی. او په واضحه توګه یې د سوشلزم پرچار د ځان دپاره او د
اولس د راپارولو دپاره غوره ګڼلی دی. چې د ناولونو له بېلګې څخه
داسې روښانه کېږي. بېلګه:

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دوره بې په یوهٔ ساعت کښې وکړه او بیا د باندې راووت.
دا وخت کښې دوه درې کسانو کار کونکو چې جامې بې تولې
په دې غوړې او جامې بې لا څهٔ چې خولې بې د ډېرغوړوالي له
په تیلو اوښتې وې، یو خط د معاون صاحب په لاس کښې
لاسه تورې. معاون صاحب چې خط ته وکتل هغه بې په لاس کې
کښېنود، او د یوهٔ کارګر پر مخ بې ور وغورځاوه او په ترېو تندي بې
ومروړ له ځانه سره و وئیل:

ځئ ورک شئ خدای مو خوار کړه. والله چې ټوله نړۍ مړه او
پته شي که تاسې کارګران خو ماړه شئ. هره ورځ ستاسې یو جنجال
وي. کله تنخوا ډېره غواړئ او کله درېشۍ غواړئ سرې مو په
کومه خوا پسې ورسېږي؟ دومره د فابریکې عایدات نهٔ وي لکه پر
تاسې باندې بې چې خرڅوي. ورک شئ خپل کار کوئ. د ریاست
مقام دا خبرې او چټیات نهٔ شي اورېدلای که چرې مونږ په خپله دا
لازمه و ګڼله البته ستاسې د درېشیو په باره کښې به غور وشي.
(۴)..

دلته د "سپین" ناول څخه په دې پورتني پېراګراف کښې د
مزدورانو د یووالي او په هغوئ کښې خپلو حقوقو د اخستلو د
پاره د ریاست په ضد راوتل او خپلې تنخوا یا د نورو سهولیاتو د
ترلاسه کولو د پاره د یو تحریك د پاره مزدوران راپارېدل او خپل
حق غوښتل یو سیاسي عمل دی چې داسې تحریکونه په وخت سره
د انقلابي مبارزې دپاره په مثبته توګه ګټه کولای شي. یعني د
نورمحمد تره کي په ناولونو کښې زیات تر سیاسي پس منظر وجود
لري او د هغه خاصو سیاسي سیمه ایزو حالاتو یا د دولتي چارواکو

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رويو چې په سياسي پرمختګ کښې خنډ پاته شوې وي په خلاف په شعوري ډول د ناولونو برخه جوړ کړل شوې وي. او ټول ناولونه بې په سماجي پېرايه کښې د سياسي نظرياتو د راپورته کولو او د سياسي شعور د راوړلو پرچار شوی دی. او په خاصه توګه د زيارکښې طبقې د رايو ځای کولو او په هغوئ کښې د هغه د دولت د منفي کارونو په خلاف ذهنيت پېدا کول او هغوئ ته په اولسي توګه د خپل حق د غوښتلو د هلو ځلو د پاره پېغام ورکول شوی دی يعني صرف يوازې اولنی ناول چې "بې تربيته زوی" نوميږي. کښې د ځوانانو د اصلاح د پاره په کښې پېغام ورکول شوی دی. او نور پاته ځلور واړه ناولونه بې د سياسي نظرياتو او د سياسي هلو ځلو او سياسي پس منظر په رڼا کښې ليکل شوي دي او د سياسي روزنې او مبارزې پېغام ورکول شوی دی.

Scanned with CamScanner

## ۲.۶. د نورمحمد تره کي په ناولونو کښې طبقاتي نظریه:

نور محمد تره کي د خپل ژوند د مبارزې او دخپلې سیاسي تجربې په رڼا کښې پر طبقاتي مبارزه یقین کړی دی او ټول عمر یې د طبقاتي فرق او امتیاز د ختم کولو د پاره سیاسي او ادبي هلې ځلې کړې دي. او هر وخت یې د لوړې، جابرې طبقې او مقتدر طبقې په خلاف خپل قلم ګرندی ساتلی دی . نور محمد تره کي چې له کومه وخته لیك پیل کړی دی .له هم هغه وخته یې لیکل د لوړې طبقې په خلاف، د سماجي انصاف او لاندینۍ طبقې د ګټې او پر مختګ د پاره لیکل کړي دي او په لومړي وار یې په پښتو ادب کښې د داسې مسایلو په خلاف قلم پورته کړی دی چې تر دې وړاندې یې مونږ په پښتو ادب کښې هیڅ بېلګه نهٔ لرو. یعني په فنې توګه یې پښتو ناول له ریالزم سره اشنا کړی دی او رښتني حالت یې بیان کړی دی.د نور محمد تره کي په ناولونو کښې د طبقاتي توپیر ختمولو، سماجي سمون او علم وتعلیم د پاره په ښکاره توګه مبارزه کړې ده. دی له ماشوموالي څخه د طبقاتي جبر او توپیر ښکار شوی دی یعني په پینځهٔ کلنۍ کښې یې د کور د معاش د پاره مزدوري کوله نو بیا یې تر پنځلس کلنۍ پورې مزدوري کړې او بیا یې مات ګوډ تعلیمي سلسله هم د مزدورۍ کولو سره مخ په وړاندې تر لسم ټولګي پورې ساتلې ده. نو ځکه د دهٔ په ژوند کښې د طبقاتي جبر او توپیر اثرات ښکاره پاتې شوی دی او ښکارې، دی یې دې ته مجبور کړی وي چې دی هم د طبقاتي توپیر او ناسموالي په ضد مبارزه وکړي ځکه خو یې په ټولو ناولونو کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم د لوړې طبقې او د هغوئ ملګري نړیوال سامراجي قوتونو او سمه ایز (ملاسید خان) ملګرو په خلاف د هغوئ د کردار د رابرسېره کولو د پاره ښه په ښکاره توګه څرګندونه کړې ده. په "څره" ناول کښې د سرمایه دارانه نظام د ناوړه کارونو تر سره کولو په خلاف د طبقاتي مبارزې او د مارکس دا خبره چې:

"(دنیا کے محنت کشو ایک ہوجاؤ)۵"

ژباړه (د نړۍ ټولو زیارکښانو سره یو شئ).

د پلي کولو د پاره یې د مزدورانو د یو کولو او د دې د پاره د پارولو یوه بېلګه په څره ناول کښې داسې انځوروي:

"داخو جوته خبره ده چې د کار ځای ته به مو تاسې رسوئ. کرایه مو پر تاسو ده، اوس تاسې ظالمان سربېره پر دې چې له خرو سره مو یو ځای په یوه واګون کښې سپروئ کرایه به لا هم غواړئ، زه خو دا وایم چې تاسوسودخواره، د خلقو دښمنان او انسانیت ته په سپکه سترګه ګورئ،که مونږ جلا د خلقو په واګونونو کښې سمدلاسه لېږئ ښه تر ښه، که نهٔ وي مونږ په تاپسې کار نهٔ کوو، هر وخت چې مو روپۍ و مونډلې ستا پېشکي روپۍ به هم بېرته درکوو".

د ژېړ ګل دغه وېږ پر حاضرو خلقو او په خلقو کې خورا ژوره اغېزه وکړه او ټول په یوهٔ وېږ ناري کړي:

"ښهٔ وایې سره له دې چې حقیقتاً ټوله نړۍ په مونږ ودانه ده بیا هم تاسې بې انصافه مونږ له خرو سره یو ځای تړئ یا یا مونږ دا ټیټوالي او بې عزتي نهٔ منو. د جمعدار وراره د دې لوئ ډلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زلمیانو نږغ خورا و ویروه او په بیړه دننه خپل اکا ته وراغد او
قیصه یې ورته وکړه.

اکا یې ورته ووئیل: "خدای مو دې د مزدورانو د طبقې له
یووالي او اتفاق څخه ژغوري.
د دوئ د یووالي قوت او قدرت تر هر څهٔ ډېر دی". (۶)

په هم دغه ناول کښې د یوهٔ سرمایه دارانه ریاست هغه عملیات
چې د اولس په لوټلو او د خپلو ناوړه ګټو تر لاسه کولو د پاره تر
سره کوي او د غلو یا ډاکوګانو په پټه ملا تړ کوي او د شپې له
مخې د مسافرانو په قافلو باندې حملې کړي او د ټېکس په نامهٔ
خلق لوټي. په ناول کښې یې څهٔ داسې انځور کړی دی:

"که خدای تاسې مهربانه کړی پر مونږه ځړګانو رحم وکړئ او
پرې مو ږدئ. څلور میاشتې مو له ډېرو نوکان وهلي دي او څو ګزه
رخت مو کورو ته کړی دی. دا راپرېږدئ چې یو یې شو، دعا به
درته کوو خدای به مو په هغه جهان کښې جنتونه ځای کړي.

یوهٔ ماسل تور شړک په ځپېړه و واههٔ او هغه بل په لغته پر
لېنګو و واهه او د ښکنځلو او پوچ او رد په ضمن کښې یې ورته
ووئیل تاسو باغیان یاست حکم نهٔ منئ که مو شرعي غم ورکړد وای
نو اوس به ولې په دغو خواریو اخته کېداست. درځئ چې لوئ
خرڅګیر ته مو په لاس ورکړو په تاسې باندې خو د بند حکم هم
راخېژي نو دا ناروا ده چې تاسو به یې کوئ. په اصل کښې ناروا
خلق یاست چې په دې لومه اخته شواست" (۷).

یعني دلته په دې ناول کښې که څهٔ هم د ځړګانو قیصه ده خو په
دې قیصه کښې د طبقاتي توپیر او زورورو غلو او مذهبي خلقو

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملکرتیا سره تړلي شوې ده چې د سماج په زیان او د لاندینۍ
زیارکښې طبقې په تاوان کارونه کېږي او یو سرمایه دارانه ریاست
د غلو او ډاکوګانو ملاتړي کوي چې غله په هره لاره او شپله کښې
په ازاد مټ د خلقو لاره نیولای شي او خلق یا مسافران چې په
مزدوریو پسې تللې وي او څۀ بې د کور نۍ د پاره ګټلې وي هغه
ځنې واخلي. هم دغه رنګه یې په "سپین" نومې ناول کښې هم د یو
سرمایه دار سړي د مړینې پس د هغۀ د میراث د وېشلو په وخت د
هغه د کورنۍ تر میان د ملا،خان صاحب او صاحبزاده صاحب د
منفي کردار او خان د ریاستي لاس لرلو په وسیله پر اولس باندې
دغسې زیاتوبونه روا ساتلې او داسې نور کارونه چې د منصبدارۍ
له لارې له اولس سره زیاتوبونه کوي.داسې ټولنیز کردارونه چې
هغه د لوړې طبقې په ګټه کارونه کوي او د لاندینۍ یا زیارکښې
طبقې په زیان لوبول کېږي د هغوئ بې په کښې په ښه توګه
څرګندونه کړې ده. چې دا هم د طبقاتي نظریاتو د پاره یوه مبارزه
ده. یعني طبقاتي شعور خورولو باندې کار په کښې شوی دی.

"سپین مسکی شو او په خورا خوارۀ ږغ او رونو سترګو چې د
خورا ډېر اخلاص بڅرکي ترې نه غورځېدل ورته ووئیل:

"صاحبه! که مونږ ستاسې غوندې ښو خلقو او پیرانو په لنګر
کښې خپل سرونه کښېږدو نو هم لږ ده. دا ځکه چې زمونږ ټوله
ستاسو د دعا او مرستې نتیجه ده. خدای دې د خان صاحب او ملا
صاحب سیوري هم زمونږ له سره نۀ کموي. که دغه علماء او باتدبیره
خلق نۀ وای نو هم به مو ژوند تریخ وای دوئ دواړه له ما سره ناست

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي او نهٔ ولاړ. زمونږ د کالهٔ د نېکمرغۍ لپاره هرډول مرسته کوي.
بله خبره خو دا ده چې تاسو هم په خبر یاست چې دوئ دواړه وصیان
شوي دي. ښهٔ دي د ملا صاحب خو اوس ګزاره شکر دی ښه شوي ده
په دې وختونو کښې یې یو دوه ایکړه مځکه هم رانیولې ده»(۸).

د نور محمد تره کي په یو بل ناول چې د سنګسار په نامهٔ لیکل
شوی دی هم مکمل د طبقاتي مبارزې یو نمونه ده او ټول ناول د
خپل سماج د سیاسي او معاشي منډو ترړو د پاره لیکل شوی دی
او په دې ناول کښې ټول ټال د سماجي نا انصافیو. د سرمایه دارانه
حکومت د پرمختګ د پاره د مُلا ، ملک. خان، حکومتي ماسلان،
د قاضي. حضرت او نور ټول هغه کردارونه چې د سرمایه دارانه
نظام دفاع کوي او د هغه د غلطو کړنو د تحفظ د پاره کار او زیار
باسي په ضد لیکل شوی دی او ورسره د زیارکښې طبقې په خلاف
د دوئ کردارونه ښکاره کړې دي. او د ناول ټوله قیصه د هغو
ظلمونو او بې لاریو په خلاف ده کوم چې د مقتدرو قوتونو له خوا
مذهب د خپل سرکاري کار په ګټه کارول او مُلا چې د مذهب خاص
کردار دی په خپله غېږه کښې ساتل او د اولس په ضد داسې کارول
چې اولس هیڅ کله د یو تحریك ښه نهٔ کړې خپله او هر ناروا، روا
ګڼل شوې وي. او د خلقو له مذهب سره مینه او بیا له هغې څخه
ناوړه ګټه اخیستل بې ښه په ګوته کړې دي یعنې اولس صرف د
مذهب د سپېڅلي ملګرتیا هر زور او بار پر ځان وړي یعنې په دې
کښې چې پر شپږ نومې هلک باندې د زندیقي دروغجنه فتوا
لګیږي او بیا بې پلار هم له مذهب سره د مینې په خاطر پر زوی
باندې زور اچوي چې که تا د قران مجید بې حرمتي نهٔ ده کړې نو هم

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه بې منه. خدای رحیم دی رحم به درباندې وکړي او و به دې بخښي. ولې چې مُلا او قاضي وايي چې تا تر خو جرم منلی نهٔ وي نو توبه دې هم بيا نهٔ قبليږي په دا طرز دوئ شبړ په دې راضي کړې چې دهٔ دا کار کړی دی او بيا چې يې ومني نو شبړ وايي چې زهٔ اودس تازه کوم تر څو توبه و کاږم خو قاضي ورته په خنسم وايي چې ستا نوره سزا سنګسار ده او پرتا د توبې ور وتړل شو او په داسې حال شبړ سنګسار هم کړې.

نور محمد تره کي په دې ناول کښې ډېره ښه عکاسي کړې ده.چې داسې ناولونه هر وخت د ټيټې طبقې د يووالي او د يوهٔ تحريك د پاره ښهٔ رول لوبولی وي. دا ناول هم د هغو ښو ناولونو په قطار کښې شمار ناول دی کوم چې په اولس کښې د طبقاتي مبارزې درس ورکولای شي. لکه د مېکسيم ګورکي ناول چې د "مور" په نوم ليکل شوی دی.د دې (سنګسار) ناول يوه بېلګه چې د طبقاتي مبارزې څرګندونه په ښکاره توګه ځنې کېږي لنډيز څهٔ داسې دي.

سهار پر لسو بجو چوکچوکه (آوازه) شوه چې شبړ قران شريف په غولتون کښې اچولی دی او په دې ترتيب يې ځان د سنګسار وړ ګرځولی دی. ....د شبړ لاسونه يې تر ملا ور وتړل....راځه کنه زمونږ ملګري ټول لاړل اوس ته دې خرهٔ ته څهٔ شپېلۍ وهې اصل زنديق خو په لاس کښېوت.... اوس اوس مُلا صاحب له قومندانی څخه راغی. هغه وايي چې تحقيقات به سبا ته شروع شي،....بيا يې د شبړ پلار مخته ورواړاوهٔ.

نور به په زوی پسې نهٔ ګرځي او.....

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کښې عبدالفتاح نومي چې د کانو په وزارت کې
بې د سرکاتب په حېث کار کاوهٔ او يو له هغو درو کسانو څخه چې د
ښېر د جرم د اثبات له پاره بې ملا ټينګه تړلې وه راښکاره شو، کوم
وخت چې بې مُلا او د ښېر پلار يو ځای سره وليدل نو مُلا بې يوې
خوا ته کړ او هغهٔ ته بې و وئيل:

"له دغه سپينږيري سره مه رغبږه له دهٔ څخه بيا پوښتنه کيږي.
د دې له پاره چې مونږ او تاسې بې پلار هم په خپلې خوا کړو او د
ښېر په ضد د دهٔ شهادت حاصل او يا لږ تر لږ په دې کېفيت کښې
بې طرفه کړو........

د ښېر پلار د خپل لمسي له ښخولو وروسته نېغ جمات ته
ورغلی چې د ښېر په باره کښې معلومات تر لاسه کړي په جومات
کښې بې فتاح او د دهٔ ځو نور ملګرې وليدل چې د ښېر په باره
کښې په ډېرو تودو خبرو بوخت دي. د فتاح چې سترګې پر ونښتلې
نو بې پر رږغ کړ:

"د ښېر زنديقيتوب ثابت دی اوس تاته ښه موقعه په لاس
درغلې ده چې ايمان و کتې او يا ايمان و بايلې...نو که غواړې چې
د اسلام مقدس دين ته خدمت وکړې نو بايد زوی تر پښو لاندې
کړې او د حقيقت په شاوخوا کې شهادت ورکړې!".(۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲.۷ د ناول نګار په حيث پښتو ادب کښې د نورمحمد تره کي مقام:

پښتو افسانوي ادب د ناول په برخه کښې مونږ له تر نورمحمد تره کي له مخه داسې کوم بل ليکوال په مخه نۀ راځي چې پښتو ناول يې له جديد نوعيت سره اشنا کړې وي. او پښتو ناول يې له ريالزم سره اشنا کړې وي. يعني نورمحمد تره کی دی چې پښتو ناول يې په لومړي ځل د يو ښۀ هنري ناول ليکلو سره اشنا کړی دی. ولې تر دې وړاندې په لومړي ځل يو ناول چې د ماه روخ (نتيجه عشق) په نامۀ باندې په ۱۹۱۲ کښې د راحت زاخېلي ليکلی او چاپ شوی دی خو پر هغه باندې لا تر اوسه څېړونکي په اتفاق نۀ دي ولې چې نيم خلق دا ناول د کرکټرونو په حقله د پښتو ناول نۀ بولې او د پښتو لومړی طبعزاد ناول يې هم نۀ بولې. او له دې وروسته بيا پر دې خبره ډېر څېړونکي پر دې خبره متفق دي چې په پښتو ادب کښې دوېم ناول په ۱۹۴۰م کال کښې د نورمحمد تره کي "بې تربيته زوی" نومې ناول دی چې يو اصلاحي ناول دی. خو ځنې ليکوالان بيا د حافظ محمد ادريس "پېغله" نومې ناول چې په کال ۱۹۵۰م کښې چاپ شوی دی، د پښتو ادب دوېم ناول ګڼي او ځنې ليکوالان بيا په دې نظر هم دي چې د پښتو لومړی طبعزاد ناول هم دغه د نورمحمد تره کي "بې تربيته زوی" نومې ناول دی او دا دليل وايي چې د دې ناول سيمه، ژبه، لهجه، چاپېريال، کردارونه او قيصه ټوله پښتنې او افغاني دي نو ځکه داله هره پلوه د ناول په ټول پوره دی او د دې ناول په شان تر دې وړاندې کوم بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناول په پښتو ژبه کښې نهٔ دی لیکل شوی چې مونږ ورته یو طبعزاد ناول و وایو. البته د پښتو د لومړي طبعزاد ناول په حقله ډېر بحثونه شوي هم دي خو په دې تېرو بحثونو کښې د رشید احمد څېړنه د کار وړ ده او د تحقیق په اصولو پوره څېړنه یې کړې ده.

رشید احمد په خپل منطقي بحث کښې دا ثابته کړې ده چې د نورمحمد تره کي لومړی ناول "بې تربیته زوی" چې نیمګړی چاپ شوی دی د پښتو لومړی طبعزاد ناول ګڼي او دا ادعا یې ثابته کړې ده چې هم دا ناول لومړی د پښتو طبعزاد ناول دی. زهٔ د خپلې دغه تحقیقي مقالې په لیکلو کښې د څېړنې له مخې په دې نتیجه رسېدلی یم چې په دې اړه د رشید احمد و شوي کار ته د قبولیت په سترګه وګورو. او هم دغه ناول د پښتو لومړی طبعزاد ناول و ګڼل شي. هم دغه رنګه د دې ناول پر کومو نیمګړتیاوو چې مخکښې نیوکه شوې ده هغه ګوره چې کوم لامل ولري؟ البته د دې ناول په وئیلو سره او د هغه په فني توکه د ناول په چوکاټ کښې دننه په څېړنې سره به هر لیکوال او نقاد په دې پایله رسیږي چې هم دا ناول د پښتو لومړی ناول دی چې د ناول ټول کړهٔ وړهٔ، ژبه، منظرکشي، پلاټ، کردارونه، قیصه او ربط د یو ښهٔ ناول ثبوتونه لري چې د هم دغو خصوصیاتو لرلو باندې مونږ هم دا ناول د پښتو لومړی طبعزاد ناول ګڼو.

پښتو افسانوي ادب د ناول په برخه کښې نورمحمد تره کی رښتیا هم یو ځانګړی مقام لري هغه په دې چې هغه په پښتو ادب کښې لومړی لیکوال دی چې د ناول په برخه کښې یې په فني توکه ناول ته ډېره په زړهٔ پورې ځانګړتیا ورپه برخه کړې ده او ورسره یې

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو ناول ته ځانګړی اسلوب هم ورکړی دی. دی اولنی لیکوال دی چې په اول وار یې پښتو ناول له آفاقي مفکورې سره اشنا کړی دی او په ناول کښې یې د خپل سماج رښتنې انځورګري کړې ده. د ناولونو ژبه یې ښځې آفاقي او زړه راکښونکې ده. نورمحمد تره کي په پښتو ادب کښې د نړیوالې کچې ناول لیکلو اعزاز په غاړه لري هم دا اعزاز لري چې د طبقاتي توپیر انځورګري، د سماجي بې لاریو او ناوړه دودونو انځورګري یې هم په ښه توګه کړې ده. زما په اند نورمحمد تره کی د پښتو ناول لیکلو په لړ کښې رښتیا هم داسې مقام لري چې دا به هر وخت ژوندی پاته وي د دهٔ له ناولونو څخه واضحه ده چې نور محمد تره کی یو ښهٔ ناول نګار دی. په دې اړه باندې ډېر څېړونکي هم په یوه خولهٔ دي. په داستاني کلیاتو کښې چې د صادق ژړک په زیار او سمونه تالیف شوی دی. "ارواښاد نورمحمد تره کی او د هغهٔ پنځونې" تر سرلیك لاندې لیك کښې ش. حصین د تره کي په حقله څهٔ داسې لیکي:

"ارواښاد نورمحمد تره کی د خپل وخت له ادبي نړۍ څخه ډېر څهٔ لري، د خپلې مورنۍ ژبې په ښنګ کښې له دري، انګلېسي او اردو ژبو سره پوره بلدتیا لري. د سیمې او نړۍ د ډېرو وتلو لیکوالو له تخلیقاتو سره پېژندګلوي لري او ډېر په زړهٔ پورې څهٔ بې له هم دې لارې په پښتو او دري آثار ور زیات کړي دي. د هند د نیمې وچې له شتمن ادبي بهیر څخه ډېر څهٔ ورسره دي او د اُروپا (یورپ) د ادبي دنیا له ډېرو ښو او نامتو څېرو سره څېړنیزه پېژندګلوي لري. د ادبیاتو په هنري ښکلا او د ادبي تخلیقاتو په فني اصولو لاس بری دی". (۱۰)

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هم دې اړه باندې عبدالکريم بريالي په ليکنځي نومې مجله
کښې څه داسې ليکې:
اور نورمحمد ترہ کئ نے پشتو ناول کے صنف کو آگے بڑھایا.
وہ بنیادی طور پر ناول نویس ہیں، کرداروں کی تخلیق اور منظم
پلاٹ پیش کرنے میں انکا کوئی همسر نہیں" (۱۱)
ژباړه: (نورمحمد تره کي د پښتو د ناول صنف ډېر مخ په
وړاندې بيولی دی. هغه په بنيادي توګه ناول نګار دی، د کرادارونو
د تخليق او په مربوط پلاټ پېش کولو کښې د هغهٔ په سرڅوک نهٔ
شي کېدای).
د نورمحمد تره کي د ناولونو په حقله ښاغلی زرين انځور
ليکي چې:
ناول ليکنه د نورمحمد تره کي د قلم هغه پنځونې دي چې په
خاص ډول ورته بايد تم شو. په خپل وخت کښې زمونږ د ټولو
داستاني ليکوالو په تناسب په دې لړ کښې د هغهٔ کار د کميت او
کېفيت له پلوه زيات دی" (۱۲).
د نورمحمد تره کي د ناول ليکلو په اړه طلعت بېګ مصداق په
خپله پي ايچ ډي مقاله کښې ليکي چې:
ک. الف. ليبيديف د لومړي ځل لپاره دا خبره څرګنده کړه چې
په پښتو ژبه د معاصر ناول ليکنې بنسټ اينودونکی نورمحمد
تره کی بلل کېږي په دغو مقالو کښې د ليکوال (تره کي) ژوندليک
او د نوموړي د ناولونو کره کتنه کښل شوې ده. ک. الف. ليبيديف په
روان ادبي بهير د نورمحمد تره کي خدمتونه نهٔ هېرېدونکي ګڼي او

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پښتو ادب کښې یې د ناول د ژانر بنسټ اېښودونکی بولي".(۱۳)

پروفېسر کانستانتین لېبېدیف په خپله یوه مقاله کښې نورمحمد تره کی د پښتو ژبې بنسټګر ګڼي او لیکي چې:

"نورمحمد تره کی نهٔ یوازې د افغانستان د یو وتلي سیاسي شخصیت په توګه نامتو دی، بلکې هغه یو بااستعداد لیکوال او په پښتو ژبه کښې د لنډ هنري داستان او ناول د رامنځته کېدو نوښتګر او بنسټ اېښودونکی دی".(۱۴)

ښاغلی رشید احمد د نور محمد تره کي ناول "بې تربیته زوی" د پښتو ړومبي طبعزاد ناول په حېثیت یاد کړی دی هغه لیکي چې:

"دا یوه ادبي سمونه ده چې مونږ یې په پرانستي زړهٔ او فراخ ذهن سره وکړو او دا تسلیم کړو چې د پښتو وړومبی طبعزاد ناول هم دغه د ښاغلي نورمحمد تره کي "بې تربیته زوی" دی د دې ناول نهٔ خو په چاپ کېدو کښې څهٔ ابهام شته او نهٔ په طبعزاد کېدو کښې، د دې ناول کردارونه، رحیم جان، د هغه مور، نیا او پلار خان بابا سوچه پښتو وایي او په پښتنې ماحول کښې ژوند کوي او د پښتنو دود دستور په کښې ښودلی شوی دی".(۱۵)

دلته مونږ په دې نتیجه و رسېدو چې نورمحمد تره کی په پښتو ناول لیکلو کښې د یو بنسټ اېښودونکي رول لري او په ناول لیکلو باندې یې په فني توګه هم ښهٔ لاس بر دی. د دې خبرو څخه څرګندېږي چې د نورمحمد تره کی د خپل وخت او ادبي مقامیت په حقله د پښتو یو ښهٔ هنري ناول لیکونکی دی. ولې چې کله هم د ژبې په افسانوي ادب کښې پرمختګ کېږي نو له هغهٔ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنه ادبي پس منظر هم څرګندیږي. خو پښتو افسانوي ادب کښې ناول د ځۀ پس منظر څخه بغېر په ډېره تېزئ سره فني او هنري پرمختګ تر لاسه کړی دی. او دا پرمختګ مونږ د نورمحمد تره کي په سر ورکوو. ولې چې نورمحمد تره کي په نړیواله کچه د خپل ادب سره سره د نورو ادبیاتو هم مطالعه کړې ده. او دا دی چې تر اوسه بې لا ناولونو هم هغسې اهمیت لري لکه یو ناول چې په یو خاص چاپېریال کښې ولیکل شي او بیا په هم هغه چاپېریال کښې ډېر شهرت تر لاسه کړي. خو د نورمحمد تره کي ناولونو آفاقي حیثیت تر لاسه کړی دی هغه په دې چې دا ناولونه نن هم ځوان پاته شوي دي. په ناول لیکلو کښې افاقیت تر لاسه کول رښتیا هم د لیکوال د پاره ستونځمن او سخت کار دی چې دا کار نورمحمد تره کي په خپل فن او هنر ثابت کړی دی او دا دی زمونږ مخې ته پروت دی او دا پورتني بحث مونږ په دې تنیجه رسوي چې د پښتو لومړی ناول نګار هم نورمحمد تره کی او هم د ښۀ ناول لیکونکیو په قطار کي د سر په لیکوالانو کښې شامل دی. او مونږ هم د رشید احمد د دې خبرې ملګرتیا کوو چې په پښتو کښې لومړی طبعزاد ناول د نورمحمد تره کي "بې تربیته زوی" دی. باید دا خبره په پښتو ادب کښې په رسمي توګه و منله شي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حوالې


۱. ژړک، محمد صادق، د نورمحمد تره کي داستاني کلیات. پښتو ادبي غورځنګ، شالکوټ، کال فروري ۲۰۱۴م، مخ ۱۴
۲. تره کي، نورمحمد، څپه، د ښوونې اوروزنې مطبوعه. افغانستان. کال ۱۳۵۷ هج (۱۹۷۸) مخونه ۹۱-۹۲
۳. ژړک، محمد صادق، د نورمحمد تره کي داستاني کلیات. سنګسار، پښتوادبي غورځنګ، شالکوټ. فروري ۲۰۱۴م. مخونه ۵۱۱-۵۱۲
۴. ژړک، محمد صادق، د نورمحمد تره کي داستاني کلیات. د بنګ مسافري، پښتو ادبي غورځنګ. شالکوټ، فروري ۲۰۱۴م، مخ ۲۹۶
۵. مارکس. کارل. کمیونسټ مینیفیسټو، ۱۸۴۸. مخ ۱
۶. ژړک، محمد صادق، د نورمحمد تره کي داستاني کلیات، مخونه ۲۰۰-۲۰۱
۷. ایضاً، مخونه ۲۲۵-۲۲۶
۸. ایضاً، مخونه ۴۵۱-۴۵۳
۹. ایضاً، مخونه ۲۲۴-۲۴۹
۱۰. ایضاً. مخونه ۷۱۶
۱۱. لیکنځي، بريالي. عبد الکريم. پښتو ناول، پښتو اکېډمي کوئیټه، قلات پرېس کوټه. کال ۱۹۸۷-۱۹۸۸، مخونه ۵۱-۵۲
۱۲. زنځور، زرین، د پښتو معاصر داستاني ادبیات، دانش خپرندویه ټولنه. کال ۱۳۹۳ هـ ش (۲۰۱۴) مخ ۱۵۳


Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳. ژړک. محمد صادق، د نورمحمد تره کي داستاني کليات.مخ
۷۴۴
۱۴. ایضاً. مخ ۷۶۲
۱۵. احمد. رشید، پښتو ناول (سل کاله) ضیا سنز پرنټرز پېښور،
کال ۲۰۱۵م مخونه۳۶۱-۳۶۲

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریم باب

د نورمحمد تره کي ناولونه په فني حقله مکمل او پوره دي چې په هر ناول کښې يې د فن ډېر زيات خيال ساتل شوی دی. داسې ښکاري چې دی د ناول ليکلو له مخه د ناول په فني لوازماتو خبر او په دې اړه ښه مطالعه هم لري. ځکه خو يې د ناول فني اړخ مضبوط دی او هيڅ فني نيمګړتياوې په کښې نه ښکاريږي. تر دې وړاندې يا په دې وخت کښې چې د پښتو نور ناولونه ليکل شوي دي چې په هغو ناولونو کښې فني نيمګړتياوې هم له ورايه ښکاري. البته د نورمحمد تره کي په لومړي ناول کښې هم فني نيمګړتياوې نه احساسيږي. يعنې دی پر ناول ليکلو باندې ښه لاس بر دی.

دلته مونږ د نورمحمد تره کي د ناولونو د فني توکيو يا فني لوازماتو په اړه بحث کوو چې نورمحمد تره کی په خپل ادبي هنرباندې د ناول دغه فني اړخ ته څومره کتنه کړې ده او څومره يې په خپلو ناولونو کښې ورته ځای ورکړی دی.

### ۳.۱. قيصه:

قيصه چې د ناول ليکلو د پاره بنيادي عنصر دی تر څو چې له ليکوال سره يوه قيصه نه وي نو ناول ليکل مشکل وي او هغه قيصه حقيقت يا و حقيقت ته نژدې نه وي نو هم ستونځمنه شي چې ليکوال دي هغه قيصه په يو ښه ناول ليکلو کښې بدله کړي. قيصه چې د ډېرو کردارونو لوبېدلو پس منظر ته راځي او دا قيصه ځکه ليکوال ليکي چې په هغې کښې د ژوندي چاپېريال يا د ژوندي سماج د ژوند عکاسي شتون ولري. او دا قيصه د ناول د مرکزي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیال د پوره او پای ته د رسولو د پاره د پلاټ په وسیله ربط یا تړون مومي تر څو یو بشپړ ناول ځني جوړ شي. څومره چې قیصه خوندوره وي هغومره ناول خوندور، زړه وړونکی او دلچسپ وي.

د نورمحمد تره کي ټول ناولونه که مونږ وګورو د قیصې په حقله باندې په زړه پورې او ښکلې قیصه لري. د ټولو ناولونو قیصې بې نبغ په نبغه د انساني ژوند په حقله دي او ځکه زړه راکښونکې هم دي. ولې چې بالکل حقیقت سره جوختې قیصې یې ټاکلې دي. کله چې د نورمحمد تره کي یو ناول یو کس لولي نو هغه بالکل نه شي کولای چې ناول دې په منځ کښې پرېږدي یعنې نیمی دې و وایي او بیا دې بل وخت بقایا پسې و وایي. د هغه وجه دا ده چې داسې ناولونه په فني حقله مکمل لیکل شوي وي ځکه خو ویونکی له ځانه سره تر پایه په شعوري او عقلي توګه وړي او ویونکی دې ته مجبور کوي چې قیصه تر پایه و وایي چې دا په ناول کښې تلوسه (سسپنس) ثابتوي. او دا د یوه ښه ناول له خوبیانو څخه وي چې قیصه یې جلبونکې او په زړه پورې وي. قیصه یې په ځان کښې دومره زور لري چې هیڅ یو ویونکی دې ته نه پرېږدي چې ورباندې دیغت احساس کړي. دلته به مونږ په لنډه توګه د نورمحمد تره کي د هر ناول د قیصې په حقله خپله تجزیه پیش کړو.

(ا) بې تربیته زوی: بې تربیته زوی د نورمحمد تره کي لومړی ناول دی چې مونږ ته په بشپړه توګه هم نه دی تر لاسه شوی خو بیا هم دا ناول په خپل تن کښې بشپړ دی .قیصه یې د ژوند مکمله عکاسي کوي او دا قیصه د یوه ځوان چې رحیم جان نومیږي، هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر مور، انا (نیا) او پلار (خان) باندې ډېر ګران وي. خو چې کله ځوان شي نو بیا پر خپل مخ باندې کارونه کوي د هیڅ چا خبره نه مني او ځوک د باندې (باهر) څۀ ځکه نۀ ورته وايي چې د ده پلار ډېر سخي او تکړه کس دی ټول کلي او دیار ورته احترام لري او خان بیا ځکه څۀ نۀ شي ورته وئیلای چې په کور کښې مور او انا ورباندې خوابدې شي. ټول کلیوال د خان سره خواخوږي کوي او ورته وايي چې دا زوی دي اوس زلمی شوی دی باید وتعلیم ته یې ورواچوې او سبق ورباندې و وايې چې په مستقبل کښې د خان پر ټبر باندې یو ښۀ تعلیم یافته او د قام په ګټه انسان ناست وي. که نۀ وي نو بې لارې به شي اوس یې هم چې نوې ځواني ده لږ نامشروع (غیر شرعي) کارونه ځنې کېږي او د کلي خلق ځنې تنګ شوي دي. پکار دی مخنیوی یې اوس لا وکړې. په دې قیصه کښې ځکه دومره زور او ښکلا موجود دي چې دا د هر انسان د پاره ضروري وي او خواهش یې هم دا وي چې خپل اولاد ښۀ و روزي او د مستقبل د پاره یو ښۀ انسان ثابت، شي. په دې ناول کښې ټوله قیصه دومره ربط سره لري چې بالکل ټوله قیصه د حقیقت آئینه ده. نو ځکه داسې قیصه د یوۀ ښۀ ناول ثبوت هم ورکوي. او ورسره ټوله قیصه په فني حقله هم پیاوړې ده چې دا یوه مکمله د ناول قیصه ده. داسې هیڅ فني کمي په کښې نۀ ښکاري چې سړی ورته صرف یو نکل یا داستان و وايي.

(ب) څړه: په دې (څړه) ناول کښې هم ډېره په زړۀ پورې قیصه انځور شوې ده. دا قیصه د څړه ګانو د ژوند عکاسي کوي چې د تور په نامۀ کردار یې خاص کردار دی. تور چې یو ډېر غریب سړی وي

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې مور او پلار يې هم ژوندي نهٔ وي او د دهٔ يوه خور د بتکۍ په نامهٔ يو کردار وي او دوئ خپل اکا خړ اکا را لوئ کړي وي. خو دی بيا په مزدورۍ پسې بل ښار ته په ژمي کښې ځي چې نس واړوي او يو څهٔ د خور يا اکا د پاره و ګټي او د کلي له څړګانو سره چې هر کال په ژمي کښې په مزدورۍ پسې د قافلې په شکل کښې ځي. په ناول کښې د څړه ګانو د ژوند په حقله هر اړخيزه مکالمې شوې دي چې دا قيصه يې تر پايه پورې په سالمه او هنري توګه رسولې ده. دا قيصه د سماجي ژوندسره سره د سياسي او معاشي هلو ځلو هم عکاسه قيصه ده او ورسره د مزدورانو چې په مزدورۍ پسې بهر ښارونو ته ځي او هلته يو څهٔ ځان ته ګټي خو بيا هم د سرمايه دارانو يا حکومتي خلقو، دغلو په شمول له دوئ سره کومې ناوړه او له ظلمه ډکې پېښې کېږي چې په ډېره زړهٔ راکښونکې او بې له څهٔ فني نيمګړتياو قيصه تر پايه رسولې ده.دې قيصه کښې مرکزي خيال د لوړې او لاندې طبقې تر منځ د ښکاره توپير په ضد مبارزه ده. او هيڅ ګوندبازي يا سلوګن په کښې نهٔ دي ښکاره شوي چې قيصه بې خونده کړي. دا قيصه يا موضوع آفاقي اړخ لري چې په هر سماج کښې شتون لري او داسې پېښې د سماجي تاريخ په هره سيمه کښې ډېر د اهميت وړ وي. ځکه ليکوال يې د قيصې په ټاکنه کښې ډېر مهارت لري او يوه آفاقي قيصه يې ټاکلې ده.

(پ) د بنګ مسافرې: په دې ناول کښې د يوهٔ ځوان چې بنګ نوميږي کليوال زلمی دی قيصه شوې ده. بنګ چې يو غريب ځوان دی د مزدورۍ د پاره له غزني څخه د قندهار په لور په مزدورۍ پسې ځي. د بنګ يوه کونډه مور او دوې خوېندې وي او د دوئ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله مځکه چې پلار يې په خپله ځنې خرڅه کړې وي او دوئ بې جائيداده پاته شوي وي. او دی له پاوندوو سره په کډو کښې ځې په دې خاطر چې ايکړ هم نۀ شي او په لارې بې خرڅ هم و نۀ شي. او بيا چې کله هلته ورسېږي نو يوه ورځ د وځکيو د پاکولو په کار ولګېږي خو دوېمه او دريمه بيا د وړې په فابريکه کښې د وړيو د مينځلو پر کار لګېږي او بيا سوکه سوکه خورا ښۀ شي، کار بې هم زده کېږي او بيا د ښۀ کار کولو په وجه د مشينانو په چلولو باندې له يوۀ استاد سره په دغه فابريکه کښې شاګرد هم شي. خو د ښۀ کار او اخلاص له کبله يې د فابريکې مشر په خپل کور کښې د خدمتګار په حېث پر کار وګوماري او دی دلته په کار کښې ډېر خوشحاله وي. خو له څو مياشتو وروسته دی بېرته د کور په خوا له پاوندوو سره له هم هغه کانې نومې پاونده سره په ملګرتيا تر کلي راشي او بيا د کانې مور ورته دوې وزې (بوزې) هم په لوغزه(لوغځني) ورکړي چې د دۀ مور او خوېندې به يې لوښي او شيدې به ځنې تر لاسه کوي. خو چې کله کورته راشي نو په کور کښې بې هيڅ نۀ وي ولې چې بنګ چې کومې پيسې مور ته رالېږلې وې هغه ټولې سوای خورو (سودخورو) ځنې اخيستې وي او د دۀ له راتګ سره د دۀ دا نورې پيسې او دوه وزې هم سودخوارۀ او د کلي خان صاحب په پورو کښې ځنې واخلي او دوئ بيا لاس او زنه سره کښېنوي.

په دې ټوله قيصه کښې خاص کردار د بنګ وي او په دې قيصه کښې د سودخوارو، د خان د رويې او د بډايانو په خلاف هم ښۀ په سماجي اړخ کښې عکاسي شوې ده. او ورسره يې د موضوع

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوړوالی هم ثابت کړی دی. فني اړخ یې ډېر زیات مضبوط دی.
قیصه تر پایه په سم سمت کښې په ښو کردارونو او مکالمو زیب
تن شوې ده. په ناول کښې د پاوندو د ژوند هم په سالمه توګه
ځرګندونه شوې ده. او د هغوئ په مخ کښې سرکاري خلق، ماسلان
او ملکان چې د پیسو د اخیستلو چمونه یې ښۀ زده وي او
پاوندګان پر دې مجبورکړي چې له دوئ سره مرسته وکړي هم ښه
ژوندي عکاسي شوې ده. یعني د زیارکښې طبقې سره چې په
ریاستي توګه کوم څۀ کېږي هغه یې هم په کښې عکس کړی دی.
(ت) سپین: سپین ناول چې سپین یې خاص کردار دی او دغه
ناول د سپین په نامۀ شوی دی. قیصه یې څۀ داسې وي. چې یو
شتمن سړی وي هغه مړ شوی وي، د کور بهر خلق ولاړ وي په کور
کښې ځوږ، شر اوشور وي خو بیا یو کس په کښې زغ کړي چې
درځئ مړي ته غسل ورکول شوی دی نو د څۀ شي انتظار دی په دې
منځ کښې مړی واخستل شي او د هدیرې ته د وړلو له مخه جنازه هم
وشي او صاحبزاده هم دلته جنازې ته راغلی وي. او تر جنازې
وروسته ملایان، اخوندزاده او صاحبزاده سره راټول شي او د قران
تلاوت پیل شي. په دې منځ کښې صاحبزاده غږ وکړي چې د مړي
تر ښخېدو له مخه اسخات(سخات)باید راوړل شي او و وېشل شي.
په دې منځ کښې د مړي یو زوی ولاړ شي، هغه دورې پسې ورک
شي بیا بل ولاړ شي هغه هم ورک شي خو د مړي ورور میرامد اکا
(میر احمد) ورپسې ورشي. هلته پر میراث باندې دعوی وي او دی
ورشي خښم وکړي او په زور چې یو څۀ لاس ته ورشي بس هغه تر
هدیرې و رسوي او د سخات دپاره یې راوړي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې وروسته چې کله سخات و وېشل شي نو په ټولو خلقو کښې ګنګوسې شي چې دا خو سخات ډېر لږ دی صرف خیرات يې راکړ او صاحبزاده هم خفه دی چې مونږ يې هم په عامو خيرات خورو کښې حساب کړي يو، دا خو بې په ښهٔ نظر نهٔ راته وکتل. خو بيا چې کله له هديرې او جنازې خلق بېرته د مړي کورته راشي نو په کور کښې څهٔ داسې قيصه وشي چې ابدار يا صاحب منصب خلق په جلا ځای کښې کښېنول شي او دوباره نور سخات په کښې و وېشل شي.

ميرامد اکا هغه کوي چې د مړي په څلورو واړو ښځو او د هغوئ په اولاد کښې ميراث سم و وېشي خو د دهٔ تر وس وتلې وي او خپلې ورېندارې نهٔ شي راضي کولای چې خبره ورسره و مني، دلته چې کوم زامن يا لونړې حاضرول په هغو کښې ټولو خپل اکا ته و وئيل چې مونږ ته بايد په يوهٔ نظر وګورې. خو پر دې مهال د مړي د مشرې ماينې مشر زوی نهٔ دی حاضر چې هغه سپين نومېږي او دی خورا کنجوس او وړی وي خو تکړه او زړور انسان هم وي او غواړي چې ځان ته لويه برخه يوسي. او د جايداد برخه په خپل نامهٔ ډېره کړي ولې چې دی مشر ځان ته وايي او مور يې هم په دې اړه ورسره ملګري کوي. ولې چې دهٔ او مور يې د خپل پلار په ژوند هم څهٔ داسې هڅې کړې وې چې څهٔ زيات څهٔ تر لاسه کړي.

په دې حقله چې جايداد سم ووېشل شي دوئ ټول ورونه، مېرې او خوېندې په کور کښې سره اخته وي ان دا چې کله کله خو سرونه هم سره مات کړي. ولې سپين په ډېره بې شرمۍ سره غواړي ټول جايداد د ځان په نامهٔ کړي. د سپين د پارولو د پاره د سپين مور د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپین ته وایي چې پلار دي ډېر غریب ؤ بیا چې بې زما د ولور دپاره یو څۀ مځکه خرڅه کړه نو زۀ ورپورې بختوره او نېکمرغه شوم دا ؤ چې د دۀ بخت په غرونو وخوت او پرمخ بې ژوند خورا شتمن شو او مالدار شو. بس بیا بې نو و نورو ښځو ته مخ وکړ او یو، دوه، درې ودونه بې نور وغوښتل او زما و ستا بې حال تر دې ځایه و رسوو. سپین هم د مور خبره ورسره تائید کړه او وئیل بې چې زۀ هڅه کوم چې له خپلو ښۀ خواوو سره مشوره کوم یو لاره به پرې و باسم تر څو ټول جایداد د ځان کړم.

په دې اړه باندې سپین د خان، ملا او صاحبزاده په اعتماد کښې د اخستلو دپاره خپل پلان جوړوي او بیا یوه شپه دخان او ملا صاحب ته دعوت کوي په هم دغه شپه ملا د مړي ټول رخت، کالي او کوټونه له سپین څخه وړي او سپین بیا غواړي چې مُلا د ځان کړي ځکه بې دا شیان ټول ورکړل. او صاحبزاده ته بې د خپل مړه پلار اس ورکړ چې صاحبزاده بې هم خوشحاله کړ او خان ته بیا په مځکه کښې د مرستې ورکولو اسره ورکوي. په دې کار کښې سپین ښۀ بریالی کېږي ولې چې خان او مُلا له دۀ سره ملګري دي سره له صاحبزاده. دوئ یوه منصوبه داسې جوړوي چې د سپین خپله کشره مېره چې یو زوی او لور بې دي هغه هم واړه دي. ځکه چې بیا دی غواړي چې د هغو برخه به هم ځنې لاندې کړي.دلته ملا ورته شرعي لاره ور ښیي او خان بیا د مشرتابه په حېث هر څۀ کوي او خان د کلي پر هر سړي رُعب لري او هر څوک بې خبره د منلو وړ بولي نو ځکه دوئ په بریالیتوب سره خپل دغه پلان مخ په وړاندې وړي. له دې سره ملا اوخان، صاحبزاده هم په اعتماد کښې اخستي

(c) ketabton.com: The Digital Library


دي دوئ کوشش کوي چې د سپین اکا میرامد اکا هم له خان سره ملګري کړي خو هغه ورته و وئیل چې زهٔ درسره ملګرتیا ځکه نهٔ شم کولای چې زما ورور سره اړیکې ښې نهٔ وې.

دا رنګه دوئ اخر په دې کښې بریالي شول چې د سپین په خوښه یې وېش وکړ او هغه ځهٔ چې سپین غوښتل هغه یې ورته د دهٔ په برخه کښې ورکړل. هغه کونډه چې د سپین کشره مېره وه هغه هم وسپین ته ورپاتې شوه او یو څو وخت وروسته یې هغه کونډه هم پر بل چا خرڅه کړه او په بدل کښې یې پیسې واخیستې، که څهٔ هغې نارې چیغې کړې چې زهٔ بل مېړهٔ نهٔ کوم زهٔ د خپل زوی په سر کښېنم خو د پیسو او جایداد په خاطر خرڅه کړه.

له دې پس هم د دوئ د کور حالات ټیک نهٔ شو. ولې چې د سپین کشر ورور چې ګردی نومېدهٔ هغه له کوره ورک شو او سپین پوره په قرار شو.

دغسې وخت تېرېدهٔ نو سپین چې به کله سوچ وکړو چې خان او مُلا د دهٔ او د یتیمانو په مځکه او سرمایه خوندونه اخلي په نورو خلقو کښې به یې کله کله داسې وئیل چې خان او ملا زما د میرو او ورونړو په مال باندې شتمن دي او خوري یې ځنې. دا خبرې تر مُلا او خان هم رسېدلې.

کوم وخت چې به سپین ولیدل چې دوئ د دهٔ د مېریزو ورونړو په شتمنۍ کښې بډایان شول نو یو بل ته به یې د دوئ د بې انصافۍ څخه خولهٔ وهله، د دهٔ په دغو شکایتونو خان غوږ نهٔ ایښت، خو په پای کښې د سپین شکایتونه نور هم پسې ډېر شول او خان یې په تنګ غوندې کړ، نو یوه ورځ یې ور وغوښت او ورته یې ووئیل:

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپینه ستا خبرې ډېرې شوې دي، تل هر کس او نا کس ته وایي چې ما او ملا صاحب ستا په حق کښې ظلم کړی دی خو ته باید و پوهېږې چې ستا شتمني تر پخوا خورا ډېره شوې ده، ستا اکثرو ګرویو او اجاره قوالي او اجاره خطونه نهٔ درلودل، ډېرو پوروړو درته پښه و نیوه او پر اصل سر درته پښېمانه شوي، خو دا زهٔ او ملا صاحب وٌ چې دا ټول مو درته تابع او ستا حق مو ترېنه حصول کړ".(۱)

له داسې قیصو وروسته ملا او خان خورا پرېشانه هم دي ولې چې په خلقو کښې یې کردار ښهٔ نهٔ ښول کېږي نو ملا یو ورځ فکر وکړ او خان ته کورته ورغلي قیصه یې ورته وکړه چې دا سپین خو په دوئ پسې خولهٔ خلاصه کړې ده او بدنامه وي یې. نو ملا صاحب و خان ته ووئیل چې که داسې چل وشي چې ستااو سپین په منځ دا ماڼی ورک کړو او دا ماڼی په دوستۍ بدل کړو ښهٔ به وي تر څو دا قیصه ختمه شي.

"هغه دا دی چې د سپین یوه کمندره غوندې خور ده هغه به ستا زوی (ځړ) ته و غواړو او هم ستا لور (ورانګو) په خپله سپین ته ورکړو چې په دې توګه د دواړو کورنیو په منځ کښې دوستي او ملګري نوره هم ډېره شي او دغه اوسني ټول جنجالونه او سیالۍ به ورکي شي".... خان دغه دوستي نوره هم په ګټه وګڼله"....

ملا صاحب:

کور دي ودان چې زما خبره دې نرمه و منله زهٔ به سپین هم دغه کار ته چمتو کړم او ډېره هیله ده چې هغه هم دغه خبره ومني، په دې دوستۍ کښې زمونږ او ستاسې خورا ډېرې ګټې دي که څهٔ هم مونږ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



او تاسې د یوې ډلې خلق بلل کیږو او ګټه مو سره شریکه ده او په دغو موقتي خوابدیو مونږ نۀ شو سره جلا کېدلای خو بیا هم دغه مازې د طبعیت خړوالی به هم له منځه ووځي، او په دې توګه به پوره خلق او بزګران زمونږ او ستاسې له اختلاف او بې اتفاقۍ څخه ګټه نۀ واخستلای شي"(۲).

دلته ناول ختم شي یعني د قیصې اختتام بې هم په تجسس کښې پرې ایښي دی چې دا هم د یو ښۀ ناول ثبوت ورکوي او خپل پیغام یا مرکزي خیال هم په سالمه توګه تر پایه و رسوي.

(ټ) سنګسار: سنګسار نومې ناول هم د نورمحمد تره کي یو ډېر په زړۀ پورې ناول دی چې قیصه یې څۀ داسې وي. په کابل ښار کښې یوه غریبه کورنۍ چې په خپل ځای کښې اوسي یو پلار (باباخان) او یو وړوکی زوی چې شېر نومیږي او یوه د شېر مور. د ژمي یخ موسم وي او دوئ چې د خپلې غریبۍ په خاطر مزدوري کوي باباخان سهار وختي ښار ته راشي او د سړک پر غاړه د یوۀ حمام له مخه کښېني او د موڅیتوب کار کوي او ورسره زوی (شېر) هم راولې او په بازار کښې د دۀ مخامخ د سړک پر دې بله غاړه کښېني د وڅکیو اوبۀ خرڅوي او نارې وهي کشمش او کشمش په زړۀ پورې کشمش، او پلار یې بیا د خلقو و پښو ته ګوري چې د چا ګوټ یا څپلۍ څِري وي یا خیرنې وي پالش غواړي. دلته دوئ کله ورته وایي او کله څۀ.

خو چې کله کورته راشي نو د شېر مور (سپینسرې) بیا هره شپه و خپل مېړۀ باباخان (موڅې) ته دا وایي چې زوی مو اوس شُکر لوئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



او تاسې د يوې ډلې خلق بلل کيږو او ګټه مو سره شريکه ده او په دغو موقتي خوابديو مونږ نهٔ شو سره جلا کېدلای خو بيا هم دغه مازې د طبيعت خړوالی به هم له منځه ووځي، او په دې توګه به پوره خلق او بزګران زمونږ او ستاسې له اختلاف او بې اتفاقۍ څخه ګټه نهٔ واخستلای شي"(۲).

دلته ناول ختم شي يعنې د قيصې اختتام به هم په تجسس کښې پرې ايښي دی چې دا هم د يو ښهٔ ناول ثبوت ورکوي او خپل پيغام يا مرکزي خيال هم په سالمه توګه تر پايه و رسوي.

(ت) سنګسار: سنګسار نومې ناول هم د نورمحمد تره کي يو ډېر په زړهٔ پورې ناول دی چې قيصه يې څهٔ داسې وي. په کابل ښار کښې يوه غريبه کورنۍ چې په خپل ځای کښې اوسي يو پلار (باباخان) او يو وړوکی زوی چې شېر نوميږي او يوه د شېر مور. د ژمي يخ موسم وي او دوئ چې د خپلې غريبۍ په خاطر مزدوري کوي باباخان سهار وختي ښار ته راشي او د سړک پر غاړه د يوهٔ حمام له مخه کښېني او د موڅيتوب کار کوي او ورسره زوی (شېر) هم راولي او په بازار کښې د دهٔ مخامخ د سړک پر دې بله غاړه کښېني د وڅکيو اوبهٔ خرڅوي او نارې وهي کشمش او کشمش په زړهٔ پورې کشمش، او پلار يې بيا د خلقو و پښو ته ګوري چې د چا ګوټ يا څپلۍ څړې وي يا خيرنې وي پالش غواړي . دلته دوئ کله له پوليس والا څخه هم په تنګ شي چې هغه يې نهٔ پرېږدي کله څهٔ ورته وايي او کله څهٔ.

خو چې کله کورته راشي نو د شېر مور (سپينسرې) بيا هره شپه و خپل مېړهٔ باباخان (موڅې) ته دا وايي چې زوی مو اوس شُکر لوئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی دی باید ورته یوه نجلۍ وغواړو تر څو د دهٔ هم اړخ تود شي او مونږ هم د ګور پر غاړه یو. خو باباخان بیا له نېستۍ سر ټکوي او ورته وايي چې دا خو د شتمنو خلقو کار دی زما و ستا په وس نهٔ پوره دي، هغه ورته وايي چې ولور د عثمان غني له خزانو دی، مونږ به یې صرف سر ور اخته کړو بیا د خدای کار دی خدای مهربانه دی.

پلار یې هم غواړي چې داسې وکړي خو خپل وس اجازه نهٔ ورکوي. او خان بابا پر خپل عبادت باندې هم زور ورکوي او زوی ته هر وخت وايي چې زویه لمونځ کوه او ښهٔ کوه ناوړه کارونه مه کوه، حرام مه خوره خدای غني دی حلاله به راکړي. او هر وخت د ملایانو خبرې ورته کوي چې نن ملا صاحب داسې وئیل، نن یې داسې وئیل، ته باید لمانزه ته راځې چې خدای ناراضه نهٔ شي راځخه.

په دې ورځو شپو کښې یوه ورځ یوه ښځه (کونډه)چې دوې لوڼې ورسره دي، د دوئ کره راشي د کرایې د پاره په سرای کښې ورسره د اوسېدو د پاره راشي خو بیا کونډه د شېر له وجې لږ نټه وکړي چې دا زلمی هلک دی داسې نهٔ وي چې تر منځ مو څهٔ بې خونده پېښه را نهٔ شي. ولې چې د کونډې لوڼه هم پېغلې دي. خو البته په دې منځ کښې شېر غرمه کورته راغلی او د کونډې لوڼه یې هم ولیدلې چې په هغو کښې یوه ګلالۍ او بله ښاپېرۍ نومېږي، په دوئ کښې ګلالۍ له شېر څخه زړهٔ یوړو او هم ګلالۍ ورباندې زړهٔ و بایللو. خو د شېر په اصرار د شېر مور هغه کونډه دې ته مجبوره کړه چې هغه له دوئ سره په دغه ځای کښې په یوه خونې کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره واړوي. هم دا ؤ چې هغه کونډه اولوښې بې په لږو شپو کښې د دوئ همسايه او په يوۀ ځای کښې سره او سېدل پيل شول.

دا کونډه ښځه د مدير اغا چې يو سرمايه دار سړی دی د هغۀ په کور کښې مزدوري کوي د کور کارونه ورکوي. سهار وختي ځي او بيا بېرته ماخوستن ناوخته پورې د مدير په کور کښې کار کوي بيا کورته راځي په دې ډول د خپلو لوښو د نفقه برابروي.

د شېر پلار چې له خپلې غريبۍ څخه فريادونه کوي، په دې وجه شېر هم هره ورځ ورته وايي چې زۀ اوس لوئ يم کوم بل سم کار بايد مونډۀ کړم او تر څو ژوندمو څۀ خوشحاله شي. خواخر پلار پر دې مجبوره کړي چې هغه اجازه ورکړي او دی بلې خواته په کار پسې ولاړ شي. په کار پسې دلته په کابل کښې يو سرمايه دارحاجي صاحب دی چې په دولتي خلقو کښې خورا لاس رسی لري. په دې ډول شېر د هغه حاجي په سفارښتنه په حکومتي پوليسي ځانګه کښې د ماسل په توګه د بل چارواکي پر ځای عېوضي و ټاکل شي.

په دې ماسلي کښې شېر له تنخوا سره سره نوره هم لاس وهنه کوي چې دی د خپلو لويو حاکمانو د پاره ماسلات اخلي نو ځان ته هم ښه ډېره ګټه کوي. او په هغه پېسې چې ډېرې سره يو ځای کړي بيا بې پلار ته راولېږي او دلته بې مور ډېره خوشحاله وي وايي چې اوس به نو ضرور شېر ته ګلالۍ ورغواړم. همداسې وشي چې د شېراو ګلالۍ کوژده وشي. اوس نو شېر نور هم زيات محنت او خواري کوي چې ولور ادا کړي د هغه دپاره ډېرې پېسې وګټي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته د دې کونډې میراث خوارهٔ هم راشي او کونډې ته وایي ستا د لور ورلور به مونږ ته راکوې ټول که نهٔ وي نو هم نیمي خو به ضرور راکوې. هم دغسې و منل شي چې د ولور نیمی به د کونډې و میراث خورو ته ورکوي.

شېر چې په ماسلي کنبې ډېر مشهوره او د هر حاکم او افیسر خورا ډېر خوښبینبېږي. نو ځکه افسران پر دهٔ هم ډېر مهربانه وي او خورا ښې پیسې ورکوي. هم دارنګه یو ورځ شېر چې د تکړه او زړور ماسل په توګه په ټول دیار پېژندل شوي ؤ. د یو ملک صاحب پر سیمه ورغلی له هغوئ څخه یې د ماسلاتو غوښتنه وکړه د هغهٔ مزدورانو یا خواریکښانو ورته انکار وکړ او دی یې خورا ښهٔ وډباوه او بیا یې پرچه هم پر کاټ او دی جېل ته ولاړ. چې دا ټولو د پاره د پرېشانۍ سبب ؤ.

خو ببرته ژر د هم هغه حاجي صاحب په شفارښتنه خوشي کړل شي. له دې وروسته شېر یو کار هم نهٔ درلود خو ببرته هغه حاجي صاحب ته ورغلی او حاجي صاحب له ځانه سره د خپل معاون یا شخصي کس په توګه واخستواو دهٔ به ورسره بکس اخستی ؤ او د حاجي صاحب کارونه به یې په ادب او مهارت کول خو یوه ورځ حاجي ډېر ورته خښمېدلی ؤ او ورته یې ووئیل چې هلکه شېره! په تا کنبې دوه لوئ عیبونه دي. یو دا چې دینداري نهٔ کوې او بل دا چې زما د کارو په حقله له خلقو خبرې کوې او ټول خلق راخبر کړې. هغه ورځ هم ما د ګمرک د رئیس د پاره یو سوغات درکړ تا ټول خلق راخبر کړي ؤ او نور غټان په ما خبر شول. چې له کبله یې زما ډېر

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیان وشو. نور ته باید له ما نه ولاړ شي. شبر چې هر څومره زارۍ وکړې خو حاجي صاحب نهٔ منله.

له دې وروستو شبر مجبوره شواو هغه پخوانی کار یې پیل کړ خو څهٔ وکړي بله چاره یې نهٔ درلودله. د شبر زوی هم پیدا شي او د دهٔ زړهٔ په زوی باندې خورا پوره دی چې ښهٔ دی خدای زوی راکړ هم دغه د شبر مور خو ببخې له خوشحالۍ وزر کوي چې خدای لمسی ورکړ.

د شبر زوی چې سدوجان یې نوم و رباندې ایښی وي. یو ورځ تېزه تبه شوه. شبر، پلار، د شبر مور اوخوابښي په دې اړه ډېرې منډې وکړې چې له یو ملا یا اغا صاحب یا له پیره څخه ورته تعویزات یا دمونه راوړي. تر څو سدوجان جوړ شي. خو هر څهٔ منډې ترړې چې یې وکړې اخر سدوجان جوړ نهٔ شو او یوه ورځ مړ شو. د سدو مرګ شبر ډېر بې حوصلې کړ او ډېر سخت خواشینې شو ناري بغارې په کور ګډې وې اوس به سدو وړې جنازه او هدیره به یې کوي خو په دې منځ او رش کنبې پولیس راشي شبر تر وستخو ونیسي او په زور یې کش کړي چې ته زندیق شوی یې. د شبر او پلار یې سر نهٔ په خلاصیږي چې دا څهٔ قیصه ده البته هلته چې بوځي نو بیا ټول خلق ورباندې ټول وي چې دی به اوس اقرار کوي بیا به سنګسار کېږي. خو په دې اړه شبر ته هیڅ معلومات نهٔ وي چې پر څهٔ یې جېل ته راوړی دی.

د شبر پلار هم ماجت ته پسې و راشي چې شبر مو څهٔ کړ هغوئ وايي ته کښبنه ډېره لویه ګناه یې کړې ده قران شریف یې په غلتون کښې غورځولی دی. هغه مهال چې د شبر زوی مړ شو او شبر د

سدوجان تر سر کوم قران شریف ایښي ؤ هغه بې له ډېرې خوابدی
بهر په غولتون کښې غورځولی دی.
شېر د خپل جُرم په سبب پوښتنه کوي چې زهٔ مو ولې راوړی یم
خۀ ګناه مې کړې ده؟ دلته فقیر محمد نومې کس ورته وايي: دی
(فقیر محمد) سهار وختي لمانځه ته جمات ته روان وي چې د شېر د
کور په غولتون کښې يې د قرآن پاڼې په غولتون کښې دباندې
پرتې لیدلې وي او ورته يې وئیلي دي دا تاپه خپله په کښې اچولې
دي. شېر او پلار که يې هر څومره قسمونه او لوړې وکړې چې دا
کار شېر نۀ دی کړی خو هیڅ وس يې نۀ وي. او برسېره پر دې د دوئ
دا هڅه ده چې د شېر پلار پر شېر ګواه جوړ کړي چې شېر دا کار
کړی دی نو شېر به توبه و کاږي او خدای به هم خوشحاله شي.
شریعت به هم پر ځای شي.
دا ټوله کش واکش اوۀ ورځې وچلېدو خو اخر د شېر پلار په
دې اومېد راضي شو چې شېر باید دا جرم ومني او بیا به يې خدای
توبه قبوله کړي تر څو دا مسله ژر ختمه شي. د شېر په پلار اقرار
وکړي او شېر پلار و شېر ته هم ووايي چې زویه ته يې و منه بیا توبه
وکاږه خدای مهربانه دی . دا خلق خواران دي ټول و پرېشانی ته
اچولې دي.
هم دارنګه د شېر پلار ولاړشي چې د سدو د کفن او دفن کار
وکړي. یو څوک هم نۀ ورسره ځي او ورته وايي دا د زینديقې زوی
دی د دې جنازه مونږ نۀ کوو خو دی اخر په خپله مجبور شي ولاړ
شي سدو پټ کړي. او په دې هیله راشي چې شېر به اقرار وکړي او
بیا به راخلاص شي. په دې توګه شېر هم د پلار له لارې مجبور کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي اقرار وکړي او د اقرار وروسته ورته وايي چې زه اودس کوم غوارم چې توبه و کاږم خو قاضي صاحب ورته وايي چې نور نو پر تا د توبې ور بند شو. ته باید سنګسار شې. په دې ډول دوی سنګسار کړي. د ناول پای پر دې ټکیو کېږي:

"په دې وخت کښې یو پوه زلمی دوو نورو پوه ډوله زلمیانو ته و وئیل: "دغه خوار او بېوزله د دې د پاره قرباني شو چې د خپلې پاچهۍ ستنې په ټینګې کړي.

له دې دوو کسانو څخه یوه پولیس ته ږغ کړل چې دغه پوه زلمی و نیسي، خو هغه د خلقو په لویه ډله کښې ننووت او ځان یې له دوئ څخه نیهام کړ".(۳)

## ۲.۳. پلاټ:

پلاټ په لغوي معنٰی کښې د ځمکې و یوې ټوټې ته وئیل کېږي. خو په ادبي اصطلاح پلاټ د ناول په بنسټيزو لوازماتو او عناصرو کښې یو عنصر دی چې د ناول په جوړلو کښې بنیادي کردار لري پلاټ په ناول کښې د وړو وړو قیصو و ټړون ته وئیل کېږي چې دا ټړون ښایسته او زړه راکښونکی ربط په ډېر منظم ډول ولري. او په دې توګه د ناول ټوله قیصه ښایسته او زړه وړونکي جوړه شي. یعني د وړو وړو قیصو یا واقعاتو و زنځیرجوړېدو ته پلاټ وئیل کېږي.

د نور محمدتره کي د ناولونو د پلاټ په حقله به د هر ناول په ځانګړي توګه د پلاټ نمونې راواخلو تر څو دا څرګنده شي چې د تره کي د ناولونو پلاټ څنګه دی؟ زما د مطالعې له مخې د نور

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد تره کي د ناولونو پلاټ ډېر مضبوط او منظم دی. او بالکل سرې دا نۀ احساسوي چې دا وړې قيصې يا واقعات په ناولونو کښې ناڅاپه راغلي وي يا د حادثې له وجې وي بلکې داسې احساسېږي چې په ناولونو کښې پر پلاټ باندې ډېر برلاسيتوب لري. او ټولې وړې وړې قيصې چې پېښېږي نو هغه له لومړې سره د تجسس په نتيجه کښې رازېږي او يو فطري رنګ لري. پلاټ ته فطري رنګ ورکول رښتيا هم د ښۀ ناول نګار کار وي. ولې چې پلاټ کله هم مات شي نو پر هغه ځای د ناول ويونکي ديغت او بې ترتيبي احساس کړي چې دا د يو ناکامه ناول ثبوت وي خو د نورمحمد تره کي په ناولونو کښې هيڅ داسې مواد په نظر نۀ راځي. يعني دا يې په ناول کښې د پلاټ مضبوطوالی ثابتوي. او په ټولو ناولونو کښې يې د پلاټ له لارې تجسس موجود دی او ويونکی سم دم له ځانه سره تر پايه وړي. چې د پلاټ ښۀ والی ثابتوي.

۱. بې تربيته زوی: د پلاټ يا د واقعاتو د تړون په حقله "بې تربيته زوی" يو ښۀ ناول دی او په دې ناول کښې د واقعاتو تړون يعني د پلاټ د ښۀ جوړولو باندې په سمه توګه او په شعوري ډول ورته پام شوی دی. ناول نګار په دې ناول کښې د فن هم خيال ساتلی دی او فني نيمګړتياوې په کښې نۀ ښکاري. قيصه يې تر پايه تجسس لري چې دا يې د ناول د ښۀ پلاټ ثبوت دی. خو دا چې د پښتو ژبې اول ناول دی او بيا د ناول په برخه کښې د وخت او عصر په تناظر کښې ورته و کتلې شي نو داسې ناول په لومړي وار د يو ادب برخه جوړېدل د ښۀ ناول په برخه کښې شمېرل کېدای شي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د واقعاتو تړون او د پېښو د پېښېدلو طرز یې فطري دی، حادثاتي نهٔ دی. یعني سړی داسې احساسوي چې دا نوې واقعه چې پېښه شوې ده نو دا به هرومرو دغسې کېده. د واقعاتو فطري تړون د ښهٔ پلاټ ثبوت وي.

"یوه ورځ یې پر بېړیو باندې له یوه یتیم هلک سره جنګ او هغه بې وزله یې په یوه لوئ کاڼي پر ککرۍ و ویشت او سر یې ورمات کړ، هغه په چیغو او نارو کورته ورغلی مور چې یې د خپل زوی سر مات او مخ یې په وینو لړلی ولید. خورا په قهر او خښم او غضب سره یې خپل زوی تر لاس ونیو او د رحیم جان کره ور رهي شوه.

د رحیم جان پلار پر کټ باندې پښې غزولې او او د خپل زوی د اصلاح کولو په فکر کښې ډوب تللی ؤ. چې کونډه او زوی یې دواړه سره راتلونکي ولیدل له ځایه راپورته او په خورا اضطراب سره یې د هلک وخواته وکتل او د دهٔ له موره یې پوښتنه وکړه، چې خیر دی د زوی سر دې ولې په وینو لړلی دی، چا وهلی دی او ښه یې ولې ګرځېدلې او ډول یې پر څهٔ الوتی دی، خیر څهٔ پېښه ده؟ دا خوارکۍ دوه ګامه له دهٔ څخه ارته ورله ټوله کښېنسته او له شرمه یې شونډان نهٔ شو سره پورته کولای. هلک ورته راوړاندې او په زړه غوني او ریږدېدونکي ږغ سره یې ورته و وئیل چې:

رحیم جان په دې راز ووهلم، دهٔ چې د خپل زوی نوم واورېدو پر له و پېچل شو او تر سر یې څریکې ووتې، د بدن ټوله وښتان یې له ستني جګ جګ ودرېدل، پټه خولهٔ ولاړ، هلک تر لاس ونیو پر سر یې لاس ور تېر او بیا یې پر مخ ښکل کړو د سر ټپ یې په تودو اوبو ښهٔ پاک ورپریولی او نوکی آیډین یې پر واچول، پنبه یې پر

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



كښېنوه او ور وې تاړه، بيا يې يو څو خوړې په جېب كښې ورواچولې او مورته يې هم يو څۀ ونيول او د زړۀ ډاډ يې ورته ورکړ. ،(۴)

دلته په دې پورتني پېراګراف كښې د ناول په قيصه كښې يوه نوې پېښه رامنځ ته شوې ده او څۀ رنګه چې د كونډې زوى وهل شوى دى او بيا هغه په څنګه هنر سره د ناول د قيصې برخه جوړه کړل شوې ده. رښتيا هم سړى داسې احساسوي چې دا يو فطري عمل دى او دې نوې پېښې د ناول فن ته هيڅ زيان نۀ دى رسولى. له دې معلوميږي چې ليكوال د وړو وړو پېښو او واقعاتو د رامنځ ته كولو ښۀ فني مهارت لري او د ناول فني لوازمات هم په نظر كښې ساتي. صرف قيصه پر مخ نۀ وړي چې بس قيصه پوره كړي او د فن برخه په كښې ماته وي.

۲. خړه: په دې خړه نومې ناول كښې خورا يوه خوندور قيصه په ډېر هنري انداز را اخيستل شوې ده چې ټوله قيصه مخ په وړاندې داسې انداز لري چې هيڅوک نۀ شي كولاى چې دا ناول د وئيلو په وخت په منځ كښې پرېږدي. ولې چې د ناول قيصه ټوله د خپل پلاټ له وجې دومره خوندوره او زړۀ راكښونكې ليكل شوې ده چې فني نيمګړتيا په كښې نۀ احساسيږي. د پلاټ مضبوطوالى د ناول فن ثابتوي. يعني په ټول ناول كښې له لومړي سره د قيصې پيل او بيا پرمخ قيصه بيول او بيا قيصه پاى ته رسول. د ښۀ مضبوط پلاټ له وجې كيږي. ولې چې كومې وړې وړې پېښې د ناول برخه جوړې شوې دي. هغه په داسې هنري انداز را اخيستلې شوې دي چې په هغې كښې فطري رنګ بريښي او هيڅ څوک دا نۀ احساسوي چې

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه واقعه بې ځایه په کښې منډل شوې وي او د هغې واقعې د پیښې څۀ اثرات په روانه قیصه کښې نۀ وي انځور شوې یعنې د واقعاتو تړون بې ډېر قبلونکی انداز لري. داسې قطعاً نۀ احساسیږي چې ګواکې دا پېښه غیر فطري رنګ لري. د واقعاتو د تړون یوه بېلګه بې څۀ داسې ده:

د لاربښونکي خوړو خبرو او د ټوپک والا ؤ زړوتیا دغه جرګه خورا ښۀ خوشحاله کړه، او په ډېرو خوړو هیلو سره ولاړل. په دې مرکه او جرګه کښې دا هم فیصله شوه چې څړه ګان به وروسته له دې پر لوړ ځای اور نۀ بلوي او څو چې بې وس وي په زورو ځایو کښې به دوئ دغه کار کوي.

ګهیځ وختي د څړه ګانو قافله په بسیاري پټه خولۀ او بې له کومې لوړي ځوړي و لېږدېدله. د ورځې یوولس نیمې بجې به وې چې څړه ګان او یو څو خره بې چې مونږ بې قافله بولو د غرۀ په یوه تنګي راکښېوتل، ټول پټه خولۀ روان دي داسې چوپه چوپیایي ده چې ته به وایې چې سړیو او خرو ساوې نولې دي او هیڅ څرپ نۀ اوربېدل کیږي.

لومړی تر هغه چې قافله په تنګي راکښېوزي نو دواړه ټوپک والا په بیړه یو د تنګي یوې خوا ژی ته او بل بې بلې خوا ژی ته وختل او هلته یوې لوئ په ځای د (هشه) ږغ واوربېدل شو، خو سره له هغه هم که چرې د سړي او یا خره پښه به له کومې ډبرې سره و منښتله سمدلاسه به د ټولوغوړونه بک شول او سترګې به بې هغې خوا ته واوښتلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا تنګی بنۀ اوږد غوندې دی څره ګان تقریباً ۵۰ دقیقې نور هم
په تنګي کښې لاړل، له دوئ سره سم غټو او ژورو باندې ډواړه
نوېک والا روان دي، دوئ کله ډېري ته ځانونه نیام کړي او کله
ښکاره سي، په همدغه وخت کښې ؤ چې د چورلی ږغ شو او په سم
دلاسه ورپسې په یوه پلا درب شو. ټول تنګي له دوده ډک شو چغ
وېغ جوړ شو، د خرو انګارې د سرو له زګېروي سره یو ځای شوې،
او هیڅ خواته د ځغاستي لاره نۀ شته. څوک د (الله اکبر)ناري
وهي، څوک سوکه سوکه د (الا الله) کلمې وايي" (۵).

له پورتنی ټوټې څخه چې د څره ناول څخه مو رانقل کړې ده
دناول د پلاټ اندازه کولای شو. چې دا ناول څومره په فن پیاوړی
دی. په څومره هنري انداز د یوې نوې پېښې د رامنځ ته کېدو فن د
ناول نګار په نظر کښې دی او په شعوري اندازد ناول فن په نظر
کښې ساتي او یو فطري رنګ یې ورکړی دی چې قاري دا احساس
نۀکوي چې ګواکي دا نوې واقعه په زور را اخستل شوې ده.

۳. د بنګ مسافري:د دې ناول پلاټ هم مونږ د ناول څخه د
یوې ببلګې په را اخیستلو سره معلومولای شو. د دې ناول پلاټ
خو ښخي ډېر خوندور او لا زیات په فني تول پوره پلاټ دی، او
سره له دې چې په دې ناول کښې ورې ورې قیصې هم ډېرې دي او
په ډېر هنري انداز یې ترتیب هم ډېر پیاوړی دی او بالکل یو ډېر په
زړۀ پورې پلاټ یې ورکړی دی. چې دا د ناول نګار په ناول لیکلو
کښې فني مهارت او لا پرمختګ ثابتوي. په دې کښې هم د
واقعاتو ترون لا خوندور او په زړۀ پورې، زړۀ راکښونکی او له
تلوسې ډک پلاټ دی.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



"بله ورځ د پونده کلي د کلات او د جلدک ترمنځ واړول، ماښام ډم ډول واهه او په داسې طرز يې وواهۀ چې ګواکې سبا کلی مېشت دی او نۀ کډه کېږي.

سهار معلومه شوه چې کلی په رښتيا نۀ باريږي دليل اوعلت يې دادی چې هغه څو کسه سوداګر راغلي دي کوم چې په ځنو پوندو باندې يې ډ وړيو روپۍ پاته دي، په تېره بيا کانی نسبتاً ډېر پوروړی غوندې دی.

بنګ ور ځني پوښتنه وکړه کانې ورته و وئيل:

"په دې خبرو پسې سر مه ګرځوه دا تل هم داسې حال وي، په ژمي پونده له هر څۀ څخه خلاصيږو، يعني شومه مو خلاصه شي، کالي مو پکار وي، نغده پيسه ورکه شي، نو په هم دغه وخت کښې سوداګر خورا ډېرې پيسې يعني رېګ ته راشوه کړي او زيات تر خلق د ډېر مجبوريت د لاسه له دوئ څخه روپۍ په وړيو باندې د سلم په ډول اخلي، البته ښکاره خبره ده، د نرخ په باب کښې خو خولۀ د سوداګر وي او هر څۀ چې لاس وپښې ازادي شي، سکولونه وشي، د ژمې تعين شوی نرخ خورا کښته وي او مونږ د خپلو وړيو يوه برخه په ازاد نرخ خرڅه کړواو نور يې مجبوراً سوداګرو ته خپل (سلم) په حساب کې ورکوو"(٢).

۴.سپين: د سپين ناول پلاټ په فني حقله باندې يو ښۀ مضبوط او خوندور پلاټ لري، په دې ناول کښې پلاټ ته په فني توګه پوره پوره کتنه شوې ده. په ناول کښې د وړو وړو قيصو تړون رښتيا هم په ډېره هنري توګه شوی دی.

Scanned with CamScanner

خان په داسي حال کښې چې له ډېرې خوشحالۍ په کالو کښې
نهٔ ځايېده مُلا ته و وئيل:

"دغه کاربه شرعي مشکلات لري، نو خپل خپلوان بې ډېر
دي، ستا صداقت، ښهٔ سړيتوب او دا چې د خلقو له حق خوړلو څخه
دي بد راځي ستا دوستانو ته به معلوم وي، نو که هغه ستا په
امانت دارۍ باندې شهادت ورکړي، نو البته شريعت خو تل په
دغه ډول صادق وصي پسې ګرځي که له ما څخه څوک پوښتنه
وکړي نو زهٔ به وروسته له هغه چې شاهدان تېر شي فتوي ورکړم،
شاهدان مي ځکه و وئيل چې خبره پر شريعت برابره شي"

خان صاحب:

"شاهدان خو به د يوې روپۍ شل تنه درته راولم. د دوئ څهٔ کمی
دی خو چې خپلو بزګرانو ته ووايم د شريعت لار خو به را برابره
کړي، راغلو دې ته چې د ګوند رضايت په کار دی، دا هم دومره
ګران کار نهٔ برېښي که د خدای تعالی او ستاسو او د صاحب نظر
وي نو باور وکړه چې هغه په يوه چړوک کېږي.

خان لومړی دې مسئلې ته ځير نهٔ ؤ، خو چې وروسته يې ښهٔ
چرت پهٔ کښې وواههٔ نو بې د خپل وصايت د امکاناتو موضوع ښهٔ
تر سترګو رونه وبرېښېدله او له ځان سره يې فېصله وکړه چې
لومړی تر هر څهٔ يو څو پوروړې ورته پورته کړي او پای کښې د دهٔ
له مقصد سره مرسته وکړای شي".(۷)

۵. سنګسار: سنګسار نومې ناول د نورمحمد تره کي هغه
شاهکار ناول دی چې هيڅ يو نقاد يې پر فني اړخ باندې تر اوسه
هيڅ نيوکه نهٔ د کړې. بلکې په دې حقله ټول نقادان په دې حق کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي چې "سنګسار" ناول د نورمحمد تره کي هغه ناول دی چې په کښې هيڅ کمی نهٔ شته بلکې د ناول په ټولو لوازماتو او شرايطو پوره ناول دی . د دې ناول پلاټ په ټولو ناولونو کښې مضبوط او د يو نړيوال معيار لرونکي ناول دی . په دې ناول کښې دا هم ثابته ده چې ناول نګار د ناول ليکلو په فن باندې پوره پوره لاس برى تر لاسه کړی دی. معنٰی دا چې ليکوال د ناول په برخه کښې تر اخره ښهٔ رياضت کړی دی په کښې بريالی شوی هم دی . د دې ناول په حقله يې نقادان داسې هم وايي:

"په دې ناول کښې ناول نګار ډېر ښهٔ تيکنيک استعمال کړی دی. يو خو هغه قيصه ښه په زړهٔ پورې رابښکونکي انداز کښې په وړاندې بيايي. په قيصه کښې د لوستونکي د دلچسپي برقراره ساتلو د پاره هغه په مينځ مينځ کښې د بيلابېلو کردارونو په خولهٔ مکالمې ادا کوي او قيصه هم داسې مخ په وړاندې روانه وي او څهٔ نيمګړتيا په کښې نهٔ محسوسيږي. د دې مکالمو چې کردارونه يې ادا کوي خوند لا زيات شي چې متلونه هم د دليل په توګه راوړي"(۸)

دا ناول د مېکسم ګورکي ناول "مور Mother" نومې ناول د کچې ناول دی يعني ډېر لوړ ناوليز معيار لري. زهٔ (راقم السطور) هم په دې نظر يم چې نورمحمد تره کی يو ښهٔ بريالی ناول نګار دی او پر ناول ليکلو باندې ښهٔ مضبوط عبور لري. په پښتوادب کښې د پلاټ په حقله ډېر کم ناول نګاران دي چې په ناول کښې د ښهٔ پلاټ ليکلو باندې په فني توګه ګرفت لري، چونکه پلاټ د ناول ډېر ضروري عنصر، که پلاټ کمزوری شي نو د ناول نيم خوند ګار شي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو نورمحمد تره کی په دې کښې پوره بريالی دی چې ښهٔ ناول وليکي او و دې ناول ته که مونږ د پلاټ ناول ووايو نو هم هيڅ بېځايه خبره نه ده.

"ادې له لوړې مې سترګې عين غين کېږي ستا چای جوشه چې را اېشي نو تورې هېلۍ به سپينې شي، ماته لږ څهٔ ګوله ډوډۍ راکړه"

مور بې په غرېنده رږغ ورته و وئيل:

"ډوډۍ به چا راوړه! پلار خوارکي خو دې په متې ځان راوه رساوۀ، هغه تاته معلوم دی چې شپېلغي (شبکور) دی ورسره، زويه وغورځه له دغه نزدې نانوايي څخه درې سرې ډوډۍ راواخله" (۹)

له دې پورتني مکالميز جملو څخه دا څرګنده شوه چې د ناول پلاټ څومره مضبوطوالی لري او د کوم معيار مکالمه ده. يعني داسې ثابتوي چې په دې ناول کښې پلاټ ته په فني توګه پام شوی دی.

## ۳.۳. کردارنګاري:

کردار نګاري چې په قيصه ايز ادب (افسانه، ناول، ډرامه) ليکلو کښې ډېر مهم رول لري او يو بنيادي عنصر بې دی، يعني چې کردار په کښې نۀ وي نو په دې پورته دريو کښې د يوۀ هم ليکل ناشونې دی . په قيصه ايز ادب کښې ښۀ کردار او زړۀ راکښونکې کردار هغه وي کوم چې په ژوند کښې ژوند مومي او و ژوند ته ژوند ورکوي. ځنې کردارونه چې هغه ژوندي خو وي خو کردار بې

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړ وي هغه په کردار نګاري کښې ښهٔ رول هیڅ کله نهٔ لري. د کردار نګارۍ په حقله پوهان داسې وايي چې:

"د ادب په اصطلاح کردارنګاري هغې فن یا هنر ته وائي کوم چې یوه قیصه (ناول، ډرامه، داستان) کښې د کردارونو د اعمالو د تهذیب او ترتیب او افرادو د سیرتونو او اطوارو د ذهني او نفسیاتي تنظیم د پاره استعمالیږي" (۱۰)

د یوې ښې قیصې لیکلو د پاره ضروري ده چې کردارونه بې ژوندي وي، حقیقت ته نژدې وي، رول بې مثالي، او ورسره د یو کردار په رول کښې یو ښهٔ تسلسل موجود وي، د کردار نفسیاتي، ذاتي، اجتماعي یعنې هر اړخیز شکل باید څرګند وي او داسې نهٔ وي چې یوکردار په اول سر کښې د ښهٔ خوبې انساني رول لري خو بیا د قیصې په منځ یا پای کښې بلا وجه بد جوړ شي ولې چې دا د فطرت مخالف عمل وي، کردار چې په لومړي سر کښې کوم رول د ناول نګار له خوا په لاس ورکول شوي وي باید تر پایه هم هغسې پاتې شي، چې دا به د یو ښهٔ ناول لیکلو ثبوت ورکوي، د نورمحمد تره کي په ناولونو کښې هم و کردار ته ببخي ښهٔ کتنه شوې ده او بالکل په هیڅ ناول یا افسانه کښې بې د کردار رول مړ نهٔ وي بلکې په ژوندۍ بڼه قیصه پرمخ بیايي، او دا د ښهٔ کردار ثبوت دی چې کردارونه بې ژوندي پاته وي او تر پایه پورې هر کردار ښهٔ، غړند. پر ځای پاته، د قیصې برخه او د مخصوصو اقدارو په حساب د ژوندي کردار پاتې وي. د نورمحمد تره کي د ناولونو په برخه کښې مونږ په دې نتیجه رسېږو چې د کردارونو لوبېدل بې په ښهٔ فني یا هنري ډول تر سره کړي وي. یعنې د کردار په لوبېدلو کښې هیڅ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمی نهٔ احساسیږي او نهٔ یې داسې په یو ناول ځوک ثبوت ورکولای شي چې د کردار له وجې به د ناول فن ته زیان رسېدلی وی. د هم دغه ښهٔ کردارونو له وجې د نورمحمد تره کي ټول ناولونه پر پښتو ادب ویونکو باندې غالب اثر لري، او داسې کله هم نهٔ دي شوي چې د دهٔ په ناول وئیلو کښې د فن کمزوري احساس کړي. یا بې ځایه ډېر تند کردار لوبېدلی وي یا دغسي بې ځایه ډېر سست کردار ادا کړل شوی وي. ټول ناولونه یې د ښهٔ کردارنګارۍ لوئ ثبوت دی مونږ به صرف د یوه یا دوو نالونو ځخه بېلګې راواخلو:

"بیا سم د لاسه پر ډوډۍ بسم الله و وئیل شوه، کوم وخت چې د ډوډۍ خوړل خلاص شول،نو ښځې ډېرې وریژې په غوریو کښې پاته شوې.

ناظرورته و وئیل:

"که مو زړهٔ غواړي، نو تاسې کولای شئ چې دا پاته ډوډۍ او حتٰی غوري هم له ځانه سره یوسئ"

یوهٔ ملا ورته و وئیل:

"کور مو ودان! شریعت مو روښانه کړ خدای دي داسې کورونه هیڅ وخت نه ورانوي، غوري او ډوډۍ ځهٔ کوو چې وړو یې، یو د خدای دوست به وایي چې کور مي تر تا جار نو هغه بل خو به وانښکي (پړي) نهٔ ورته اچوي" دې ملا لا خپله وینا نهٔ وه بشپړ کړې چې قابچې یو پتنوس چې شین دسمال پر غوړېدلی و راوړ او د ناظر مخې ته یې کښېښود، ناظر په تلوار دسمال ترېنه ایسته کړ او د دسمالو پینځهٔ غوټې په کښې ښکاره شوې.

ناظر ته بیره چې لږ ځهٔ مضطرب غوندې هم ؤ، و وئیل:

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ستاسې خوښه ده! چې غوري او وريژې نه وړئ نو دا دی هر یوه ته شل شل افغانۍ ورکول کېږي"(۱۱).

په دې پورتنۍ بېلګه کښې که مونږ وګورو نو د ناظر او مُلا په څېر کوم کردار څرګند ښکاره کړی دی او د هغوئ د نفسیاتي سوېې مطابق یې ډېر په زړه پورې تمثیل کړی دی چې د ښې کردارنګارۍ لوئ او ښکاره ثبوت دی.

د یو بل ناول بې تربیته زوی څخه یې د کردارنګارۍ په حقله یوه بېلګه را اخلو. بې تربیته زوی د نورمحمد تره کي داسې ناول دی چې نقادانو وربانديې ډېر تنقید هم کړی دی چې فني اړخ یې کمزوری بللی دی، البته د کردارنګارۍ په حقله بېلګه داسې ده چې نیمګړتیا په کښې نه احساسیږي. او له فطرت سره ورته حقیقت ته نژدې رول لري.

"دا په منډه راغله او د خوني په ورۀ کښې چې یو لاس یې ویوۀ لوري ته او بل یې و بل لوري ته د ورۀ لګولی ؤ. و دربېده او سربې ور ننه یوست، که ګوري دی پر خپل کټ باندې اوږد، اوږد غزېدلې او لاس یې پر سترګو باندې ایښي او سترګې یې سره ورغلې دي، خور یې په وچ او تېره ږغ سره ورته و وئیل چې:

"رحیم جان لالا ته یې؟

د دۀ سترګې سره روښې شوې، سر چې یې راپورته او د ورۀ و خواته یې وکتل که ګوري ببو کمکۍ خورکۍ یې ده، څو ښکنځل یې ورته وکړ او ویې وئیل چې:

زغله ورکه شه، وخوب ته مې پرېږده، دا له ورۀ څخه را پرشا او یو ګړی د انګړ په منځ کښې و درېده، څرنګه چې د کوچنیانو خوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او عادت وي ببرته راغله او د خونې په ورهٔ کښې ودرېدله چې د دهٔ سترګې سره ورتلې، دې بیا په هغه راز روغ چې خندا هم په ګډه وه وړنارې کړې چې:

رحیم جان لالا سترې مشې، د دهٔ بیا سترګې سره وسخېدې او له ډېرې خواشینۍ او خښمه له کټه راڅوړ او په نجلۍ پسې ولټول (۱۲).

دلته په دې پوړتنۍ مکالمه کښې هم د کردار د لوبېدلو حقیت سره جوختوالي ثابتیږي، عین د یوهٔ ماشوم رول په حقیقي ژوند کښې دغسې وي او هم دغسې د یوهٔ بې تربیته ځوان او نامنوني ځوان غصه او قهر دغسې وي لکه څنګه چې یې تمثیل شوی دی. دلته د رحیم جان کردار په ډېره سالمه توګه له لومړي سر څخه بیا د ناول تر پایه په ټوله قیصه کښې زړهٔ راکښونکی لوبول شوی دی. او هم هغسې د رحیم د نفسیاتي او سماجي سطحې په مطابقت سره راوړل شوی دی. هیڅ یې ځایه قهر او رحم یې نهٔ دی په کښې ځای کړې چې دا هم د ناول نګار د ښهٔ کردارنګارۍ ثبوت ورکوي.

په دغه توګه د نورمحمد تره کي په ټولو ناولونو کښې و کردارنګارۍ ته په ځانګړي توګه پاملرنه شوې ده او په هیڅ یو ناول کښې یې د کردارنګارۍ بې خوندي نهٔ ده راغلې او په هنري ډول پر کردارنګارۍ باندې ښهٔ لاس بری لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۳.۴ دِ کشن ژبه:

د کشن چې په پښتو کښې مونږ ورته د قیصه ایز ادب ژبه او ژبې کارونه وایو، په ناول کښې باید ژبه یوه هنري ژبه وکارول شي، د ناول د ژبې او د عام نثري ژبې باید فرق واضح وي، یعني هنري په دې معنٰی چې کوم کردار وي د هغه کردار د علمي سويې، نفسیاتي یا سماجي کچې سره ورته کردار هم وي. یعني د ناول نګار خپل علمي توري د یوه بې سیواده کردار د پاره و کاروي نو د ناول څخه فني اړخ له مینځه ځي.

د نورمحمد تره کي په ټولو نالونو کښې بالکل هنري ژبې کارونې ته په جدي توګه پاملرنه شوې ده. یعني د ناولونو ژبه یې هنري ده او ساده، کلیواله د افغاني چاپېریال ژبه یې کارولې ده چې اولس په اسانۍ سره په پوهېدلی شي، او سمه دمه فطري ژبه کارول شوې ده. په هیڅ یو ناول کښې یې داسې ژبه نۀ ده کارول شوې چې په کښې داسې به بریښي چې د کردار سویه یو شی وي او ژبه یې هغسې نۀ وي. د ناول په وئیلو سره یې مونږ په دې نتیجه رسیږو چې د ناول ژبه یې هنري ده او که نۀ، د بېلګې په توګه:

څو دقیقې وروسته دود لږ شانته خپور شو، او شاوخوا ورسو ښکاره شوه، په دغه وخت کښې یو هیبتناک رږغ واورېدل شو چې وئیل یې (ځای پر ځای هیڅوک باید و نۀ ښورئ که نۀ وي خون به یې په خپله غاړه وي)کراره کراري وشوه، ته به وایې چې ټول شیان بېرته عادي حالت ته راوګرځېدل، د ویرې څادر پر ټول ساکښو خپور شو، څنې بې سده شول او څنو هېښ کتل، یو څو ثانیې وروسته بیا رږغ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړ شئ! یو د بل لاسونه سره وتړئ' هیڅوک په هیڅ نهٔ پوهېدل، د ټوپکانو په یوه پلا درب ټول کانهٔ کړي دي او سد بې له پره تري نه ایستلی دی.

نور سوکه یوهٔ بل څره ته چې له ښي مټ څخه یې وینو داري وهلې ووئیل:

د غلو غدی، خو وختله خدای دې خبر کړي" (۱۳).

هم دا د یو بل ناول څخه یې بېلګه را اخلو چې په کښې د ژبې وهنر ته رښتیا هم کتنه شوې ده او دایې ثابته کړې ده چې نور محمد تره کي په ناولِ کښې د هنري ژبې کارونه باندې هم ښهٔ پوهېږي:

"مړی خو پخوا لا پرېمنځل شو، نو ولې جنازه نهٔ راباسئ؟"

اخنذاده صاحب د دغه معمر سړي خبره پرې کړه او د مرحوم ژړغونکي ورور یې ورته و وئیل:

"کتاب وایي هر څومره چې مړی ژر ښخ شي، ثوابونه یې هغومره ډېر وي نو تلوار پرې وکړئ دا به د مرحوم د روح د ارامی د پاره خورا ښهٔ کار وي" (۱۴)

له دې پورتنیو بېلګو دا ثابته شوه چې د نور محمد تره کي په ناولونو کښې یوه په زړهٔ پورې، ساده، روانه او هنري ژبه کارول شوې ده. کومه ژبه چې یوه ناول ته اړتیا لري او د ناول خوند یو په دوه کوي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳.۵. سسپېنس/تلوسه:

سسپېنس چې په پښتو کښې ورته تلوسه یا غوټه توری کارول کېږي. دا هم د ناول هغه مهمه برخه ده چې لوستونکی له ځانه سره وړي او ویونکي هر وخت په داسې کېفیت کښې پرېږدي چې هغه پر مخ باندې د ناول وئیلو ته لېواله ساتي، او تلوسه لري چې مخته به کوم څۀ کېږي، کوم کېف به مخته راځي؟ هم داسې لوستونکی په تجسس کښې ساتي.

"تلوسه یا غوټه د ناول هغه برخه ده، چې لوستونکي ته په لسګونو پوښتنې پیدا کوي او ناول له خپل اصلي حالت څخه و باسي: یعني داسې یوه غوټه لوستونکي ته مخې ته ږدي، چې لوستونکی بې هم په حل نۀ پوهیږي او هم هڅه کوي، چې د پوښتنې ځواب ځان ته پیدا کړي، .(۱۵)

د نور محمد تره کي په ټولو (بې تربیته زوی، څړه. د بنګ مسافري، سپین. سنګسار) ناولونو کښې تلوسه یا سسپېنس په هنري انداز کښې شتون لري او رښتیا هم د ناول په لیکلو کښې د تلوسې یا سسپېنس پېداکولو هم ښۀ هنر لري، یعني لکه په سپین ناول کښې چې د یوې منصوبې په توګه د سپین او د هغه د وروڼو او میندو او خویندو د جایداد باندې د قبضې کولو د پاره خان، مُلا او صاحبزاده ډېر زیات سرګرمه وي او غواړي چې د هغه په جایداد او سرمایه کښې خپله ښه ونډه واخلي، دغسې چې بیا په پای کښې سپین پښېماني هم کوي او ارمان کوي چې داسې باید مه وای شوي، دغسې ټوله قیصه تر پایه ښه له تلوسې ډکه قیصه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي او لوستونکی تر پایه په تلوسه کښېنې ساتي له ځان سره یې وړي چې دا د یو ښهٔ ناول ثبوت دی.

هم دغه رنګه د نورمحمد تره کي په یو ناول "سنګسار" کښې هم د موخي (باباخان) او د هغه زوی د ژوند ټوله قیصه تر پایه پوره له تلوسې ډکه وي او پای خو یې ښخي په ډېر الم باندې ختمیږي او چې ناول ختم هم شي نو بیا هم تلوسه په کښې موجوده پاتي شي، او په دې ناول کښې هم په دولتي توګه چې د روشنفکرۍ او انقلابي نظریاتو په خلاف کوم سازش کېږي هغه له تلوسې ډکه قیصه پر مخ بیایي او د لوستونکي مجبوري وي چې تر پایه یې په یو وار ولولې.

د نورمحمد تره کي په "خړه" نومې ناول کښې هم د تلوسې د پاره پر قافلو باندې د غلو او ډاکوانو حمله او دغلو ټوله قیصه چې د هغه له وجې ټول مسافر خړګان د ویرې او وهم ښکار شي او دغه وهم او ویره تر پایه د ناول د تلوسې برخه فعاله ساتي، یعني نورمحمد تره کی په هر ناول کښې په ډېر پیاوړي انداز د تلوسې په برخه کښې بریالی ثابت شوی دی.

"د بنګ مسافري" نومې ناول کښې بیا د مزدورانو د تحریک او له هغوئ سره د فابریکې د خاوندانو، جبري سلوک او بیا د بنګ خپله په ژوند کښې پر مختګ کولو احساس او بېرته د کورپه خوا راتګ له خویندو او مور سره زښته مینه، د سود خوازو او خان پورونه اداکول، دا ټوله قیصه مخ په وړاندې له تلوسې ډکه ساتي او لوستونکی له ځان سره ځکه وړي چې لوستونکی هر ساعت په دې تلوسه کښې وي چې، پرمخ باندې بنګ څنګه خپل ځان په کار

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو کښې ګرندی جوړوي، او د کور ساتنه په دې بابت کښې، د سودخوارو ترېته تړي، یا خان سره څۀ کوي او یا هغه د کوچیانو له ژونده خوند اخلي داټوله قیصه له تلوسې ډکه وي او تر پایه ناول په بریالیتوب سره تر تکمیل کوي، او دا خوبي بې بیا بېله ده چې د هر ناول اختتام بې پر داسې ځای کړی وي، چې سسپېنس په کښې موجود پاته شي. چې دا د یوۀ ښۀ هنري ناول لیکلو فن ثابتوي.

## ۳.۲..تصادم/ واقعه نګاري:

تصادم چې واقعه نګاري هم ورته وئیل کېږي، د نورمحمد تره کي په ټولو ناولونو کښې واقعه نګاري وجود لري او د هم دغسې واقعاتو له وجې ناول مخ په وړاندې ځي، او په ناول کښې د واقعاتو یو بل سره د تړلو ښۀ مهارت لري کوم ته چې پلاټ وئیل کېږي، په هر ناول کښې بې هڅه کړې ده چې واړه واقعات په هنري ډول سره و وړل شي.

یعني په "څړه" ناول کښې پر قافله باندې د غلو حمله، او له دې پس بیا په کوټه کښې د سیوی و خواته د تګ په وخت له هغه سېټ سره پر کرایه باندې د مزدورانو نۀ منل، او دغسې نور واړۀ واقعات په ناول کښې واقعه نګاري ثابتوي او هنري ډول بې ثابتوي.

په "سنګسار" ناول کښې خو بېخي زیات واړه واقعات مخته راځي. لکه د شېر له ګلالۍ سره مینه، د شېر له حاجي صېب سره تعلق بیا د هغه په وسیله عیوضي ماسل جوړېدل، بیا جیل ته تګ، وادۀ کول،د شېر زوی پېدا کېدل،د هغه بیمار کېدل او بیا مرګ، بیا ورپسې، د سازش واقعه چې شېر د قرآن پاڼې په غولتون کښې

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


غورځول الزام، بیا د هغه پلار مجبورکول چې په شپړ اقرار وکړي، بیا د شپړ اقرا او وروسته سنګسار کول. بیا په پای کښې د دوو تعلیم یافته زلمیانو له خوا افسوس په سازش سر خلاصېدل. دا ټول واقعات په ناول کښې راوړل شوي دي او د ناول نګار واقعه نګاري بې ثابته کړې ده.

په "سپین" نومې ناول کښې د مالدار سړي مرګ، بیا د هغه له مرګه پس پر میرات باندې جګړه منځ ته راتلل او داسې بیا د خان دوو کسانو سره خواله کول او هغه دوه د سپین په ضد پارول او داسې نور واقعات د دې ناول واقعه نګاري ثابتوي.

په "بې تربیته زوی" نومې ناول کښې، د رحیم جان، بې لارې کېدل. د کونډې زوی وهل، له کلي ورکېدل. بیا ماشومه خور وهل، ورسره خپله مور په تسې کښې وهل. او داسې ورې ورې قیصې د دې ناول ښایست جوړېږي او د دې ناول واقعه نګاري په ښۀ توګه تمثیلوي.

په "دبنګ مسافري" نومې ناول کښې هم پر واقعه نګاري باندې ښۀ لاس برې لري، د بنګ له کوره په مسافري پسې تلل،د کلي د جمات زوړ مُلا فارغ کول او نوي ملا راتلل، د سرسایې مسئله جوړول، د بنګ له کوچیانو سره ملګرتیا، له کانې سره ښه ټینګه یاري جوړول،په لارې له کوچیانو سره سوداګرو ستونځې پېداکېدل.بنګ مزدوري کول، په فابریکه کښې د ماشینکار په توګه کار پیلول، د مزدورانو د فابریکې په خلاف احتجاج کول، د بنګ د ښۀ کار پر بنیاد د سېټ په کور کښې پر کار ګمارل. دلته په کلي د دۀ مور څخه د پیسو اخیستلو په وخت د سودخوارو تر میان

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړه کېدل بیا خان د هغې حل ایستل. ټول داسې واقعات دي، چې ناول یې مخ په وړاندې بیولی دی، اوپه ناول کښې واقعه نګاري مضبوطه ساتلې ده.

## ۳.۷.منظرکشي:

د نورمحمد تره کي په ناولونو کښې منظرکشي ته په ډېر ښایسته انداز پام شوی دی. او منظر کشي چې د ناول ټول ټال ښایسته او زړه راکښونکي حالت منځ ته راوړي. په دې حقله نورمحمد تره کي ښهٔ برلاسیتوب لري. او رښتیا هم په هر ناول کښې منظرکشي په سمه توګه ځای کړې ده. کومه چې د لوستونکي د پاره د دلچسپی سبب ګرځي او لوستونکي تر وتازه ساتي او دیغت نهٔ احساسوي.

"د زېږي ماځیګر خوا ده، وربځ سپین وبره شوه، هر چاته دا یقین شو. چې دا وریځ به نن شپه واوره اوروي. دهر چا غوږ په هوا دی. د واوري سوړ سیلاو لګیږي.ټول څړه ګان تر تیاره ماښام پورې د بوټو په راوړلو بوخت ؤ. نو ځکه تور ډوډی ناوخته پخه کړه.

سرې ماښام واوري په اوربدلو پیل وکړ. او ځپ ځپ اورېدله. که څهٔ هم خورا لوئ لوئ اورونه هر چرې بلېدل او څړه ګان خورا پر ټول وو او ځانونه یې تودول، خو هیڅ ګوږ نهٔ و،چا دا نهٔ وئیل چې دلته هم خلق شته."(۱۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د منظرکشۍ په باب "د بنګ مسافري" نومې ناول کښې هم ښۀ منظرکشي شوې ده او خورا لوستونکی له ځان سره وړي او يو زړۀ راکښونکی حالت يې پيدا کړی دی. د بېلګې په توګه:

"شنو رغو، ښکليو بېديا ګانو چې په تنکيو وښو پټ دي او د هر ليدونکي زړۀ له ورايه، وړي، پۀ بنګ کښې خورا ژوره خوښي ايجاد کړه.

په تېره بيا پر شينکي اسمان باندې د اوورو سپين ټاکران چې ځنې برخې يې سور وبره اوښتې دي او تا به وئيل د پېغلې نجلۍ بارخوګان دي"

پاکې هوا اوپراخ آسمان د بنګ زړۀ نور هم ورپورته او د يوې ګړۍ لپاره يې هر څۀ هېر کړل او خپل راتلونکې ژوند ته يې په خورا باور او هيلو وکتل او دزړۀ له کومې يې يوه غړانګه وځکوله"(۱۷).

يا په بل سپين نومې ناول کښې هم منظرکشي داسې په زړۀ راکښونکي انداز کړې ده چې لوستونکی مجبوروي چې تر پايه يې ولولي.

"په کلي کښې خورا لوئ شنخول دی هرې خوا ته ځوړ دی څوک يوې خوا ته په بېړه درومي او څوک بلي خواته ځغلي، څوک د چا په خبره ښه نۀ پوهېږي او هر يو سرګردانه ښکاري.

د يوۀ ښکلي چمبرله مخه چې له کلي څخه لږ وتلی دی يوه لويه ډله خلق ناست دي، چا سر کښته اچولی دی، څوک بيا د خپل اړخ له سړي سره ورو – ورو پسېږي او يو څۀ ورته وايي، په دې ډله خلقو کښې زيات تره سپين پګړي دي چې له نورو شاوخوا کليو څخه راغلي دي، د چا ږيري شناوې دي، د چا تکې سپيني او اوږدې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د چا ږيرې بيا توري دي، دا يوازې د تورو ږيرو څښتنان دي. چې سرونه يې نه دي ځړولي او څه په هسکه غاړه ګوري په دې ډله خلقو کښې چوپه چوپايي ده چې يوازې کله کله ښهاري اوربدل کېږي او هم د ځينو تسپو د ټکهاري په اثر ارامه فضا لږ څه سره ووهل شي او هم کله کله له ناستو کسانو څخه کوم يو ارمېږي و کاږي، او لږ څه په زوره ووايي توبه خدايه توبه"(۱۸)

په "سنګسار" نومې ناول کښې يې هم منظرکشي په هنري ډول ځای کړې ده او دا هغه ناول دی چې د نړيوالې کچې ناول دی د منظرکشۍ بېلګه يې داسې ده:

"په ځنو کوڅو کښې پانډيان ولاړ دي او کوم سپين کالي او معتبر غوندې د دربشيو والا خلق په پينځۀ پولۍ د چکړو له هغو ډنډواو ولاړو اوبو څخه په شا پورې باسي چې په هغو کښې تېرېدونکي تر بجلکو پورې ننوزي، ځنې ځايونه خو د اوبو ډنډونه تر ځنګانه حتی تر ورانه پورې وي، هر څوک چې له شوربازار او شاوخوا کوڅو څخه د پل خشتي د ماجت په واټ راننوزي نو يوه ژوره ساه واخلي او په زړۀ کي د يو ډول برياليتوب احساس وکړي او څۀ هم د دې ځای د کوڅې سره پټ دي او کوڅۀ يې نسبت د تېرېدونکو شمېر ته خورا تنګه ده خو بيا هم ختې او چکړې په کښې لږې وي او هغه هم هغه ختې دي چې خلقو په پښو کښې له شاوخوا څخه له ځان سره راوړي دي"(۱۹)

په "بې تربيته زوی" نومې ناول کښې يې د منظرکشۍ هڅه کړې ده او دا هڅه يې هم ښه برياليۍ هڅه کړې ده.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ایستادې اوبه د ځنې سیندو د ګډون په اثر لکه د غزني رود
او د زرمت رود، سره یو ځای کېږي، اوبه یې تروې او د څښلو نه
دي، خو دښکار دپاره خورا ښهٔ ځای او په پسرلي ببخي ډېر او هر
ډول مرغان له شا وخوا ملکو ورته راځي نږدې غاړه یې ښرنه ده او
هم یې پر غاړه خورا لوړه او ګڼه سارمه شنهٔ کېږي چې د نژدې کلیو
ګورمونه اورمې په کښې څري د لمر لوېدو و خواته یې په غټو او
ژورو کښې یو څو خورا ګڼ کلي پراته دي چې (ګوړې ناوه) یې
بولي. د دې ځای اوسېدونکي لکه مقر نور خلق کاریزونه او څهٔ هم
د بادامو باغونه لري. (۲۰)

دلته د دې ناول (بې تربیته زوی) په منظرکشي بې منظر کشي په
بریالیتوب ترسره کړې ده خو څهٔ د سیمې په حقله یې حقیقي ښه
بیان کړې ده او دا ځای او سیمه په رښتیا هم دغسې دي. نو ځکه
بې و منظرکشی ته څهٔ زیان هم رسولی دی. منظرکشي په ناول
کښې د ناول نګار خپل فن دی چې هغه باید و حقیقت ته نژدې بې
شکه وي خو په رښتیني توګه دغسې نهٔ وي ولې که په رښتیني
توګه هم هغسې نو هغه بیا د جغرافیې په سیمه ایز لیکلي شکل
تاریخي ښه لري. او لوستونکی د هغې سیمې له حقیقت سره اشنا
کوي. خو د ناول منظرکشي صرف د دې دپاره وي چې په
لوستونکي کښې تلوسه، پېدا کړي، او زړهٔ وړونکي حالت ته یې
ورولې.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳.۸.. کلایمېکس/پای:

کلایمېکس چې د ناول اخیرنۍ ته وئیل کېږي په دې برخه کښې ناول پای ته رسول کېږي خو د ناول پای ته رسول په بنیادي توګه دوه ډوله لري چې یو یې داسې وي چې ناول له تلوسې سره پای ته ورسېږي او تلوسه هغسې پاته شي، او لوستونکی دې ته پرېږدي چې دوئ دتلوسې پای څنګه احساسوي او دوېم د ناول پایله پر یوه پرېکړه وشي او هغه کومه تلوسه چې له پېل څخه راروانه وي هغه غوټه خلاصه کړي او تلوسه ختمه کړي ورسره ناول هم ختم شي.

نورمحمد تره کي خپل ټولو ناولونو کښې پای د تلوسې سره پرېښی دی او دایې یو خاص اسلوب خپل کړی دی چې ناول پر تلوسه باندې ختم شي اود ناول لوستونکي سره بیا هم تلوسه پاتې شي چې مخته څۀ کېدل به وي، خو د ناول تکمیل یې هم کړی دی. دا دیو ښۀ ناول لیکونکي مهارت ښکاره کوي چې په ناول کښې تر پایه تلوسه ژوندۍ پاته وي او پر تلوسه باندې ناول پای ته رسوي. خو کوم پیغام چې مقصد وي هغه په سالمه توګه تر پایه په کښې ورسوي. دا د یو ښۀ ناول نګار په صفت کښې راځي.

خو لومړی ناول چې درې ټوکه یې چاپ شوی دی هغه هم که څۀ د لیکوال په خپلو خبرو چې وایي دا ناول نورې برخې هم لرلې البته اوس به نۀ وي، نو معنٰی دا چې دا ناول نیمګړی دی، خو بېرته د قیصې او خیال یا مفکورې په حقله دا ناول خپله مکملتیا ښکاره کوي. او پېغام یې په صحیح توګه مکمل په کښې ساتلی دی . او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغسې تلوسه په کښې احساسيږي ولې چې دا ناول نيمګړی هم دی
خو بيا هم د فن او هنر له لارې مکمل ناول بللای شو.

## ۳.۹. فلسفه حيات:

فلسفه حيات يا مفکوره يا مرکزي خيال دا ټول يو شی دي، په
کوم کښې چې د ناول ټول ټال مرکزي مقصد يا ليکوال په کښې د
کومې مفکورې لاندې ناول ليکلی وي. د نورمحمد تره کي ټولو
ناولونه کښې د وخت او حالاتو په مطابقت سره ډېره زوروره
مفکوره ورکول شوې ده، يعني هر ناول يې ځانته مفکوره لري او
داسې مفکورې انتخاب کول هم د يو ښهٔ ناول نګار صفت وي. د هر
ناول مفکوره يې د ژوند سره اړوند ده او په ژوند کښې يې له مهمو
اړخونو سره تړلې او دژوند د ستونځو د رابنکاره کولو د پاره په
زړهٔ پورې فلسفه حيات په ناوليزه ژبه رانغښتې دي. د ښو ناولونو
خوبي هم دا وي چې يوه ښه مفکوره ولري بغير د ښې مفکورې يا
خالي وخت تيري د پاره مفکوره ورکول د کمزوري ناول نخښه وي.
هر ناول نګار چې ناول ليکي نو يوه موخه يا مقصد يې ضرور
وي، خو اکثر په ناولونو کښې د انساني ژوند سره اړوند د ژوند د
لا ښهٔ والي د پاره د ژوند ناخوالې،بدې پېښې، بد روايات، د
بداخلاقو يا داسې نورو شيانو په ضد د انسانانو د روزنې د پاره
ليکل کېږي. خو د نوې دنيا سره د انساني رويو، ذهنيتونو،
نفسياتو، رومانوي،جنسياتي، سياسي، نظرياتي، سماجي يعني
هر اړخيز ناولونه ليکل اوس عام شوي دي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورمحمد تره کي هم په دې حقله خپل قلم تاند ساتلی دی او د خپلو ناولونو موخه د انساني ژوند او په خاص ډول د افغاني ژوند د ستونځو عکاسي ده او په کښې سماجي، روزنيز، سياسي فکر او د انسانانو د پوهولو د پاره ناولونه ته مخه کړې ده. د دۀ په پنځو واړو ناولونو کښې بېلابېل موضوعات چې يو بل سره جوخت تړون لري ليکل کړي دي. په لنډه توګه به د ټولو ناولونو موضوعاتو باندې خبره وکړو:

۱.بې تربيته زوی:: د دې ناول موخه يا مقصد د يو بېلارې او بې تربيته زلمي په حقله دی چې مقصد يې و سماج ته دا پېغام ورکول دي چې بايد پلرونه په اولادو باندې تعليم وکړي او ښۀ تربيت يې وکړي چې سبا و سماج ته يوښۀ زلمی ور په برخه شي. يعني د اولاد تربيت باندې زور ورکول شوی دی او د بې تربيته زوی نتيجه يې بده ښکاره کړې ده.

۲.څړه:په دې ناول کښې د مزدورانو سره زياتوب،او د غلو،ملکانو،سرمايه دارانو او رياستي حکمرانانو سره يووالی او د هغوئ له خوا پر ولس باندې ظلم په ګوته شوی دی او ورسره د مزدورانو د تحريك د جوړلو پېغام په کښې دی او يو بله خبره چې د پښتنو د وطن جغرافيه هم په کښې ښکاره شوې ده او د ډيورنډ د کرښې په کښې د نۀ منلو پېغام موجود دی .

۳.شپين:په دې ناول د ميراث پر وېش باندې د ناجايزه وېش کولو په خلاف پېغام موجود دی او و ولس ته د تعليم پېغام ورکول شوی دی، چې بايد هر ځای دخانانو او "ملا سيدخان" خبره نۀ ومني بلکې په خپله علم حاصل کړي چې بيا داسې ستونځې نۀ وي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴.دبنګ مسافري: په دې ناول کښې هم د مزدورانو د تحریك په حقله پیغام موجود دی او صنعتي جبر په خلاف لیکل شوی ناول دی چې په صنعتونو کښې د مزدورانو سره څهٔ کېږي، او دا پیغام و مزدورانو ته ورکول شوی دی چې مزدوران باید د خپل بنیادي حق و پېژني چې دوئ مزدوري کوي او مزدورۍ د پاره مخصوص وخت او اجرت ولري. کوم چې فاربرېکیان ورسره ظلم کوي او وخت ډېر وي او مزدوري کمه ورکوي، دغسې د مزدورانو د پاره دخپل حق ور پېژندلو پیغام موجود دي.

۵.سنګسار: په دې ناول کښې بیا د هغو ملایانو، بډایانو په ضد پیغام موجود دی کوم چې د هر وخت د سرمایه دارانه ریاست د پاره خپل قبایلي او مذهبي ورکړل شوي منصبونه غلط کاروي. او د ولس پر ضد یې کاروي تر څو دحاکمانو ملاتړ وکړي او ولس د حکمرانانو په خلاف مبارزه و نهٔ کړي. او اولس ته دا پیغام ورکول شوی دی چې اولس باید په هر څهٔ کښې د ملا او خان رول نهٔ ومني، بلکې ولس باید علم تر لاسه کړي تر څو خپل علاج هم په ډاکټر باندې وکړي. تش په تعویذاتو څهٔ نهٔ کېږي. د حکومتي سازشونو په ضد په کښې ښهٔ پیغام پټ دی.

□□□

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حوالې

۱. ژړک، محمد صادق، د نورمحمد تره کي داستاني کلیات. سپین، پښتوادبي غورځنګ، شالکوټ، کال فروري۲۰۱۴م، مخ۴۵٦

۲. ایضاً مخونه ۴۵۷-۴۵۸ .

۳. ایضاً، مخ. ٦۵۰

۴. ایضاً، مخ۲٦۴-٦۲۵

۵. ایضاً، مخونه ۱۲۰-۱٦۱

٦. ایضاً. مخونه ۲۵۹-۲٦۱

۷. ایضاً، مخونه۴۱۳-۴۱۷

۸. احمد، رشید، پښتوناول سل کاله. ضیا سنزپرنټرز پېښور، ورمبي چاپ،۲۰۱۵م کال،مخ۷۸

۹. ژړک، محمد صادق، د نورمحمد تره کي داستاني کلیات، مخ ۴۷۳

۱۰. اعظم، محمداعظم، ډاکټر، پښتو ادب کښې کردارنګاري، پښتواکېډمی پېښور، لومړی چاپ کال۱۹۹۳ ،مخ۲۸

۱۱. ژړک، محمد صادق، د نورمحمد تره کي داستاني کلیات، مخ۴۸۷

۱۲. ایضاً. مخ ۲۷۲

۱۳. ایضاً، مخ۱٦۱

۱۴. ایضاً، مخ۳۵۳

۱۵. سیدي، نظیم، سید، څېړنیار، ناول به څنګه لیکو، مومند خپرندویه ټولنه-جلال آباد، دوېم چاپ کال ۱۳۹۱المریز،مخ۹۲

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۶. ژړک، محمد صادق، د نورمحمد تره کي داستاني کليات.

مخونه ۱۸۰-۱۸۱

۱۷. ايضاً، مخ۳۴۳

۱۸. ژړک، محمد صادق. د نورمحمد تره کي داستاني کليات.

مخ. ۳۵۲

۱۹. ايضاً، مخ. ۴۲۱

۲۰. ايضاً، مخ. ۲۵۲

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library





نورمحمد تره کي له ناول سره سره په پښتو افسانه ليکلو کښې هم ښه نوم لرې چې د ناول په شان يې افسانې هم په لومړي ځل په بېلابيلو مجلو او جريدو کښې چاپېدلې او په کتابي شکل کښې ډېر ناوخته باقاعده چاپ شوې دي.

نورمحمد تره کي پښتوافسانه له نوي، ځانګړې سبک او ريالزم سره اشنا کړې ده. دۀ په خپلو افسانو کښې د خپلې خاورې د انسانانو د ژوند،سياسي، سماجي،معاشي،اخلاقي جبر او د رياست د ناروا په خلاف خپل قلم تاند ساتلی دی . د خپل وطن د انسانانو د ژوند حقيقي حالت يې بيان کړی دی. په افسانو کښې يې اصلاحي رنګ موجود دی . افسانې يې د طبقاتي تضاداتو مظهر دي او د خپل سماج يې ښه عکاسي کړې ده.

د افسانو ژبه يې ساده او پسته ده، منظرکشي ته يې ځای په کښې ورکړی دی. د افسانو پلاټ يې هم په فني توګه مضبوط پلاټ دی . يعني د افسانې چې کوم فني لوازمات دي، د هغو لوازماتو يې ښۀ خيال په کښې ساتلی دی . افسانې يې هيڅ فني کمی نه لري.

نور محمد تره کي زياتې افسانې ليکلې دي خو زمونږ تر لاسه في الحال صرف ۱۳ افسانې په چاپي بڼه کښې راغلې دي.

په افسانو کښې يې د خپلې سيمې خدوخال او مقاميت له ورايه ښکاري چې دا هم د ښې افسانې ليکلو هنر دي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ۱.۴. نور محمد تره کي د افسانو تعارف:

نورمحمد تره کی چې د پښتو په لنډه قیصه لیکل کښې خورا ښهٔ نوم لري، او د پښتو فکشن د دوېمې دورې سرخېل یادېږي، د ناول تر څنګ يې په پښتو ادب کښې د لنډې قیصې په برخه کښې هم ځان نهٔ دی سپمولی، او ورسره بې دا اعزاز هم په برخه دی چې د دوېمې دورې سرخیل دی او یعني پښتو افسانه بې په ترقي پسندانه رجحاناتو پسوللې ده. نورمحمد تره کي چې څومره افسانې لیکلې دي دا تر اوسه مونږ پوره معلومات نه دي تر لاسه شوي البته چې څومره افسانې بې چاپ ته رسېدلې دې هغه صرف ۱۴ افسانې دي چې د پښتو ادبي غورځنګ،کوټې، له خوا د محمد صادق ژړک په زیار چاپ شوی دی.خو په هغو کښې هم یوه (کله به وي) افسانه نهٔ ده البته د افسانې په نامهٔ چاپ شوې ده چې دا بحث به د دې باب په جلا برخه کښې راشي. د نورمحمد تره کي د لیکنو په حقله یو بهرني لیکوال ګ -ف-ګېرس په خپل، پښتو هنري نثر، نومې اثر کښې داسې لیکي:

"په کال ۱۹۴۲ کي دهٔ (نورمحمد تره کي) په پښتو ژبه ډېر آثار د چاپ لپاره تیار کړل، چې موضوعات بې اخلاقي وو، د دې جملې نه (د کامیابۍ وسیله)، (د ارادي قوت)، د اطفالو د رزوني لارې)"(۱).

له دې سره لیکوال دا هم وایي چې ښایي دغه آثار د انګلېسي نه ترجمه وي. خو که ترجمه هم وي نو د دې له عنواناتو داسې ښکاري چې دا قیصه ایز عنوانات وي. او ژباړه شوي وي. خو په چاپي بڼه کښې لا زمونږ تر لاسه نهٔ دي راغلي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورمحمد تره کي په افسانه ليکل پيل په هم دغو کلونو کښې کړې دی هم دغه ليکوال په مخ باندې ليکي چې:

"په کال ۱۹۵۱ کې تره کي دوه اثار وليکل دا اثار د موضوع، محتوياتو او ژبې له حېثه په ښکاره سره د دۀ نورو اثارو نه امتياز او تفريق لري، لومړی اثر "د غوايي لاندی" او دوهم "دا دی خدمت" دی"(۲)

يعني دلته ثابته شوه چې د دوېمې دورې له پيل څخه بلکې وړاندې بې هم ځۀ ليکل پيل کړي دي. او د دۀ ديوې مرکې له مخې هم داسې معلوميږي چې دی وايي ما باقاعده ليکل د امپراتورۍ په خلاف له ۱۹۴۲ څخه راوروسته پيل کړل.

نورمحمد تره کي په ۱۹۴۲م عيسوي کال کښې د ويښ زلميانو په نامۀ د ادبي او سياسي پوهانو يو تنظيم مهم او سرګرم غړی پاته شوی دی او د هم هغه تنظيم له لارې بې خپل نظرياتي او سياسي پرچار په ادبي بڼه کښې کاوه، که ځۀ هم د دوئ پټ دريځ سياسي ؤ. او د شاهي امپراتورۍ پر ضد مبارزه کول وه. ځکه خو د نورمحمد تره کي په افسانوي ادب کښې د لاندې او لوړې طبقې توپير زيات په ګوته شوی دی. نو د ترقي پسندۍ د نظرياتو پرچار د افسانوي ادب له لارې خپورول هم د دۀ په برخه شوی دی. خوتر دې وړاندې لومړۍ لنډه قيصه بې په کال ۱۹۴۹عيسوي کښې ليکلې اوچاپ شوې ده.

د نورمحمد تره کي چې کومې افسانې زمونږ لاس ته راغلې دي هغه د بزګر لور په نامۀ مجموعه کښې د صادق ژړک په زيار چاپ شوی دی. خو ياده دې وي چې د "موچي" په نامه هم د نور محمد تره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د افسانو ټولګه چاپ شوې ده چې پکښې ۱۳ لنډې کیسې چاپ شوې دي . او دغه دیارلس قیصې په بزګر لور نومې ټولګه کې چاپ شوې دي خو یوه قیصه پکښې اضافه شته کومې ته قیصه نه شو ویلای البته یوه لیکنه ضرور ده .چې تفصیل به یې مخته راشي.

په دې مجموعه(بزګر لور) کښې ټولې ۱۳ لنډې قیصې او ۱ یوه لیکنه چاپ شوې دي او دا لیکنه چې " کله به وي" سرلیک لري لنډه قیصه نهٔ بلکې یو لیکنه ورته وئیلای شو او موضوعات یې په لاندیني ډول دي:

1: د غوایي لاندی، 2: دبزګرلور، 3: زه او زما ورور، 4: د نوي کال خوب، 5: دا دي خدمت، 6: موڅي، 7: د کورګټه د لاهور ګټه، 8: زما برخه، 9: څوړه جوړه شوه، 10: یو کوندرې او درې ډوله خواره، 11: کله به وي، 12: څرنګه بډای شوک؟، 13: دسمت مور او پلار، 14: په پای کښې بډای شوم."(۳)

خو له دې پرته نورې قیصې به شاید ترلاسه نهٔ شي ولې چې په دې باندې ش- حصین خپله څرګندونه څهٔ داسې کوي:

"یوه یادونه کوم هغه دا چې د ارواښاد نورمحمد تره کي د قیصو، لیکنو او ژباړو لوئ راټولونکی د هیواد وتلی ادیب، ژبپوه، د افغانستان د علومو اکاډمۍ علمي غړی ارواښاد سر محقق دوست شینواری ؤ، هغهٔ د " انقلابي پلوشې" مجموعه راټوله او چاپ ته وسپارله، دغه مجموعه په دولتي مطبوعه کښې چاپ او خپرېدو ته چمتو وه. چې حفیظ الله امین د ارواښاد نورمحمد تره کي په هیلو او ارمانو منګولې ور ښخې کړې او د هغهٔ ارمانجن زړهٔ یې له خوځېدو وغورځاوهٔ، له دې کار سره سم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



"انقلابي پلوشو" له منځه وړلو امر وشو او هغه یې د اور په لمبو کښې وسوځلی، د انقلابي پلوشو یو ټوک د همدغې مطبوعې یوه وطن پال کارګر چې نوم یې اوس زما په یاد نه دی د اور له لمبو څخه و ساته او نه پوهېږم چې څنګه زما تر لاسو راو رسېده او په جلا وطنۍ کښې مي له لاسه ولوېد" (۴).

له دې پورتنۍ حوالې څخه داسې معلومېږي چې د نورمحمد تره کي نورې لنډې قیصې هم شاید وې خو تر چاپه په سالمه توګه نه دي رسېدلې.

اوس به راشو د نورمحمد تره کي د افسانو به په لنډه توګه تعارف وکړو چې په لاندیني ډول دي:

۱. د غوایي لاندې: دا قیصه د یو غریب بزګر د ژوند په حقله ده چې بزګر له بزګرۍ څخه څومره غنم د خپلې شومې د پاره واخلي، په هغو کښې ټوله شومه ځنې ولاړه شي یعني د مُلا، پښ، سودخور، او دخان د کور غم او سړي غم په مد کښې یې ورکړي دي، مور، ماینه او ماشومان یې بې له څه دغې پاته شي، او دی پرېکړه وکړي چې ولاړ شي یوې تودې سیمې ته چې مزدوري وکړي او د خپلو ماشومانو د پاره د خپلې یوې (واهۍ) غوبیي حلال کړي چې مور، ماینه او ماشومان یې ژمی پرې تېر کړي تر څو دی بېرته وراستنیږي، له دې پس دی ولاړ شي په مزدورۍ پسې او هلته شپږ میاشتې مزدوري وکړي چې کله کورته راستنیږي نو ۴۲۸ افغانۍ یې ګټلې وي خورا خوشحاله کورته راروان شي. خو چې کله هم د کور په انګړ راننوځي. نو چې ویني لور او ماینه یې چغې کړي، دلته ورته څرګنده شي چې مور او هغه نور ماشومان یې په ژمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې لا د سکاروي له کبله مړۀ شوي دي، په دې مهال کښې بې د کلي ملک ور و غواړي او ورته وايي چې ستا د مور او ماشومانو کفنونه چې مې ورکړي وو او ورسره مې ستا د کور غم او سړي غم په بدله کښې ټولې ۲۴۲افغانۍ جوړېږي، ورکړي، او چې کومې پيسې نورې ورپسې پاته شي د هغو په مد کښې بې محکمې ته بوځي بندي بې کړي.

۲.د بزګرلور: په دې قيصه کښې يو بزګردی او يوه لور چې بختوره نومېږي تر اختر يوه ورځ له مخه د خپلو ښايستو کاليو، او د لاس سره کولو د پاره د نکريزو په ارمان او ورسره غواړي چې ښه غلمينه ډوډۍ بې پلار ورته راوړي، په خوشحالۍ سر ده خپله دريا(تنبل) وهي چې پلار بې راننوت، دا پورې و ننښته چې باباجانه! د خان د لور ډير ښايسته کالي (کپړې) ؤ چې خان ورته راوړي وو، او دوئ هر وخت ښۀ خوراکونه کوي، ته بې ولې ماته نۀ راوړې، هره ورځ قول کوې چې ښه غلمينه ډوډۍ به په راخورې، او ښايسته کالي به راوړې او نکريزي به راوړې، اوس دي يو شی هم نۀ دی راوړی سبا اختر دی، آيا زۀ پر تا نۀ يم ګرانه که څنګه؟.

پلار بې له غربوه ډک ستوني باندې ورته و وئيل زويه! هغه خو بې لري، پيسې لري، زۀ خوار غريب بې له کومه کړم؟.

دا ماشومه بيا پوښتنه کوي چې د هغۀ له کومې خوا دي، پلار ورته وايي چې هغو ته خدای ورکړې دي.

دلته دا ماشومه نورې پوښتنې کوي. خدای بې مونږ ته ولې نۀ راکوي، چرې دی خدای؟ راځه! مونږ به هم ورشو را به بې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې مهال کښې د خان ناظر راننوت، بزګر ته يې و وئيل، خدای مو خوار کړه تاسو بزګران خو د چا پور هم نۀ ادا کوئ، سلا بلا ورباندې لغتې وګرځوي او و يې وهی، ماشومه هم چغې وهې ژاړي، له څۀ وهلو پس ناظر ورته و وئيل چې که دې دا ماشومه لور نۀ وای نو ددې په خاطر خلاص يې، درځه اوس دستي خان ته په خپله در پېش شه.

چې کله يې را ولې نو ناظر دی بهر کښېنوي او خان ته ورشي ورته ووايي چې په دې پورې خو يو شی هم نۀ شته يو ښۀ شی پورې شته چې هغه د دۀ يو وړه لور ده او خورا ښکلې ده البته را لويه به شي. خان دستي ورته و وئيل ورشه مُلا را و غواړه. مُلا راشي او خورا نصيحت شروع کړي او ورته وائي چې د بل مسلمان پور اداکول شرعي عمل دی، بايد پور ادا کړې، خو بزګر ورته وايي چې زۀ هيڅ نۀ لرم څنګه وکړم، خان ورته په غصه و وائي زۀ خپل پور غواړم، خامخا يې غواړم اوس دستي پر دغه ځای يې غواړم. په دې منځ کښې خان ووځي...

دلته ناظر و بزګر ته خبرې پيل کړې چې خدای خوار کړې ته داسې وکړه د خان په پښو ور ولوېږه، خان زړۀ سواند انسان دی يوه ښه لاره به درسره وباسي، او نور که نۀ وي دغه لور دې ورکړه، ښه په نس به هم مړه وي او ښۀ پوښ به يې وي خورا خوشحاله به وي، زۀ او مُلا به کوشش وکړو چې خان در رضا کړو.

دلته د خان ميرزا هم راغلی او و بزګر ته يې ووئيل چې په تا باندې ټول پور ۳۵۰۰ افغانۍ دی.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بزګر پر له سوځي چې نۀ نۀ، دا کار نۀ شم کولای چې لور به و
بدبختۍ ته ورکوم او ټول عمر به يې په اور کښې سوځوم. څنګه بې
پر درو بنو ورکړم، او بل دا چې ما خو ټولې ۱۲۵۰ افغانۍ پور
وړی ؤ دا زياتې څنګه شوې، ناظر ورته وايي ولې دا ۱۴ مياشتې
چې دې وړې وې د هغو ګټه نۀ حسابې.

دلته مُلا او ناظر څۀ په نصيحتونو او زور باندې په بزګر باندې
د لور د ورکولو خط وکاږي او په زوره ورباندې ګوته د لاسليک په
توګه ولګوي. او دا ماشومه لور د خان په نامۀ او ملا خيل د خونې
يا نوکل دسمال ډک په شا کړي ولاړ شي، او په دې سهار چې اختر
هم دی بختوره، په ژړا راروانه کړي او ورته وايي چې د انا کره دې
بيايم. هلته به ښۀ کميس، او ښۀ خوراک درکړي. او بزګر له دې
وروسته بيا په يوه کنده کښې ځان واچوي، او دا معلومه شي چې
لور بختوره بې هم خورا په ظلم کښې شپې او ورځې تېروي، په دې
خاطر چې يوه ورځ به د دې ظلمونو بدل اخلي.

۳. زه او زما ورور: په دې قيصه کښې د دوو ورونو د ګډ ژوند
قيصه ده چې مشر ورور هر وخت د خپلې مشرۍ په لټه کښې وي او
وايي چې زۀ مشر يم پر کشر ورو باندې دا فرض دي چې د مشر
ورور ښۀ خاطر به کوي. او دا خبرې مور او پلار هم ورسره تايد
کوي او ورته وايي چې مشر ورور خو د پلار درجه لري، پکار دی
هره خبره يې څوک ومني.

په دې کښې وخت تيريږي مشرهيڅ کار يا خواري نۀ کاږي ټول
کار او ګټه کشر ورور کوي، که غنم کري، که منجاريتوب کوي او
که نورې نغدې پېسې ګټي دا ټول و[illegible]شر ته ورکوي. او ټول

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصارف يې د مشر په لاس او اختيار دی، خو وخت تېرېږي پلار او مور يې دواړه مړهٔ شي له هغه وروسته هم هغسې حالات وي، نو يوه ورځ کشر و مشر ته وايي چې لالاجانه! که ته هم دغسې خواري راسره وکاږې نو مونږ به ښې پيسې وګټو او ژوند به نور هم خوشحاله شي.

لالاجان ورته غصه کوي او وايي ته لا تر اوسه په مشر او کشر نهٔ يې پوه شوی، مشرانو کله خوارۍ کولې، کشر ورور هم ځان ملامت وګڼې، دا مې لکه چې بد کار وکړ آينده به يې نهٔ کوم.

خو له دې پس هم د مشر ورور هغسې رويه وي، بيا څهٔ وخت تېر شي کشر ورور د خلقو خبرې اورې چې مشر ورور يې په ښار کښې مځکه اخستې ده، او دهٔ بيا يوه ورځ ورته و وئيل چې ته پخپله مځکې اخلې، او بل دا چې ستا ماينه او بچيان ښهٔ په نس ماړهٔ او په تن پټ دي، خو زما بچيان داسې دي لکه د يتيم اولاد، نهٔ په نس ماړهٔ دي او نهٔ په تن پټ، و ماته وايې د کور مصرف زيات دی؟ مشر ورور يې شړک په چپلاخه ووهي او ورته وايي د مشرانو قدر دې لکه چې لا نهٔ دی زده کړی، کشر ورور بيا ځان ملامت و ګڼي.

خو څهٔ وخت وروسته مشر ورور يو ښهٔ موټر هم اخستی دی چې خپلو بچيانو ته هوا خوري په کښې ورکوي، دلته د کشر ورور يقين هم کېږي خو بيا هم خپلې پلټنې کوي، او په دې نتيجه رسېږي چې مشر ورور يې له هغو پيسو کومې چې کشر ورور ګټلې له هغو څخه بچت کړې دی په سود يې ورکړې دي اوس يې په هغو باندې، مځکه او سرای جوړ کړی، او موټر يې اخستی دی.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په داسې حال کښې کشر ورور پرېکړه وکړه ومشر ورور ته يې ورځ و وئيل چې تا خو ماته دوروغ وئيل، تا خو ټولې پيسې پرځای، مځکو او موټر باندې ورکړې دي، زۀ نور له تا سره نۀ اوسېږم وماته وېش را وکړه.

مشر ورور ورته وايي څه ورک شه، يو حساب دي نۀ شته ، يو مانيه او بچيان دي درسره بوځه نور هيڅ دي نۀ منم، خو کشر خامخا غواړي چې حساب وشي، خو په دې وخت بيا مشر خپل يو څو ياران را وغواړي خپل کشر ورور ښۀ په و ډبوي او بيا ورته وايي چې ارام کښېنه کنې نور دي نو و محکمې ته په لاس ورکوم چې بندي دي کړي. دلته ارام کښېنه د کورنۍ عزت مه خرابوه. دی دا پرېکړه کوي چې بس په هيڅ کار نۀ لري، له ورور جلا ژوند کوي خو ورور برخه ور نۀ کړه، خو دی له پرېکړې ډېر زيات مايوسه شو چې تر دې خو هغه جېل ښۀ ؤ چې تللی وای دلته خو د خلقو او ورور له پېغورو هم نۀ يم خلاص او ژوند مې خراب دی.

۴. د نوي کال خوب: په دې لنډه قيصه کښې ليکوال په خپله ګله دی او د خپلو هغه سپېڅليو ارمانونو په حقله د نوي کال څخه هيله لري او په خوب کښې د خپل هغه نفسياتي هيجان لري کوي، او خوب ويني چې داسې به نو څنګه وي چې زمونږ په وطن يا هېواد کښې، به د مطبوعاتو د چاپولو اجرت ورکول کېږي او په دې اړه به باقاعده يو قانون جوړيږي چې د هغۀ له مخې به هر څوک کولای شي چې په ازادانه توګه خپل نظر او دريځ د مجلو، اخبارونو، کتابونو له لارې څرګند کولای شي، او په دغه توګه د مثبت فکر خورونکيو ته يوه ښه موقعه په لاس ورتلای شي. او په دغه خوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې لیکوال پر مخ د اخبارونو له لارې، د هېواد پر سیاسي او ټولنیزو، سماجي او معاشي مسایلو په اړه خبرونه لولې دا خبرونه، د ناروا او رشوت خورو د سزا، د بودیجې، د پرمختیایي کارونو، د برق داسې نورو بنیادي اړتیاوو په حقله خپرونې نشر کېږي، خو په دې مهال کښې د دهٔ پرمخ یو څاڅکی د اوبو ننبلې او دی راویښ شي هغه د کوټې چت څڅېږي چې د هغهٔ څاڅکي له کبله راویښ شي. یعني ټوله قیصه د مطبوعاتو د ازادي تر لاسه کولو د پاره یو پېغام لري.

۵.دا دي خدمت: په دې قیصه کښې یو زلمی چې دېر غریب او در به دره دی په لڅو پښو سره غرمه ته سره ګرمي کښې خپل د غنمو لو کوي ولې چې غنم یې هم خپل او په خپله مځکه کرلي دي، خورا په همت او خوشحالۍ سره لوکوي، خورا نېستمن هم دی او ورور یې هم په ژمي لا مړ شوی دی.چې هغه د دولت د محصلاتو او نورو لارو چارو منډې تړړې هم د دهٔ پر غاړه دي، نو دی ځکه په اول سهار کښې د دولتي محصلاتو کارونه کوي او بیا ناوخته لو ته راځي.

د دهٔ په کلي کښې یو څو کسان بډایانِ هم شته چې د رشوتونو له لارې یا ګران خرڅولو له کبله ښې ډېرې نغدې روپۍ لري، ولې چې خپل ماموریتونه لري، دې بډایانو چې به د دهٔ او نور غریبانانو و لړمحنت ته وکتل نو نهٔ به یې شو ورباندې پېرزو او غوښتل به یې چې په یو چم له چمو پر دوئ دغه هم زهر کړي او دا مځکې ګروي ځنې واخلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا دهٔ نو راغلو کورته څخه له لو سترېی د بر زلمی دا چې ورځ یو
لور ایښی نهٔ وُ چې د خان یو کس ورباندې ږغ کړ چې خان بې دستي
غواړي.دی هم دستي ورغلی، خان ورته و وئیل چې د محلې مرکز
ګودام دار د څلورنیمو منه غنمو غوښتنه کول له پروسږ درباندې
پاته دي دا ور وړه. دی غریب هم پرېشانه سهار وختي بې هغه غنم
په شا کړل او درې څلور ورځې پس بېرته راغلو خپل لو بې پیل کړ.
ماښام چې له لو څخه کورته راغلو نو ماینې ژړل او ورته بې ووئیل
چې یو چړګ وُ هغه مو هم هغه کس ته باندې کړ. چې سړي ستا
جلب راوړی دی. او د اس د پاره اوربشې هم غواړي.

دهٔ چې دا خبره واوریده اعصاب بې خطا شول او چې را و ووت
که ګوري نو ملک سره ناست کس دی چې د دهٔ جلب بې راوړی دی.
دهٔ و وئیل چې هی لو چاته پرېږدم، ملک ورته و وئیل خیر دی ستاد
کور زېرمه به زهٔ کوم، او که مځکه په ګروي ورکوې نو ماته بې
راکړه، او ملک دستي له ۳۰۰۰ افغانۍ وراوړې او ورسره بې د
ګروي اقرارنامه هم په ولیکله د دې دپاره بې مُلا راوغوښت هغه
بې په ولیکله او دستخط بې کړه. او ملک ورته و وئیل دا خو د
دین،دولت خدمت دی پر مونږ وطنوالو ټولو باندې فرض دي. چې د
دهٔ د ولاړو. غنمو او آئینده کال حالت چاته بیا معلوم نهٔ شو او د دهٔ
هم خبر نهٔ شو معلوم چې څهٔ شو.

۲:موخي: په "موخي" نومې لنډه قیصه کښې د یوهٔ موخي قیصه
ده، د قیصې لندیز بې څهٔ داسې دی، موخي په بلزار کښې د سړک
پر یوه څنډه ناست دی او خلقو و پښو ته ګوري، چې یو څوک ورته
موچنې یا څپلې. وراوړي په وه بې ګنډي، په داسې حال کښې یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړی چې ښه درېشي يې کړې ده څو نور کسان هم په پسې دي.
راروان دي، په دوئ کښې يوه زغ کړل چې خان چې کومې موچڼې
ورته راوړي وې هغه به دغه موڅي ته راوړو چې ښهٔ تلي پر و وهي.
اداري ته ولاړ هلته يې يو سپاهي ته موچڼې ورکړې چې تلي پر
ووهي. موڅي هغو باندې ورته تلي و وهل، هغه کس مفتي ؤ چې
موچڼې يې ولیدلې خوند يې ور نهٔ کړ، سم دلاسه يې حکم وکړ چې
ورشئ دا خدای خوار کړی موڅي راولئ چې د دې جزا خو ورکړم،
سپاهي ورغلی سم دلاسه يې و واهه او رايې وست، موڅي ورته و
وئيل چې زما شيان پراته دي ورشه موچڼې راوړه، هغه کش کړ په
زور يې بوتلی، مفتي ته يې پېش کړ، مفتي سم دلاسه پوچ رد ورته
وئيل پيل کړل او ورته يې و وئيل زهٔ به د دې ايداد درکوم.
موڅي په ژړغوني زغ ورته و وئيل چې د دوو افغانيو دغومره
کار وي که دې نه وي خوښ زهٔ خپل تلي بېرته ځنې اړوم تاسو يې بل
کوم ښهٔ موڅي ته يوسئ، پر دې خبره مفتي نور په خښم شو، ورته
يې و وئيل زهٔ به د دې ايداد ورکړم. موڅي چې بېرته راغلو غواړي
خپل شيان راواخلي او کومې بلې څنډې ته ولاړ شي خو ددهٔ پر ځای
هلته څو طالبان ولاړ دي سم د لاسه يې وواههٔ او ښکنځل يې ورته
وکړه، خو موڅي هم ښکنځل پيل کړل، دوئ سم دلاسه مفتي ته
ورکش کړ، او مفتي قاضي ته ور پېش کړ، هلته يې دا عريضه
ورباندې وکړه چې د خولې او سر کفر يې ورته وئيلی دی،
او طالبانو د قاضي په مخ کښې ګواهي ورکړه هم دارنګه موڅي
۳۹ دُرې وهلو باندې سزا شي او ورسره يې پر خره سپروي په ټول
ښار کښې به يې مخ ورتوروي او ګرځوي به يې. له هغه وهلو يو څهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت پس هغه موخي مړ شو. او بیا به دکاندارنو او خلقو وئیل چې
دا د علماو ښېراوو داسې خوار کړ.

۷: د کور ګټه د لاهور ګټه: په دې قیصه کښې د یوه مالدار
زمیندار او د خان قیصه ده چې دوئ خورا ښۀ ډېر غنم اخستي دي
او خورا ډېرې پیسې لا هم ورسره دي او اوس غواړي چې دا پیسې
په کوم داسې کار کښې بندې کړي، نو د دې زمیندار سړي په کور
کښې ماینه او زویان بې دا پرېکړه کوي چې په ټولو پیسو غنم
واخلي او ګودامونه په ډک کړي، چې په پسرلي کښې بیا په ډېره
لوړه بیه خرڅیږي، هم دغسې کېږي او دوئ د خان په پیسو پسې هم
حال کوي چې هغه بې هم په غنم کښې بندوي او بیا په پسرلي کښې
بې په ښه لوړه بیه خرڅوي، هم دغسې وشي، چې کله پسرلی راشي
نو خلق له لوږې مري د دوئ د کورو مخته خلق په نارو چیغارو
بوخت وي غنم غواړي خو دوئ تر هغه غنم نۀ ورکوي چې نرخ پرې
کړي. دغسې نرخ په لوړه بیه پرې شي او دوئ غنم خورا په ښه بیه
خرڅول پیل کړي چې تر نیمي زیات غنم په لوړه بیه خرڅ کړي بیا
بې زویان هر یودځان دپاره د نوي ماډل موټران اخلي.دلته دا
زمیندار خپلې ماینې ته وایي چې رښتیا بې وئیلي دي: د کور ګټه
د لاهور ګټه ده.

په دې منځ کښې یو بل غریب زمیندار چې مجبور شوی دی پر
دوئ باندې خپله مځکه خرڅۀ کړي ولې چې دوئ مځکښې هم
ورسره بد وضعیت کړی ؤ خو هغه نۀ وه منلې اوس مجبور شوی
دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو چې کله بیا د پیسو وخت پوره شي نو ناظران پر خلقو ګرځي په خورا شدت سره له هغه پوروړو سره سلوک کوي کوم چا چې غنم په پور وړي ؤ. په دې کښې نیمی بندیان کړل شول، نیمو سترګې نهامې کړې.

خو یوهٔ زلمي و دې غریبانانو ته و وئیل چې په تېښته او جېلونو باندې دا ستونځې نهٔ حل کېږي مونږ باید سره یو متې شو تر څو دبدایانو خلاف څهٔ متحرک شو.

۸.زما برخه: په دې قیصه کښې د یوهٔ غریب سړي زوی چې د مني په پای کښې مري اود کلي سپین ږیري ورته وایي چې تېر کال چې هغه بل زوی مړ شوی ؤ نو هم اسقاط او خیرات دې نهٔ و کړ، نو اوس په کار دی ښهٔ خیرات اواسقاط باید وکړې، خو دهٔ چې هر څومره هڅه وکړه چې ځان له دې بچ کړي خوناکامه شو، اومجبور شواو ولاړ د کور د ځلې اوږهٔ یې خرڅ کړل اسقاط یې وکړ. خو اسقاط هم هغه څو کسانو مشرانو په خپل منځ کښې سره و وېشلو،بیا یوه ورځ یو بل کس چې په ښهٔ سړي شهرت لري پر برابر شو او ورته یې و وئیل زما د اسقاط برخه دې نهٔ د راکړې دهٔ هم سم دلاسه یو څهٔ پیسې له یو چا په سود واخیستلې او ور یې کړلې، خو د زوی له څلوېښتمې وروسته یې په کور کښې هیڅ نهٔ ؤ نو یو ورځ د خان کره دی او ماینه ورځې چې د هغه د ماینې تکري څاک وغوټه کوي د هغه په وسیله په سم نیمي زیات قیمت هغه ورته غنم په سلم ورکوي. که څهٔ هم هغه غنم د دوئ درې میاشتې ژمی نهٔ کېږي خو دی بیا په مزدوری. پسې نهٔ ځي د اوازه وه چې د کلي کاریز به کاږي، خو په دې ژمي کښې د دوئ قسمت ښهٔ په دې ؤ چې په ژمې

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوکمه بډایان په مرضونو اخته ؤ مړۀ شول د هغو په خیراتو او
سقاطو د دوئ ښه ګزاره کېده او ځان یې سلامت تر ژمي را و
یستلو.

په دې خیراتو کښې یو ورځ یوې ۹ کلنې نجلۍ د زړۀ له کومې
عا کوله،

خدایه دا نېستي ژر تر ژره له مونږه واخلې او مونږ په نس
ړۀ او په تن پټ کړې"(۵)

پلار بې و وئیل چې یقین دی د ماشومانو دعا قبلیږي ستاسو
په دې خواهش کښې په میلیونونه کوچنیان او ښوزلي درسره
ملګري دي او درسره آمین وایي.

۹.ځوړه جوړه شوه: په دې قیصه کښې د یو زلمی چې خمټ
نومېږي قیصه ده چې خورا غریب دی، دی او ماینه بې مشوره کوي
چې له پوروړو هم ځان نِهام کړي کوم بل کلي ته ولاړ شي چې هغه
کلي د ښو مځکو په نامۀ شهرت لري او د بزګره د پاره ښۀ کار په
کښې پیدا کیږي، په دې کښې خمټ له یو بل چا څخه خر د کال په
پور اخلي او قیمت به بې ورکوي، دوئ خپله کډه بار کړه دوه
ماشومان یو مایته او یو دی روانیږي په دې حال کښې یو پوروړی
وراځي، و هغه پوروړي ته په پور کښې هغه خونه ورکړي په کوم
کښې چې دوئ اوسېدل، دوئ چې کوم کلي ته ورځې په هغه
دبزګري ځای نۀ موندل کېږي. بیا دی او ماینه دواړه له خان سره
مزدوري پیل کوي، دی خورا ښۀ تکړه او د ښۀ وضعیت څوان دی له
مُلا سره په جماعت کښې سبق هم پیل کوي او خواري هم کوي، له
دې سره دی نور کتابونه هم وایي خورا ښه زدکړه کوي، خو د خرڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نۀ لرلو له وجې نور سبق نۀ شي وئيلای او په يوه اداره کښې کار پيل کوي، خو بيا يې په هغه هم سمه ګزاره نۀ کېږي او دا مشوره کوي چې بايد په کليو کښې ولاړ شي د يو بډاى سړي ماشومانو ته سبق وئيل شروع کړي، بيا يې هم داسې وکړل چې د يو بډاى ماشومانو ته د ۷۰ منو غنمو په بدله د کال د پاره ورته سبق وئيل پيل کړل، او دغه غنم يې موراو پلار ته هم و لېږل چې هغوئ په ټول عمر نۀ ؤ ليدلي.

په دې منځ کښې دى خورا ښۀ ژوند کوي او خوشحاله دى، د له هغه پخوانۍ ادارې څخه څۀ پيسې پښکي اخيستې وې يو څو باقي پاته وې، کلي ته يو ليك رالېږل شوى ؤ چې د هغې ادارې له خوا وو. هغه د کلي مُلا چې سم نۀ په پوهېدو، د هغه و مور ته يې وئيلې ؤ چې د نمبرې يې په پيسو ورته يادې کړې وې، او مُلا وئيل چې دا خو ټول کلى به خوار شي ولې چې دا خمتې خداى خوار کړى په اربونو قرض داره شوى دى، په ټول کلي نۀ ادا کولاى. دلته د خمتې مور ځاى پرځاى بې سوده شوه. کلى ټول پرېشانه دى او ځوره ده څوک کډې باروي او څوک څۀ کوي، خو په دې منځ کښې يو بل زلمى چې له مکتب څخه تازه فارغه شوى دى، هغه خبر شو نو مُلا ته ورغلى هغه ليك يې و کتلو چې په هغه کښې صرف ۱۵ افغانۍ پور ليکلى دى .دلته ټول کلى بېرته خوشحاله شو خېراتونه يې وکړل او تسلې يې وشوه.

۱۰ يو کُندرې اودرې ډوله خوارۀ: په دې قيصه کښې يو خوار غريب خو تکړه سړى دى، چې ټول کور يې اتۀ کسان دي له ماشومانو سره.مځکه يې لږ وه او انبارونه به يې په شا ور وړل لږ څۀ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بې برابرول خو د دې سړي لږ مځکه وه، د هغې مځکې د ابادولو
دپاره بې فیصله وکړه چې بادام په ولګوي او پنځو کلونو پورې
اوبهٔ پر اوړو ورو خېژوي تر څو بنهٔ وضعیت د ځان برابر کړي. په دې
توګه دی په دې کنبې بریالی شي چې د بادام باغ بې د فصل قابل
شي.

له دې وروسته په کلي کنبې خان صاحب او ملا صاحب غواړي
چې دا باغ پر یو چم له چمو ځنې تر لاسه کړي او دی دغسې پرېږدي
خو دی په هیڅ شکل دې ته نه دی تیار.

بیا یو ورځ پر دهٔ باندې عریضه کېږي او د پور تور ورباندې
لګېږي چې پور نهٔ ادا کوي او له مقرراتو سره سم محکمې ته جلب
کړل شي، خو هغه څوک چې دی بې جلب کړی و، هغه د دهٔ کره
مېلمه شي او دهٔ ورته د مېلمه په خاطر یو څهٔ غلمین اوړهٔ پوره کړل
ډوډی بې ورکړه. په ډوډی کنبې مانبام د مېلمه خواته غلمینه، د
خان وخواته جوارینه او ځانه بې اربشینه ډوډی کنبېنبودله.

له بده مرغه د مېلمه لاس اوربشیني ډوډی ته ورځې او مېلمه
په غصه شي چې درې ډوله خواړهٔ په یوه کوندري، په دې توګه د
مېلمه د قهر او جزا مورد هم وګرځېد. په دې توګه باندې د دهٔ خلاف
داسې دسیسه جوړه شي او دی مجبور کړي چې له باغه لاس
پرېمنځي، او دغسې د دهٔ باغ چې هغوئ ځنې واخلي او بیا بې تر
خانه پورې تړول سره وه وېشي. بزګر له ډېرې مجبورۍ دا کلی
پرېږدي او بلې خواته ولاړ شي، له ډېرې مودې ببرته خپل کلي ته
راشي ډېر سپینږیری شوی وي، او یوه لور او زوی بې پاته شوي
وي نور تړول مړهٔ شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دهٔ زوی پوه او لوستی زلمی وي او هغه دا هڅه کوي چې هغه کسان چې د دهٔ دپلار غوندې بې وسه کړل شوي او بې وزله کړل شوي وي، هغه سره را یو متې کړي او له هغو خلقو څخه بېرته خپل جایدادونه او کسات واخلي. خو دوئ ورپورې خاندي.

۱۱. څرنګه بدای شوم: دا قیصه د یوهٔ حاجي صاحب د ژوندقیصه، په هغه کښې د خپل غربت او بېوزلي ورځو ګپه کوي او ورته وایي چې زهٔ له کلي ولاړم له یوهٔ ټټار (پښن) سره مزدور شوم چې د ورځې ۴ افغانۍ مزدوري یې ورکوله، پر کلو به ګرځېدل او دا خواري به یې کوله خو یو ورځ کوم بل کلیوال ورباندې برابرېږي چې دا کار پرېږده درځه زمونږ یو کلیوال ښاغلی فلانی چې ستا ماما هم دی، لوئ مامور جوړ شوی دی چې ډېر کلیوالان یې پر ښو ښو ځایو باندې ځای کړي دي، درځه زمونږ به هم یو چاره وکړي. او له هغه مامور سره له ملاوېدو وروسته دی په ګمرک کښې مقرر شي، هم دغسې ښې پېسې په لاس ورشي او خورا په کښې بدای شي، ولې چې تنخوا ما سیوا هم پیسې ټولوي، بیا دغه پیسې په خپل یو کاروبار کښې بندې کړي، نو خورا ښه سرمایه داره شي.

یو ورځ نابېره د هغه شخصي مُلا صاحب ورته وایي چې خدای هم د دنیا لار در سمه کړه او هم ددین، خو سر له دې چې دا دومره سرمایه او پیسې لرم هم ناارامه یم او زما دا ناارامي د هغو بې وسه او اوپره خلقو له لاسه ده کوم چې په جېب کښې یو غران نهٔ لري او په مونږه را پسې وي. دوئ تل راته وایي تاسو دا ټول څهٔ په ناروا توګه له خلقو راټول کړي دي. خو مونږ ورته وایو، مونږ ته خدا:

(c) ketabton.com: The Digital Library



راکړې ده. اوس نو ته ووایه چې کومه ډله او طبقه ګرَمه ده؟ او حاجي صاحب هیڅ جواب نهٔ کړي ور او لمانځه ته ولاړ شي.

۱۲. د سمټ مور او پلار: په دې قیصه کښې هم د یو خوار او سټرې بزګر او دهغه د ماینې د ژوند او خواریو قیصه ده، او سمټ د دوئ ماشوم زوی دي، چې د دوئ د کور له مخه هر وخت سودخواره ناست وي پورونه او سودونه څنې غواړي خو دوئ خپله د بزګرۍ خواري کوي، په دې کښې دوئ په دواړو د خپلو غنمو لو کوي چې سمټ بې په یوه کوچنۍ سیاله (د سابې ځای) کښې ایښی وي او مور بې د غنمو وږي ټولوي او کله راشي چې سمټ ژاړي نو دا ورته خپلې شېدې ورکوي خو هغه د ډېرې ګرمۍ له وجې سمټ بېرته را قی وهي، په دې حالت باندې چې کله د سمټ پلار راشي و بې ویني ډېر غربو نیولی شي او تر برداشت بې وځې، خو د سمټ مور د سمټ و پلار ته تسلي ورکوي خدای مو دي له نورو بدبختیو ساتي، خدای به سمټ را لوئ کړي بیا به مو ماشومان هغوئ به خواري کاږي خدای به مو حالت بدل کړي، خو د سمټ ورته وایي چې زمونږ رنګه خلقود پاره ماشومان زېږول ښهٔ کار نهٔ دی. او ورته وایي تر دې بد تري نهٔ شته زما خو تر وس او برداشت وتلی دی دا حالت، ځو به له دې کلي به کومې بلي خواته مزدوري به کوو. دوئ خپل غنم واخیستل چې ټول ۲۲ منه غنم باقي ورپاته شي، دوئ هغه په مځکه کښې پټ کړي چې سودخواره بې نهٔ ووینې، خو په دې وخت چې یو سودخور دی خلق لري هغه ورباندې عریضه وکړي او دی محکمې ته څنې بوځي دلته د سمټ مور ورته وایي چې "دغه دې تر بد بتري".

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳. په پای کې بلهای شوم: دا قیصه د یوه غریب ځوان چې کرور
نومیږي د خوارۍ او بلهای توب قیصه ده. چې په خوارۍ او
مزدورۍ په سې په لځو پښودوه نیم سوه میله سفر کوي لوئ ښار ته
ځي هلته له یوه پښ سره په نس مزدوري کوي خو یوه ورځ بې هلته
لاس ماتیږي هغه پښ چې د یوه لوئ صاحب لاس ورباندې پروت
دی، دی پر سړک غورځوي بیا یو ځلمی راځي دا وایي، چې اې
خلقو تاسو وینئ چې زمونږ په خلقو چې د محنت له کبله یې دنیا
ښایسته وي د هغو انسانانو سره داسې وضعیت کېږي بیا یې
روغتون کښې لاس ځنې پرې کېږي، دی نور هم پریشانه شي چې په
دوه لاسه مې مزدوري نهٔ شوای کولای نو په یوهٔ لاس به څهٔ وکړم. یو
چا ورته و وئیل چې پر پښ باندې عریضه وکړې کېدای شي څهٔ
درکړي، خو تر دې له مخه دی پر پښ عریضه وکړي کرور بندي، خو
له بنده د خوشې کېدو پس د خپل کلي په لور روان شو په لارې یې
یو څو سرې څرې(د کېږې څخه وتلې تراډې)، تو کران سره راټول کړل
او یو ځای د لارې پر غاړه کښېناست ځان یې د زیارت ملنګ جوړ
کړ چې خلقو به یو غران یا لس انې ورغورځولې او دهٔ دا د یوهٔ
شهید قبر بللی او وئیل به یې دا د دهٔ خیالي ورنیکهٔ دی. په دې
توګه باندې په څهٔ وخت کښې دهٔ ډېرې پیسې وګټلې او خورا
ځایونه یې واخیستل او جوړ یې په کرایه یې هم ورکول خورا بډای
سړی شو.

۱۴. کله به وي یوه لیکنه اوکه لنډه قیصه: دا یو پارونکی
تحریر کېدای شي البته دې ته لنډه قیصه هیڅ کله نهٔ شو وئیلای
ولې چې نهٔ په کښې کردار شته، نهٔ په کښې پلاټ او نهٔ په کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



واقعه نګاري يا نور د لنډې قيصې لوازمات. البته دا يو د خوارانو، بې وزلانو، او مزدورانو د راپارولو د پاره ښه سیاسي مبارزه وزمه تحرير يا ليك دی چې په کښې د ټيټې طبقې د انسانانو د رايو متې کولو ښهٔ په زړهٔ پورې پيغام پټ دی. اودا ټول پيغام د ليکوال د سياسي مبارزې برخه کېدای شي. البته يوه ادبي ټوټه يا قيصه نهٔ ده. او دا دليکوال د ټيټې طبقې په استائيتوب يو لوئ ارمان دی.

دا ليکنه چې د بزګر لور نومې د قيصو ټولګه کښې د لنډې قيصې په نامهٔ چاپ شوې ده، خو صادق ژړک په دې اړه داسې ليکي:

"د تره کي صاحب د لنډو قيصو په مورد کښې يوه بله خبره دد يادولو وړ ده چې تېر کال په ۲۰۱۳م کي په روسيه کي د افغانانو فرهنګي ټولنې له خوا د "موڅي" په نامهٔ يو کتاب په پېښور کي چاپ شو، دغه کتاب د ښاغلي ډاکټر شبر حسن حسن په اهتمام چاپ شوي، په دې کتاب کښې ټولې ديارلس(۱۳) لنډې قيصې راوړل شوې دي چې ټولې "دبزګر لور" په کتاب کښې چاپ شوي دي او يوه لنډه قيصه "کله به وي" ليا په "موڅي" کتاب کښې کمه ده، يعني نهٔ ده په کښې چاپ شوې، ګنې د نومړي تر اوسه پورې زمونږ لاسونو ته څوارلس(۱۴) لنډې قيصې راغلې دي"(۶)

خو ددې په اړه يو بل ليکوال اسير منګل صاحب هم داسې څرګندوي:

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



"کله به وي، کي د افسانې نه زيات واعظانه رنګ ښکارې افسانه نګار غواړي چې د هغه ملک او وګړي د لوږې، ناپوهی او جبر نه وژغورلي شي"(۷)

يعني اسير منګل هم په شک کښې دی او ورته وعظ بې وئيلي دي.خو ما چې د خپلې پلټنې په لړ کښې دا قيصې لوستې او کتلې دي په دې قيصو کښې دا يوه ليکنه ده هم ورته قيصه وئيل شوې، خو دا قيصه نۀ بلکې يوه ليکنه ورته وئيلای شو، او دا چې په "موڅې" نومې کښې هم دغه يوه ليکنه "کله به وي، ، تر سرليك لاندې کومه چې په "دبزګرلور" نومې کښې د قيصې په نامۀ چاپ کړل شوې ده خو په "موڅې" کښې نۀ ده چاپ هم دا لامل به بې وي چې دا لنډه قيصه نۀ بلکې يوه ليکنه ده.

## ۴.۲: د افسانو پس منظر:

د نورمحمد تره کي ټولې لنډې قيصې چې تر اوسه چاپ شوې دي او زمونږ په لاسونو کښې دي، د ټولو پس منظرتقريباً يو شی دی او ټولې قيصې په يوۀ طبقاتي سماج کښې ليکلې شوې دي، او دطبقاتي توپير پر ضد په کښې د بډايان، رشوت خورو، سودخورو ،ملکان، ملايانو او خانانو د ناروا عمل په خلاف مبارزه شوې ده. او د يوه غيرطبقاتي سماج د جوړولو تبليغات په کښې شوي، له دې سره سره د خپل وطن او سيمې سماجي او ټولنيز ژوند په کښې په ډېره ښايسته او زړۀ راکښونکي انداز عکس شوی دی. مونږ کولی شو چې دلته د هري افسانې د پس منظر رابرسېره کولو

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پاره جلا جلا بحث وکړو او یو ځغلند نظر پر ټولو افسانو چې نورمحمد تره کي لیکلې واچوو.

"د غوایي لاندی" په دې لنډه قیصه یا افسانه کښې د یوه غریب سړي د ټول ژوندد محنت سیله چې په چل ول د سامراجي خلقو له خوا د بل د کور شومه جوړیږي او دا غریب له یو نفسیاتي کشمکش او سماجي بې انصافۍ سره مخ کیږي او مجبورکیږي د خپلو بچیانو او کورد وګړو د ګټې سیله د بل په نامۀ کوي، یعني په دې کښې مکمل د لاندینۍ طبقې د ځورولو پیغام پټ دی. دا قیصه یو سیاسي او طبقاتي پس منظر لري.

"دبزګرلور" په دې افسانه کښې چې کومه کیسه یا د کیسې مرکزي خیال عکاس شوی دی هغه د یوغریب او د یو شتمن سړي د ماشومانو د ارمانونو او خواهشاتو تر منځ واضح توپیر عکس کوي چې و ټولنه ته د یو نفسیاتي کشمکش ورکولو سبب ګرځي. دا پس منظر لیکوال دې ته مجبور کړی دی چې د خپل سماج داسې نفسیاتي او سماجي نیمګړتیاوي په هنري توګه د افسانې په شکل کښې تصویر کړي او د خپل ولس مخې ته یې کښېږدي. تر څو ولس ته په اسانه او ساده ژبه دسماجي او نفسیاتي توپیر زیانونه ور په ګوته کړي. او له داسې سماجي او نفسیاتي مسلو څخه خپل د سماج انسانان وژغوري او یو ولسي شعور ورته روښانه کړي.

"زه او زما ورور" دا قیصه یو مکمل د سماجي بې انصافۍ پس منظر لري خو ورسره طبقاتي توپیر په کښې نازله کیږي او د دې طبقاتي او روایتي توپیر له وجې لیکوال دې پس منظر مجبور کړی دی چې په هنري نثر کښې داسې موضوع خپله کړي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



"دنوي کال خوب" دا قیصه ټول یو سیاسي پس منظر لري او ورسره د یو انسان د سیاسي ارمانونود تر پایه رسولو او خواهش پس منظر خپلوي. چې داسي قیصې هم د سماجي او سیاسي توپیر د رابرسېره کولو په اند لیکل کېږي.

"دا دی خدمت" دا قیصه د سیاسي، سامراجي او طبقاتي کشمکش پس منظر لري، ولې داسې فکرونه چې یو انسان مجبور کوي چې د بل د پاره خپله خوله توی کړي او دی بې له څۀ لاس ترزنه کښېني د سامراجیت یو نړیواله فارموله کېدای شي چې انسان په سماج کښې د مجبوریانو ښکار کړي او خپله ناوړه ګټې تر لاسه کړې.

"موځي" دا قیصه د ریاستي منصبدارانو او د هغوئ د عدالتي نظام په پس منظر کښې لیکل شوې ده چې و ټول سماج ته خپل ناروا عمل روا څرګند کړی او دغسې ریاست د خپلو ناوړه کارونو د خوندي ساتلو هڅې کوي.

"د کورګټه د لاهور ګټه" په دې قیصه کښې یو سماجي محدود نفسیاتي پس منظر لري چې څوک د خپل ځان د تر حده محدود پاته کړي نور نو نه په سماج کار لري او نه په ریاستي پرېکړو خپل کار مخ په وړاندې بیایي.

"زما برخه" دا افسانه یو ښه پس منظر لري چې په ټولنه کښې د سودخورو کوم کاروبار وي، په دې کښې د سود ورکولو او سود اخیستلو د زیان پس منظر بیان شوی دی چې ګوا کي سود د سماج د پاره یو ناسور دی او و سماج ته د سود په ضد مبارزې یو پیغام پېش کړی دی.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوړه جوړه شوه" په دې قیصه کښې د ناپوهۍ او د ړندې
عقیدې پس منظر بیان شوی دی، یعنې په سماج کښې بغیر له
تحقیقه د یو چاخبره منل او پر هغه عمل کول زیان رسونکی عمل
کېدای شي پکار دی چې انسانان هر وخت د ژوند په حقله ویښ او
بیدار وي چې څوک یې په ناپوهۍ کښې غلط نه کړي.
"یو کندري اودرې ډوله خواړه" دا قیصه هم د انسانانو تر منځ د
حېثیت پس منظر لري چې د حېثیت توپیر راڅرګندوي او سماج ته
د داسي کولو زیانونه ور په ګوته وي، یعنې پکار دی انسانانو ته
په یو برابر حېثیت و کتل شي نه دیو بېل بېل حېثیت کوم چې له
انسان څخه د انسانیت عنصر لري کړي.
"څرنګه بډای شوم" دا دشتمن جوړېدلو د پاره یو خاص پس
منظر لري چې په هغه پس منظر کښې د جایز او ناجایز ګټې کولو
توپیر په کښې نه کېږي. یعني سماج ته داسي انسانان په ګوته کوي
چې په هغې کښې کوم انسانان د خپلې ګټې د پاره هر څهٔ کوي خو
انساني ظرف له منځه وړي او دا یو سامراجي دسیسه هم کېدای
شي چې په سماج کښې د ریاست له خوا داسي انسان تیارول کېږي.
"د سمڅ مور او پلار" دا قیصه هم د غربت، محنت، مزدورۍ
او د ژوند سره د کشمکش پس منظر لري، چې خواري یو انسان
وکاږي خو په پای کښې یې ګټه بل انسان ته ځي، داسي ماحول په
سماج کښې پېدا کول هم یو طبقاتي جنګ دي چې انسانان له
شعوري محنت او پوهنې راګرځوي او په خپل ځان یې اخته کوي او
تل د دوئ محنت بې نتیجې روان وي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



"په پای کښې بدای شوم" دا قیصه هم یو ریاستي غیرذمه وار حالت په پس منظر کښې لري چې یو انسان د خپل ژوند د ښه جوړولو د پاره محنت او مزدوري کوي خو په دې سترې ژوند کښې و دې ته آخر مجبور کړل شي او په ناجایزه او غلطه توګه د پیسو ګټلو پیل ګوي.

دا ټولې قیصې خپل پس منظر لري چې لیکوال د هغه پس منظر نتایج منفي یا مثبت ګڼلې وي او مجبور شوی وي چې د داسې پس منظرونو څرګندونه په خپل هنري نثر کښې وکړي. تر څو سماج او ټولنه په دې آګاه کړي چې په سماج کښې څهٔ روان دي او د کومو نفسیاتو لاندې روان دي او ولې روان دي.نورمحمدتره کي داسې پس منظرونه په سالمه توګه په هنر ښایسته کړي او یو ښکلي پېغام یې ټولنې ته ورکړی دی چې ټولنه ځنې برخمنه پاته شي.

## ۳.۴.موځي یوه افسانه که ناولېټ:

نورمحمد تره کي چې د پښتو ادب په افسانه لیکلو کښې یو وتلی لیکوال دی او د پښتوافسانه یې نوی تنقیدي ریالزم او ترقي پسندانه فکر سره اشنا کړې ده، د پښتو ادب د افسانې د دویم دور لومړی افسانه نګار دی. په افغانستان کښې لومړی د پښتو افسانه نګار دی.

نورمحمد تره کي خورا ډېرې قیصې لیکلې دي خو مونږ یې تر دې وخته صرف ۱۳ لنډې قیصې (افسانې) په لاس کښې په چاپي بڼه کښې لرو.په دې لنډو قیصو کښې یې یوه د "موځي" په نامهٔ هم لیکلې ده چې زمونږ ځنو محترمو نقادانو ورته ناول یا ناولېټ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وئیلي دي، زۀ غواړم چې دلته دا سپينه کړم چې آيا دا رښتيا هم يو ناول يا ناولېټ دی او که يوه افسانه ده.

د نورمحمد تره کي د " موځي" نومې لنډې قيصې په حقله ښاغلي حنيف خليل په خپل کتاب کښې دعوي کوي چې دا يو ناول يا ناولېټ دی .دی په دې اړه داسې ليکي:

"څلورم ناول بې د سنګسار په نامۀ يو کال پس چاپ شو. دې نه پس بې يو وړوکي ناول يا ناولېټ د "موځي" په نامۀ چاپ شو"(٨).

نۀ شم وئيلای چې حنيف خليل په کومه وجه دې ته ناول يا ناولېټ وئيلي دي، داسې ښکاري چې حنيف خليل دا قيصه په خپله لوستې نۀ وي بس هسې يو چا ورته وئيلي وي يا بې د سنګسارنومې ناول قيصه له دې سره ګډه کړې وي، ولې چې په "موځي" افسانه او "سنګسار" ناول دواړو کښې موځي کردار شتون لري ځکه په کښې تېروتي وي.

خو موځي چې په اصل کښې يوه افسانه ده، چې لنډيز بې مونږ په تيرو صفحو کښې بيان کړی دی.

د موځي افسانې د ثبوت د پاره به د افسانې نومونه هم را واخلو تاسو به بې ولولی چې آيا دا رښتيا هم افسانه ده که نۀ، لکه:

"زړ سپېره مخ د عمومي بازار د پليو لارې پر يوۀ لانده ځای لمر خريکې ته ناواومېنده غوندې ناست دی، هر څوک تېرېږي دی بې وار د واره پېښو ته ګوري چې ګوندې کېږي يا بوټونه بې خيرې وي چې دۀ ته بې د ګنډلو د پاره ورکړې، پر دوو تلو چې ځنګونونه بې د خولې ته رارسېدلي دي او خپله زنه بې د دواړو ځنګونو په منځ کښې اېښې ده، په دې چې نن سارۀ لږ ډېر دي خورا خوشحاله دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هره ګړۍ لمر ته په خورا مینه سترګې وراړوې خو پلوشې یې سترګې ور بریښنوي او بېرته یې پټې کړي په دې وخت کښې یو سپین کالي سړي چې خورا اوږد قمیص یې اغوستی دی او تکه سپینه پګړۍ یې پر سپینه رخچینه تړلې ده راغی، په دهٔ پسې څلور پینځهٔ کسه سپین کالي نور هم سته د موڅې حد ته چې راغلل نو سم دلاسه یې پښه ونیوله او یوه یې بل سړي ته مخ و رواړاوه او ورته وې ویل:

"لا....... خان چې وربښمیني کېږي (موچني) راته راوړي دې هغه باید دغه موڅې ته ورکړو چې ښهٔ تلي پر ووهي". ملګري یې ورته و وئیل: "ښهٔ دی". (۹)

دلته مونږ ته ښکاره شوه چې دا یوه مکمله لنډه قیصه ده، ولې چې، خیال، پلاټ، کردارونه او نتیجه یې ټول د یوې لنډې قیصې دي، او په کښې یوازې یوه قیصه تر پایه یوې نتیجې تللې ده، او په وئیلو کښې د لنډې قیصې په موده کښې وئیلې کېږي، او په یوهٔ وار وئیلو سره ختمیږي، او د لنډې قیصې په چوکاټ کښې لیکلې شوې ده.

کردارونه یې مختصر او لږ دي، جملې یې لنډې لنډې دي او مکالمه یې د لنډې قیصې ده. او په دغه اختصار باوجود یې پېغام ډېر واضحه او د لنډې قیصې په فن پسوللې ده.

خو ناولېټ بیا ځکه نهٔ شو ورته وئیلای چې:

۱. یو خو دا ټول خصوصیات یې د لنډې قیصې دي.

۲.ناولېټ تر ناول کوچني تر افسانه لوئ وي، یعني الفاظ، کردارونه، واقعات یې تر ناول لږ او تر افسانه زیات وي.

Scanned with CamScanner

۳. په ناولېټ کښې قيصه د ناول په شان پراخ چاپېريال لري خو افسانه لنډه تنګ چاپېريال لري.

۴. د ناولېټ منظرکشي ډېره ضروري ده خو په افسانه کښې د منظر کشي نۀ وي نو د لنډې قيصې حېثيت له لاسه نۀ ورکوي.

۵. ناولېټ که د ناول په برخه کښې شمېرل کېداى شي خو چې قيصه څۀ پوره وي او صرف د اختصار له وجې ورته ناولېټ وئيل شوي وي. خو لنډه قيصه په ناولېټ نۀ شي بدلېدې.

۶. د ناولېټ چوکاټ لږ پراخ وي او لنډه قيصه لکه څنګه چې له نامۀ بې څرګنده ده هم دغسې په واړه چوکاټ کښې ليکل کېږي.

کومو ليکوالانو چې و دې ته ناولېټ وئيلي دي، دهغه څۀ نور عوامل کېداى شي چې په لانديني توګه بې خدشه وي:

۱. چونکه د نورمحمد تره کي يو ناول چې د "سنګسار" په نامۀ چاپ شوى دى، ډېر مشهور ناول دى په هغه کښې هم د يوۀ موڅي (باباخان)او د هغه د زوى (شېر) قيصه ده چې په کښې ملايان او قاضي، مفتي او سرکاري ماسلان د دوئ په خلاف يوه دسيسه جوړوي او د هغې دسيسې له مخې موڅي پر دې مجبور کړل شي چې خپل زوى (شېر) پر دې مجبوره کړي چې د قران په غولتون کښې د غورځولو اقرار وکړي، او په داسې شکل آخر د موڅي زوى شېر سنګسار کړل شي. او د خلقو په ذهنو کښې داسې ور اچوي چې ګواکې دا دولت يو اسلامي دولت دى چې د اسلام پر شرعي توګه پرېکړې کوي او خلقو ته د اسلام خلاف د عمل سزا ورښکاره کوي. خو په اصل کښې دوئ د خپلو غلاوو او رسوتونو د مخنوي د پاره داسې کارونه کوي ولې چې (شېر) تر دې مخه د ماسل په توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار کړی ؤ او هرڅهٔ ورته معلوم وو، نو دوئ لکه د استخباراتو زور یو ملګری چې په اخر له مخه باسي.د ناول بېلګه:

"ګهیځ له معمول سره سم زوی او پلار وړورسته له لمانځه ځځه خپل – خپل شیان واخیستل او پر هغه پخواني ځای باندې کښېناستل، دوئ دواړه خپل لاسونه په تخرګ کي نیولې او کنجلک (غونج) پر دوو تلو ناست وو.

د شېر د پزې سر د سړو له لاسه سوربخون شوی ؤ.

شېر د پلار په اشاره نزدې سماوار چې ته ورغی او دوې چاینکي چای او یوه ډوډۍ یې ځنې راوړه یو چاینکه یې پلار ته او بله ځان ته کښېښودله.

لمر ښهٔ راوغوړېدهٔ او د دوئ دواړو هډوکي یې ورتاوده کړل،ځکه چې د حوت د میاشتې لمر خورا تودې او په زړهٔ پورې پلوشې لري، نو د خلقو فعالیت او تګ راتنګ هم وار په وار په واټ کښې پسې ډېرېږي.

په دې حال کي یو سپین کالی غوندې سړی د شېر د پلار تر مخ ودرېد او له هغه سره یې خبرې شروع کړې، شېر دا سړی ښهٔ پېژاند او حیران شو او چرت واخیست چې دا سړی زما له پلار سره څهٔ کار لري؟ او ولې ورسره ګونېږي؟ ځکه چې د هغهٔ خو خورا ښې روسۍ کلوښې په پښو دي او سپینې هزارګۍ جرابې یې چې پوندې یې په څرمن کښې نیولې شوې دي په پښو دي او دا خو ګنډل نهٔ غواړي"(۱۰).

۲. دلته په "موځي" نومې لنډه قیصه کښې هم د یوهٔ موځي د ژوند لنډه غوندې قیصه ده چې دا موځي د مفتي، قاضي، طالبانو

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ماسلانو له خوا په ناجایزه توګه په عدالت کښې محکمه کړي او
په سزا يې ورسوي او بيا هم له هغې څخه دی مړ شي، بيا خلق او
دکانداران دا خبره کوي چې دا د علماوو ښېراوو داسې انجام ته
ورساوۀ.

هغه څوک چې ورته ناولېټ يې وئيلی دی هغه ليکوالان يا خو
خطا شوي دي، او يا يې دغه "سنګسار" ناول او "موڅې" لنډه قيصه
ډېر وختي وئيلي دي او بيا يې قيصې ورځنې سره ګډې وډې شوې
وي. چې ورته ناولېټ يې وئيلي دي او يا کومه بلۀ سهوه ځنې شوې
وي. دا هم کېدای شي چې ډېرو ليکوالو د شفاهي روايت له کبله دا
تېروتنه شوې وي، ځکه چې دا دواړه ډېر وروسته چاپ ته راغلي
دي، په لومړي سر کښې د ليکوالو په تره کي باندې د ناول نګار
خيال کېدۀ. لکه عبد الکريم بريالي چې د نورمحمد تره کي وه دوو
لنډو قيصو ته ناول وئيلی دی، محترم عبد الکريم بريالی په خپله
يوه ليکنه کښې داسې ليکي:

"بزگر کی لڑکی، اور بیل کی لاندی، میں پلاٹ کی ساخت کو ہنر مندی کے ساتھ پیش کرکے حقیقی ربط کی مثال قایم کی ہے یہ ناول قسط وار شائع ہوئے ہیں"(۱۱).

ژباړه: (د بزګر لور او د غوايي لاندی، د پلاټ په جوړښت کښې
په هنرمندی سره پېش کړل شوي دي يو حقيقي ربط ورکول شوی
دی، دا ناول قسط وار چاپ شوی دی).

يعني دا خو ښکاره ده چې په دغه پورتنيو کښې يو بې تربيته
زوی نومې ناول دی لنډه قيصه نۀ او دا نور دوې د بزګر لور او د
غوايي لاندی، لنډې قيصې دي ناولونه نۀ دي خو بريالي صاحب
ګوره ولې ورته ناولونه وئيلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنبې دا خو اوس واضحه ده چې قیصه زمونږ مخ ته پرته ده چې دا یوه مکمله افسانه /لنډه قیصه ده.

په دې حقله حنیف خلیل په خپله بیا په خپل یو بل کتاب کښې وروسته ورته افسانه هم وئیلي دي، خو په هغه کښې یې د خپلې تېرې سهوې ذکر نهٔ دی کړی.

"افغانستان میں فکشن اور پشتو افسانہ پاکستانی افسانہ نگاروں کے بعد لکھا گیا ہے۔ افسانے کے کچھ ابتدائی نمونے نور محمد ترہ کی (افغانستان کے صابقہ صدر) کے ہاں ملتے ہیں۔ "موچی" کے نام سے ان کے افسانے کو طوالت کی وجہ سے ناول بھی سمجھا گیا لیکن اسکي ساخت افسانے کی ہے"(١٢).

ژباړه: (په افغانستان کښې فکشن او پښتو افسانه د پاکستاني افسانه نګارانو څخه پس لیکل شوی دی.د لنډې کیسې څهٔ اولنی نمونې د نورمحمد تره کي (د افغانستان پخواني صدر) په شکل کښې تر لاسه کېدای شي. د هغهٔ د "موچي" په نامهٔ لنډې کیسې ته د اوږدوالي له کبله ناول هم وئیل شوی دی. لاکن د دې جوړښت د لنډې کیسې دی).

که څهٔ هم حنیف خلیل صاحب دلته خپله پخوانۍ خبره رد کړې ده او بیرته یې نوموړې قیصه لنډه قیصه بللې ده خو بیا یې هم دخپلې هغې زړې خبرې چې و "موچي" نومې لنډه قیصه ته یې ناولټ یا ناول وئیلي وو اوس بیرته تکرار کړې ده او دلیل یې وئیلی دی چې د اوږدوالي له کبله و "موچي" ته ناول وئیل هم خیال شوی دی. خو تر کومه چې مونږ دا یاده لنډه قیصه لوستې او کتلې ده نو په دې کښې د اوږدوالي هیڅ اثر نه ښکاري بلکې مکمله د لنډې کیسې په چوکاټ کښې لیکلې شوې افسانه ده.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نتیجه: د دې لنډې غونډې بحث څخه مونږ په دې نتیجه رسېږو چې موخې په اصل کښې یوه لنډه قیصه ده خو ناولېټ یا ناول نه دی.

پیشنهاد: باید له دې وروسته په پښتو ادب کښې د نورمحمد تره کي دغه قیصه چې د "موخې" په نامۀ ده یوه مکمله افسانه وبلل شي بلکې ناول یا ناولېټ نۀ وبلل شي.

## ۴.۴: د افسانو موضوعات:

د نورمحمد تره کي د افسانو موضوعات هم ټول تقریباً سره یو شان دي او په ټولو افسانوکښې د بزګرانو،مزدورانو د خواریو اومحنت شاوخوا راګرځېدلي دي او ټولې بې د طبقاتي توپیر پر بنیاد د ظلم،جبر او حکومتي چارواکو له خوا ورباندې بې ځایه سزاګانو ورکولو په عکس العمل کښې لیکلی شوی دی، کوم چې هغه وخت د لیکوال د سترګو لیدلی حال معلومېږي او د هغه سماج بې په ښه توګه په کښې عکاسي کړې ده. دلته بې عنوانو څخه د موضوعاتو ښکارندویي کېږي چې پر کومو موضوعاتو لیکوال لنډې قیصې لیکلې دي هم هغسې قیصه بې هم ده.

"د غوايي لاندی" نومې افسانه یوه ښه موضوع ده چې په کښې د ټولنیز طبقاتې شعور خورولو او دتضاداتو واضحه عکاسي شوې ده.

"دبزګر لور" افسانه ده چې موضوع بې د سماجي توپیر یو آئینه داره قیصه ده او ښه مفکوره لري، چې دا هم د طبقاتي او سماجي شعور عکاسي کوي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



"زه او زما ورور" دا هم زمونږ د پښتني سماج د يو داسې اړخ آينه داره قيصه ده چې په کښې د استعماري ټولنيز شعور او "د نوي کال خوب" نومې افسانه کښې د رياست د جبر په خلاف قيصه ده په کوم رياست کښې چې پر ميډيا باندې بنديز وي چې ښه مفکوره لري.

"دا دی خدمت" په دې افسانه کښې هم د رياستي جبر په ضد پيغام موجود دی او ښه مزاحمتي مفکوره لري.

"موڅي" په دې افسانه کښې د عدالتي اختيار او هغه د رياستي جبر په مرسته استعمال کولو اظهار شوی دی. موضوع يې ښه موضوع ده.

"د کور ګټه د لاهور ګټه" دا قيصه د ذخيره اندوزۍ په ضد ليکلې شوې قيصه ده اود سماجي شعور خپرولو هڅه په کښې شوې ده.

"زما برخه" دا افسانه يو ښۀ موضوع لرې چې په کښې د سودخورو په ضد ليکل شوې دي.

"ځوړه جوړه شوه" په دې قيصه کښې د يو ملا د ناپوهۍ او د خلقو پر ملا باندې په ړنده عقيدې ښکارندويي شوې ده.چې دا ناپوهي د ټول کلي د پاره د پرېشانۍ سبب شي،

"يو کندري اودرې ډوله خواړه" په دې قيصه کښې د حبشيت د توپير عکاسي شوې ده او د لوئ زميندارانو د غريب زميندار په ضد ناوړه د قبضې خبره واضحه شوې ده.

"څرنګه بډاى شوم" په دې کښې د يوۀ غريب سړي د بډاى توب قيصه ده کوم چې بې دولتې منصب ناواړه استعمال کړي وي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



"د سمټ مور او پلار" دا هم د سودخورو په ضد معاملې په حقله قیصه شوې ده او ښه مفکوره لري.

"په پای کښې بلهای شوم" په دې قیصه کښې هم د یوۀ غریب قیصه ده چې په مزدوریو کښې یې لاس پرې کېږي او بیا په اخر کښې د یوۀ دروغجن زیارت جوړوي او پرهغه باندې ناست وي پیسې ټولوي.

## ۵.۴..د افسانو فني او تکنیکي اړخونه:

د نورمحمد تره کي ټولې لنډې قیصې د فن او تیکنیک له لارې په ټول پوره او د لنډو قیصو په قطار کښې د ښو پیاوړو قیصو په فن کښې راځي.

د نورمحمد تره کي د لنډو قیصو په حقله د پښتو سره سره نور د روسي ژبې لیکوالان هم ټول نقادان په دې اند دي چې نورمحمد تره کی پر لنډه قیصه ښه لاس بردی . یعني یو ښه لنډه قیصه لیکونکی لیکوال دي.

هره قیصه یې، مضبوط پلاټ، خوندوره، زړۀ راکښونکې قیصه، روانه او پسته ژبه، روان او ژوندي کردارونه، مفکوره، تصادم، منظر کشي لري او نور د لنډې قیصې ټول لوازمات یې په هره قیصه کښې په ډېرهنر او فن سره ځای په ځای کړې دي، او پوه قیصه لا هم داسې نۀ ده چې فني نیمګړتیاوې به لري. د دې دپاره مونږ کولای شو چې لنډې قیصې یې ولولو نو لا به راته ښه څرګنده

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي. او په دې اړه د بېلګې په توګه به يې د لنډو قيصو څخه د ليک نمونه رواخلو.

"نن دې لکه چې زړه رابانديې سوی دی او ډوډۍ دې را لنده کړې ده! "خو په دې حال کښې د دې د ژړا ږغ واورېد، دهٔ ورته و وئيل:

"خېر خو دی په څهٔ شي ژاړې؟"

دې ورته و وئيل:

"ولې به نهٔ ژاړي، خو لاس مو په خولهٔ شو ستا خو پچه ختلې ده، دا چرګ هم هغه چاته باندې دی چې ستا جلب يې راوړی دی ورسه! څهٔ اوربشي پېدا کړه اس يې شوم ولاړ دی او هر ګړی اصرار کوي چې ورته نيم من اوربشي ورکړو".

دهٔ چې دا وينا واورېده اعصاب يې بيدهٔ او مړهٔ شول او لور يې لاسه ولويد پوښتنه يې وکړه:

"جلب راوړونکی چېرته دی؟"

دې و وئيل:

"پربام باندې له ملک سره ناست دی؟

هلته چې وروخوت او تحقيق يې وکړ څرګنده شوه چې د دهٔ نوم د تعميراتو په انشا کښې راوتلی دی" (۱۳)

په دې پورتنۍ مکالمه کښې د قيصې فن او تيکنيک ډېر ښکاره دی چې څنګه دي او څومره د قيصې فني اړخ يې مضبوط کړی دی. د يوې بلې قيصې بېلګه به راواخلو چې لا واضحه شي:

"دسمتې مور مجبوره وه چې د لو په موسم کښې خپل په تي پورې هلک (سمتې) هم ورته له ځان سره يو سي ځکه چې دهٔ ته بايد هر دوه درې ساعته وروسته تی ورکړي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مځکه او اسمان به له ګرمۍ څخه اېشېدل او د تودوخي تاخون به هر ذي روح خورا متاثره کاوه،په همدې تواخون او په همدې تودوخي کښې د سمڅ مور به لګیا وه ورېي به بېې تولول،د دې پښې طبعاً لوڅې وې او ددې لپاره چې خپلې پښې د (وډ) له ازغیو څخه ترپوۀ حده وژغوري نو یو څۀ وانبۀ او ناړې به بېې پر پښو وپېچلې او بیا به بېې په خورا حرارت او تاودۀ زړۀ په ورو تولولو پیل وکړ.

سمڅ ته بېې په یوه وچه واله کي د ناړیو کوچنۍ ځاله جوړه کړې وه او په هغه کي به بېې بېداوه، په دغه ځاله کي د سمڅ له څنګه د اوبو کوچنۍ کوزه هم پرته دۀ. کوم وخت چې سمڅ وژاړي او یا بېې مور حسب عادت د پام کولو لپاره د دۀ ځالي ته رانژدې او دی ویښ پېدا کړي نو دۀ ته تی ورکوي"(۱۴)

## ۴.۲ د افسانه نګار په حېثیت پښتو ادب کښې د تره کي مقام

نورمحمد تره کی چې له ناول سره سره پر لنډه قیصه لیکلوباندې هم ښه لاس بر دی .یعني په پښتو ادب کښې د نوي جدید قیصه لیکلو روایت چې د نور محمد تره کي له لومړۍ قیصې لیکلو څخه پیل اخستی دی، یعني "د نوي کال خوب" تر سرلیك لاندې لنډه قیصه ولیکله، چې په کښې د جدید طبقاتي غوښتنو مطابق انځورګري شوې ده.دا قیصه په ۱۹۴۹م عیسوي کال کښې لیکلې شوې ده او د پښتو افسانې د دوېم دور لومړۍ قیصه هم ده.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته دوهم مونږ د پښتو افسانې د ادوارو وېش کووچې اسير منګل په خپل کتاب د پښتو افسانې سل کلن بهير کښې کړی دی د هغهٔ په مطابق نورمحمد تره کی د دوېمې دورې لومړی ليکوال حسابيږي، ولې چې دوېمه دوره له ۱۹۴۹م کال څخه پيليږي نو نورمحمد تره کي هم لومړۍ قيصه په هم دغه کال يعنې ۱۹۴۹م کښې ليکلې ده.اسير منګل د خپلې څېړنې له مخې د پښتو افسانې دورې هم جوړې کړې دي يعني د دهٔ له مخې د پښتو افسانې درې دورې دي.

" ۱۹۱۷ع نه تر ۱۹۴۸ع پورې" دوېم دور(کال ۱۹۴۹ع تر ۱۹۷۲ع) او درېم دور(۱۹۷۳ع نه تر ۲۰۱۲ع)" (۱۵)

په دې وخت کښې پښتو لنډه قيصه د لنډې قيصې د فن او هنر چادر اغوستی دی . يعني د نړيوال معيار ته د رسولو يو ښهٔ په زړهٔ پورې پيل شوی دی. چې ددې نوي او جديد فن سره د ورتګ کريډټ (ورتيا) بې د نورمحمد تره کي په سر ده. يعني دا ثابته خبره ده چې نور محمد تره کی د پښتو لنډې قيصې د دوېم دور لومړی جديد افسانه نګار دی. او دا اعزاز د نورمحمد تره کي په سر دی چې پښتو افسانه يې په لومړي وار له ترقي پسندانه سوچ سره اشنا کړه. اسيرمنګل په دې حقله داسې ليکي:

"افسانه نګار (نورمحمد تره کي) ترقي پسند ليکونکی دی د تيارو خلاف جنګ يې خپل هدف ګرځولی دی د ده هره لنډه قيصه د خواري کښود ستونځو نه تاويږي. ژبه يې پسته، روانه ده خپل مافي ضمير چې څنګه وړاندې کوي د هغه نه دا اندازه په ښه توګه

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لګي چې موصوف له د قيصې ليکلو چل ورځي په فني لحاظ د دۀ
لنډې قيصې ډيرې مضبوطې دي پلاټونه يې بشپړ دي، «(۱۲)
په دې حالاتو کښې په نړيواله کچه ترقي پسندانه افکار، په
نړۀ کښې د انقلابونورجحان د دوېم نړيوال جنګ څخه دنيا راوتلې
وه. نو ځکه دا رجحانات مخه په وړاندې روان وو.

نورمحمد تره کي د خپل افسانوي ليك له لارې د ترقي پسندۍ
او انقلابيت پرچار په ډېره هنري توګه تر سره کولو. او د افغانستان
د يوې لوئ شاهي امپراتورۍ په خلاف يې خپل قلم تاند ساتلی دی
په دې حقله يو بهرنی ليکوال د نورمحمد تره کي د لومړيتوب ذکر
داسي کوي:

"نورمحمد تره کی د لومړي ځل د پاره په افغاني ادبياتو کښې
د افغانستان د زيارکښې طبقې د ژوند، حقوقو او طبقاتې غوښتنو
په خاطر د هغوئ مبارزې ته انعکاس ورکړ"(۱۷)

په دې لړ کښې ملګرو اونور محمد تره کي چې په ۱۹۴۲م
عيسوي کال کښې د ادبي او سياسي نظرياتو د ترقي پسند
جوړولو د پاره د ويښ زلميانو غورځنګ بنياد ايښی دی، او دا د
افغانستان د هغه وخت د اديبانو، عالمانو او لوستونکو د هلو ځلو
يو روشنفکره تنظيم ؤ. او د هم دغه تنظيم له لارې په ادب کښې
ترقي پسندانه رجحانات د پښتو ادب برخه جوړ شول. او په دې
غړيو کښې هم لومړی نورمحمد تره کی ؤ چې د ترقي پسندانه
افکارو او نظرياتو پرچار به يې په خپلو افسانو او نور ليکنو کښې
کاوه او تر ډېره حده يې برياليتوب هم په برخه ؤ.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې نوي ترقي پسند سوچ د خورولو د پاره په پښتو ادب کښې يوې پراخې دنيا د ودانولو کوشش پيل شو چې په کښې ويښ زلميان په رښتيني توګه برياليتوب هم تر لاسه کړی دی، او هم دغه هلې ځلې بيا په ۱۹۲۵م عيسوي کال ۀ جنورۍ د مياشتې په لومړۍ نېټه باندې د خلق ډيموکراټيك ګوند افغانستان په شکل کښې نوي سياسي تحريك زېږوي. او دا تحريك بيا په ۲۷م اپرېل ۱۹۷۸م عيسوي کال کښې د يو انقلاب ته ځان ورسولو. نورمحمد تره کی په دې وخت کښې د پښتو ادب د افسانې په برخه کښې د افسانه نګار په حېث يو لوئ مقام تر لاسه کوي چې په لاندې توګه يې مونږ بيانولای شو.

نتيجه: د دې څېړنې په نتيجه يا پايله کښې مونږ دې نتيجې ته رسېږو چې د نورمحمد تره کي د افسانه نګار په حېث په پښتو ادب کښې د مقام تعين وکړو، د دې تعين په حقله مونږ په لاندينيو نقطو کښې داسې وئيلی شو:

۱. نورمحمد تره کی د پښتوافسانې د دوېم دور (کومې دورې چې اسير منګل تاکلې دي) لومړی افسانه نګار دی چې پښتو افسانه يې د ريالزم او جديد نړيوال معيار سره اشنا کړې ده.

۲. نورمحمد تره کی لومړی ترقي پسندافسانه نګار دی چې ترقي پسندۍ سره يې پښتو افسانه اشنا کړې ده، او پښتو افسانې ته يې يو نوی او ځانګړی سبک ورکړی دی چې دا سبک د نورمحمد تره کي سبک بللی شو.

۳. نورمحمد تره کی د پښتو لومړی افسانه نګار دی چې د افغاستان انقلابي جمهور رئيس جوړ شوی دی او يو طبقاتي

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



انقلاب يې په افغانستان کښې راوستلی دی او پښتو ادب ته يې په خپله رئيسي کښې زيات کار کړی دی.

۴. نورمحمد تره کی د پښتو لومړی افسانه نګار دی چې تعليم يې صرف تر لسم ټولګي پورې حاصل کړی دی، خو پښتو هنري نثر يې له نړيوال معيار سره اشنا کړی دی او دا اعزاز يې تر لاسه کړی دی چې د ښه هنري نثر ليکونکی ثابت شوی دی.

۵. نورمحمد تره کی لومړی افسانه نګار دی چې له پښتو افساني ليکلو سره سره يې په پښتو کښې ښهٔ ناول هم ليکلی دی.

6. نورمحمد تره کی لومړی افسانه نګار دی چې پښتو يې له يوې اسانې، فني افسانې سره اشنا کړې ده.

7. نورمحمد تره کی لومړی افسانه نګار دی چې په ډېره اسانه او ساده کليواله ژبه يې ښه افسانه ليکلې ده، او د خپلې سيمې او سماج يې په ښه توګه عکاسي کړې ده. او بنيادي مسئلو ته يې په افسانه کښې کتنه کړې ده.

8. نورمحمد تره کی لومړی افسانه نګار دی چې د پښتو افسانه يې له سنجيده موضوعاتو او حقيقت پسند ادب سره اشنا کړې ده.

9 . نورمحمد تره کی لومړی افسانه نګار دی چې درجعت په ضد يې ادبي مزاحمتي مبارزه هم کړې ده او پښتو افسانه يې له مزاحمتي ادب سره په مکمله توګه اشنا کړې ده.

10. نورمحمد تره کی په افغانستان (موجوده) کښې د پښتو لومړی معلوم افسانه نګار دی چې تر دهٔ وړاندې کوم بل چا افسانه نهٔ ده ليکلې.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱. نورمحمد تره کي ته دا افتخار حاصل دی چې دهٔ په پښتو ادب کښې په لومړي ځل پښتو افسانه په اسانه او سيمه ايزه ژبه کښې وليکله او د هم دې افسانې له لارې يې خپل نظريات تر عام اولسه ورسول چې په کښې تر ډېره حده بريالی شوی دی.

12. نورمحمد تره کی د پښتو لومړی افسانه نګار دی چې بهرنيو محققينو يې فن ته په تنقيدي نظر کتلي دي او د پښتو ادب په افسانه کښې يې بنسټګر کس بللی دی.

..............................

Scanned with CamScanner

# حوالې


۱. کېرس،ف،ک، پښتو هنري نثر، ژباړن:سرمحقق معتمد شینواري، یونائیټډ پرېس کوټه، دوېم چاپ، ۲۰۱۰، مخ۱۱۷

۲. ایضاً ، مخونه۱۱۸-۱۱۹

۳. تره کي، نورمحمد ، د بزګر لور، سمونه:صادق ژړک، یونایټډ پرېس-کوټه، لومړی چاپ،۲۰۱۰م ، پښتو ادبي غورځنګ کوټه،مخ ۳۴

۴ ایضاً ، مخ ۱۰

۵. ایضاً ، مخ۵۸

۶. ژړک، محمد صادق، د نورمحمد تره کي داستاني کلیات، پښتو ادبي غورځنګ، شالکوټ، فروري۲۰۱۴م،مخ ۱۴

۷. منګل، اسیر، د پښتو افسانې سل کلن بهیر،دانش خپرندویه ټولنه-پېښور، وړومبي چاپ اکتوبر۲۰۱۳م عیسوي، مخ ۷۰

۸.خلیل، حنیف، پښتو ناول (تحقیقي و تنقیدي جائزه)، ملت ایجوکېشنل پرنټرز لاهور، وړومبي چاپ جنوري ۲۰۰۰م عیسوي، مخ۶۹

۹. تره کي، نورمحمد ، دبزګر لور، سمونه:صادق ژړک،مخونه ۴۱-۴۲

۱۰.تره کي، نورمحمد ،سنګسار،خپرونکي، پښتوادبي غورځنګ کوټه،دوېم چاپ ۲۰۰۹م .مخونه ۲۵-۲۶

۱۱. بریالي، عبد الکریم، لیکنځی، پښتوناول نګاري کا ایک جائزه، پښتو اکېډمی کوټه- ۱۹۸۷-۸۸ عیسوي،مخ۵۳


(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲. خلیل، حنیف، پشتو زبان و ادب کي تاریخ ( ایک خاکه)، یونیورستي بکس پبلشرز، پشاور، ،اګست۲۰۰۹م.مخ ۲۹۹

۱۳.تره کي، نورمحمد ، دبزګر لور، سمونه:صادق ژړک مخونه ۳۹-۴۰

۱۴. ایضاً، مخ۸۴

۱۵.منګل، اسیر، د پښتو افسانې سل کلن بهیر، مخونه ۳۴،۴۷،۱۷۳

۱۶. ایضاً، مخ ۷۱

۱۷. ژړک، محمد صادق، د نورمحمد تره کي داستاني کلیات،مخ ۷۲۵

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پینځم باب: خلاصه او نتیجه

خلاصه: په دې څېړنه یا تحقیقي تهسیز کښې د نورمحمد تره کي د ادبي خدماتو په حقله تحقیق شوی دی او په خاصه توګه د نورمحمد تره کي په پښتو افسانوي ادب کښې د کردار په رابرسېره کولو باندې تحقیق شوی دی. چې د دې تحقیق له لارې مونږ په لاندینۍ نتیجه رسېږو او ورسره څو پېشنهادونه هم ورکوو:

۱. په لومړي باب کښې یې د نورمحمد تره کي د ژوند، روزګار، لږ څهٔ سیاسي او ورسره علمي خدماتو باندې تحقیق شوی دی او تر اوس مهاله چې کوم معلومات لرو هغه مو په کښې یو ځای کړي دي، او په دې نتیجه رسېدلي یو چې نور محمد تره کی د افغانستان لومړی ادبي شخصیت دی چې په سیاسي توګه هم تل سرګرم پاته شوی دی او د خپلې مبارزې پر بنا یې انقلاب هم کړی دی. لومړی ادبي شخصیت دی چې ادب یې له روشنفکرۍ او ریالزم سره سم دم اشنا کړی دی او ورسره یې "ادب دپاره دژوند" نظرېې یو رښتنی پلوی پاته شوی دی.

۲. په دې دوېم باب کښې د نورمحمد تره کي د نالونو موضوعاتي جاج اخیستل شوی دی، د نالونو تعاروف، په ناولونو کښې مقامي او سماجي خدوخال تر بحث لاندې راغلي دي، ورسره د ناولونو سیاسي پس منظر، په ناولونو کښې د سیاسي نظرېې جائزه، په ناولونو کښې طبقاتي نظریه، د ناول نګار په حېث په پښتو ا[illegible] کښې نورمحمد [illegible] کې مقام، تاکل شوی، او [illegible]

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سفارشتنه شوې ده چې نورمحمد تره کی د افغانستان او پښتو ادب لومړي ناول نګار دی، یعني د پښتو ناول بنسټګر نورمحمد تره کی دی . او ورسره لومړی طبعزاد ناول هم د نورمحمد تره کي "بې تربیته زوی" نومې ناول دی. او ټول ناولونه یې د ژوند دپاره یو رښتني مقصدیت لري یعني د افغاني ژوند کړه وړه،سماجي او سیاسي اړخ، معاشي بې انصافي، او ورسره یې ادبي فن اوهنر هم په نظر کښې نیولي دي.

۳.په دریم باب کښې د نورمحمد تره کي د ناولونو فني او تیکنیکي اړخ ته په مکمله توګه کتنه شوې ده چې د هر ناول یې په ځانګړې توګه د ناول فني لوازماتو باندې بحث شوی دی. او په دې نتیجه رسېدلي یو چې د نورمحمد تره کي ټول ناولونه په فني حقله مکمل دي او هیڅ کمی په کښې نهٔ شته، په هر ناول کښې د ټولو فني لوازماتو پوره پوره خیال ساتل شوی دی، او ناول نګار په شعوري توګه باندې یو ښهٔ ناول نګار ځان ثابت کړی دی. یعني د نورمحمد تره کي د نالونو پر پلاټ، قیصه، سسپېنس، واقعه نګاري، منظر کشي، ډکشن، کلائمېکس، فلسفه حیات، تصادم باندې په ځانګړې توګه بحث شوی دی. چې د فن او هنر له پلوه یې ناولونه مکمل دي بلکې فنې ځانګړتیاوې لري، چې دا دنورمحمد تره کي د ناول لیکلو یو ځانګړی ستایل (سبک) ورته وئیلای شو. ولې چې کوم څوک د نورمحمد تره کي یو ناول بغیر له نوم څخه وایي او دا پته ورته نه وي چې دا ناول د چا دی او چا لیکلی دی نو هغه چې کله هم ناول مکمل تر پایه و وایي نو ارو مرو به دا خبره کوي چې د نورمحمد تره کي د سبک ناول کېدای شي.د دې مطلب

(c) ketabton.com: The Digital Library



را شو چې نورمحمد تره کي ځان ته په ناول کښې سبک اختيار
کړی دی.

۴. په څلورم باب کښې د نورمحمد تره کي د افسانو
موضوعات، تعارف، فن او ټېکنيک، او افسانه نګار په حېث د دهٔ
په پښتو ادب کښې مقام باندې سير حاصل بحث شوی دی او
ورسره د موځي افسانې پر صنفي حېثيت باندې بحث شوی دی چې
نتيجه يې داسې ده.

نورمحمد تره کي د پښتو ادب د قيصې د دوېم دور لومړی
افسانه نګار دی چې پښتو افسانه يې له جديد ضروورياتو سره اشنا
کړه، او يو رياليستک تنقيدي طرز يې په کښې خپل کړی دی، چې
تر دې وړاندې په پښتو افسانه کښې نهٔ ليدل کېږي. او پښتو
افسانه ته يې يو نړيوال معيار ورپه برخه کړی دی. او ورسره يې
پښتو فکشن له جديد ترقي پسند نظرياتو سره اشنا کړی دی، چې
دغه طرز يې د "ادب د پاره د ژوند" واضحه عکاسي کوي.

په هم دغه باب کښې مونږ د "موځي" نومې افسانه يوه مکمله
افسانه ثابته کړې ده چې تر دې وړاندې ځينو ليکوالانو ورته ناول
يا ناولېټ وئيلی ؤ. خو له دې وروسته بايد دا يوه مکمله افسانه و
بلل شي.

په دغه باب کښې يو بل بحث هم شوی دی چې "د کله به وي،"
نومې ليکنه تر دې وړاندې په "بزګر لور" نومې کتاب کښې د
افسانې په نامهٔ چاپ شوې ده. د دې تحقيق په رڼا کښې دا يوه
ليکنه يا تحرير ثابت شوی دی چې د يو سياسي هدف د ارمان
عکاسي کوي او غوښتنه کوي چې داسې بايد وشي، خو افسانه نهٔ.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دا سفارش شوی دی باید دې ته یوه لیکنه و وئیل شي، خو افسانه هیڅ کله نهٔ.

د دې تحقیق په رڼا کښې چې کومې نوې څېړنې مخته راغلې دي او نتیجه یې ورکړې ده، د دې ټول تحقیق سفارښتنه باید وکړل شي اودا په پښتوادب کښې یو مستند تحقیق و ګرځول شي تر څو نوې خبره مخته راځي.

پای

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کتابیات


۱.احمد ، رشید ، پښتو ناول (سل کاله)، ضیاء سنز پرنټرز پېښور، وړمبي چاپ،۲۰۱۵م کال

۲. اخګر، بشیر، (علمي، سیاسي او ادبي ژوند): سورګل فرهنګي کلتوري ټولنه، کال۲۰۱۱م

۳. اعظم، محمد اعظم، پښتو ادب کښې کردار نګاري ، پښتو اکېډمي پېښور، لومړی چاپ کال۱۹۹۳

۴. انځور، زرین، د پښتو معاصر داستاني ادبیاتو تاریخي کتنه ، دانش خپرندویه ټولنه، کال ۱۳۹۳هـ ش (۲۰۱۴)

۵. بخرکی، محمد علم، وینې زلمیان (د افغانستان یو سیاسي تحریک)، افغاني کلتوري ټولنه، نیدرلېنډ، دویم چاپ کال ۲۰۰۰م عیسوي

۶.پاشا ، احمد شجاع، افغانستان (ایک قوم کا المیه) ، سنګ میل پبلیکېشنز، لاهورسال۱۹۸۹

۷.تره کی، نور محمد، څړه، د ښوونې او روزنې مطبوعه، افغانستان، کال ۱۳۵۷هج

۸. تره کی، نور محمد، د بزګر لور، سمونه صادق ژړک، یونایټډ پریس-کوټه، لومړی، چاپ، ۲۰۱۰م کال

۹. تره کی، نورمحمد، د بنګ مسافري ، د ښوونې اوروزنې مطبوعه، افغانستان، کال ۱۳۵۷هـ

۱۰.تره کی، نور محمد، سپین ، د ښوونې اوروزنې مطبوعه، افغانستان،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال ۱۳۵۷هش
۱۱. تره کی، نور محمد، سنګسار ، خپرونکی، پښتوادبي غورځنګ کوټه، دوهم چاپ ۲۰۰۹م کال
۱۲. خلیل، حنیف، پښتوناول (تحقیقي و تنقیدي جائزه)، ملت ایجوکېشنل پرنټرز لاهور، وړومبي چاپ جنوري ۲۰۰۰م کال عیسوي
۱۳. خلیل، حنیف، پشتو زبان و ادب کي تاریخ( ایک خاکه) یونیورسټي بکس
پبلشرز، پشاور، کال،اګست۲۰۰۹م
۱۴. د تره کي لنډه بیوګرافي، د افغانستان د علومو اکاډمی، کال۱۳۵۷هش
۱۵. دکارګرې طبقې ګوند، سورګل ،کال ۱۳۵۰هجري
۱۶. رفیع، حبیب الله، پښتو پانګه ، پښتو ټولنه،کال ۱۳۵۲هـ ش
۱۷. ریان، بشیر احمد، د افغاني باچاهانو لنډ ژوند لیک، صدیقي خپرندویه ټولنه،کال ۱۳۸۷هجري
۱۸. ژړک، محمد صادق، د نورمحمد تره کي داستاني کلیات، ترتیب صادق ژړک، پښتو ادبي غورځنګ، شالکوټ، فروري۲۰۱۴م
۱۹. ژړک، محمد صادق، بې تربیته زوی، نور محمد تره کي، پښتو ادبي غورځنګ کوټه،۲۰۱۲م کال
۲۰. سیدي، نظیم سید، ناول به څنګه لیکو: څېړنیار، مومند خپرندویه ټولنه-جلال آباد، دوهم چاپ کال ۱۳۹۱المریز

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۱.ک ، ف، ګېرس، لیکوال، ژباړن: سرمحقق معتمد شینواري، یونائیټډ پرېس کوټه، دویم چاپ ،کال۲۰۱۰م
۲۲. منګل، اسیر، د پښتو افسانه سل کلن بهیر ، دانش خپرندویه ټولنه- پېښور، وړومبي چاپ کال اکتوبر۲۰۱۳م عیسوي
۲۳.مارکس، کارل، او اېنګلز، کمیونسټ مېني فیسټو، ۱۸۴۷عیسوي
۲۴. ماما ، عزیز الله، پښتو مترقي ادب په لویه پښتونخوا کښې ، هیواد کتابتون، کوټه،کال مئ۲۰۱۲م

رسایل / مجلې : MAGAZINES / PAPAERS

۱. لیکني /لیکنځي، پښتو ناول نګاري کا ایک جائزه، پښتو اکېډمئ کوټه،کال ۱۹۸۷-۸۸ عیسوي

ویبپاڼې : WEBSITES

http://www.taraki.org/life/.www.tarakaifoundation.com
http://publishing.cdlib.org/ucpressebooks/view?docId=ft7b69p12h&chunk.id=s1.17.26&toc.depth=100&brand=ucpress

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادی = 16.09.10

برای یادداشت

Scanned with CamScanner

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**